د افغانستان د خپلواکۍ بېرته اخیستلو د سلم کال په ویاړ

# په افغانستان کې توپان

لیکواله: آندرې ویولیس
ژباړه: نجیب منلی

بسم الله الرحمن الرحيم

د افغانستان د خپلواکۍ بېرته اخيستلو د سلم کال په وياړ

## د کتاب ځانګړنې:


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | په افغانستان کې توپان |
| ليکواله: | آندري ويوليس |
| ژباړه: | نجيب منلی |
| د چاپ کال: | ۱۳۹۸ هـ ش |

# یادښت

دا کتاب د افغانستان د خپلواکۍ د سلم کال په ویاړ چاپ شوی دی. په همدې مناسبت د جلالتمآب جمهور رییس محمد اشرف غني له هدایت سره سم د ګڼو نورو چارو تر څنګ یو زیات شمیر کتابونه هم لیکل شوي، ژباړل شوي او خپاره شوي دي.

شاه امان الله او د استقلال د تر لاسه کولو په مبارزه کې د هغه نورو ملګرو ارزو لرله چې افغانستان په واقعي معنا مستقل او د پردو له منګولو راوتلی هیواد وي. دوی دغه سپېڅلي هدف ته د رسېدو لپاره د هیواد ترقي ته توجه واړوله.

په اماني دوره کې غلامي منع شوه. په مرکز او ولایتونو کې ګڼ ښوونځي پرانیستل شول.خارجي هیوادونو ته محصلان واستول شول چې ځوانان نوي علوم او مهارتونه زده کړي. د مطبوعاتو وده چټکه شوه. د وګړو تر منځ د مساوات د اصل رعایت قانوني بڼه خپله کړه. نجونو او ښځو د زده کړې حق تر لاسه کړ. هیواد په لومړي ځل د اساسي قانون څښتن شو. د دولت د درې ګونو قواوو عصري کولو او سره بېلولو ته توجه واوښته چې د استبداد په مخنیوي کې اساسي مرسته وشي. ګڼ شمېر قوانین او مقررات تدوین شول چې د هر چا د صلاحیت حدود معلوم وي او په دولتي چارو کې د خودسري مخه ونیول شي. مالیاتي سیستم عصري شو، د جنسي مالیې ځای نقدي مالیې ونیو. له مختلفو هیوادونو سره سیاسي روابط ټینګ شول او افغانستان له هغې انزوا راووت چې د هیواد د خپلواکۍ مخالفانو وربانديې

تحمیل کړې وه. د اقتصاد د ودې لپاره مهم اقدامات پیل شول. افغانستان ورو ورو په یو داسې هیواد بدلېده چې د پردو له احتیاجه راوتلی وي. اوس موږ ته لازمه ده چې د وطن د ترقي لپاره شوی مزل جاري وساتو او د ناتمام فصل بشپړولو ته متې راونغاړو.

د خپلواکۍ د سلم کال په مناسبت د استقلال د پاکو شهیدانو، غازیانو او مخکښانو د روح د خوشحالولو یوه ډېره ښه ذریعه همدا د کتابونو خپرول او د معرفت د مشالونو بلول بللای شو. له ټولو هغو لیکوالو مننه کوو چې په دې بختور مناسبت یې د کتابونو په لیکلو، ژباړلو او چاپ ته چمتو کولو کې برخه واخیسته. په اوسنۍ پرمختللې زمانه کې د استقلال د ساتلو او د واقعي خپلواکۍ د لرلو لپاره پکار ده چې پوهه خپره شي، فرهنگ وغوړېږي، مهارتونه زیات شي او وگړي د ښه ژوند کولو په چل پوه شي. شاه امان الله د لوی اختر په مناسبت یوه وینا کې ویلي وو چې: «دا د قلم ورځې دي، نه د توري.» د کتابونو د دې لړۍ خپرول د لیکوالو د ملاتړ او د هغوی د آثارو د چاپ یو بختور باب دی چې ادامه به مومي.

په درنښت
اسدالله غضنفر
د جمهور رییس فرهنگي سلاکار
کابل/۱۳۹۸

# فهرست


| | |
|---|---|
| د سر خبرې | ٥ |
| **لومړی فصل:** د جنګ ځپلي افغانستان پر لور | ٧ |
| **دويم فصل:** الوتکه کې، له تاشکنده تر ترمزه | ١٨ |
| **دريم فصل:** له ترمزه تر کابله | ٢٨ |
| **څلورم فصل:** د فرانسې د سفارت لوټېدل | ٣٨ |
| **پينځم فصل:** د فرانسې د سفارت د کلابندۍ څلور ورځې | ٤٥ |
| **شپږم فصل:** د کلابندۍ وروستي جريانات | ٥٣ |
| **اوم فصل:** اروپايي سفارتونه او د هغوی بدې ماجراوې | ٦١ |
| **اتم فصل:** د فاتح جنرال شاه‌ولي خان سره مرکه | ٧١ |
| **نهم فصل:** نادرخان د قبايلو له خوا پاچا شو | ٨٠ |
| **لسم فصل:** نادرخان په جومات کې خبرې کولې | ٨٧ |
| **يوولسم فصل:** د افغانستان د تاريخ په اړه څو ټکي | ٩٥ |
| **دولسم فصل:** هغه څه چې امان‌الله يې تباه کړ | ١٠٢ |
| **ديارلسم فصل:** د سقاو د زوی حيرانوونکې ماجرا | ١١٦ |
| **څوارلسم فصل:** د حبيب‌الله پاچاهي څه وه؟ | ١٢٤ |
| **پينځلسم فصل:** د افغانستان له پاچا نادرخان سره مرکه | ١٣٤ |
| **شپاړسم فصل:** د حبيب‌الله بده خاتمه | ١٤١ |
| **اوه لسم فصل:** د افغانستان راتلونکی | ١٥١ |

# د سر خبرې

آنـدرې فرانسـواز کرولیـن ژکـې (Andrée Françoise Caroline Jacquet) چې په آنـدرې ویولس (Andrée Viollis) مشـهوره ده یوه فرانسـوۍ ژورنالسـته او لیکواله ده. پـه ۱۸۷۰ کـې زېږېدلې او پـه ۱۹۵۰ کې مړه شـوې ده.

پـه فرانسـه او انګلسـتان کې یـې زده‌کړې کړې دي او د ادبیاتو تر لیسـانس وروسـته یـې ژورنالیـزم تـه مخـه کړه. لومړی یـې په یوه فیمینیسـتي پاڼه کـې په کار پیـل وکړ، له نظریـاتي او څېړنیـز ژورنالیزم سره اشـنا شـوه. پـه ۱۹۱۴ کې د «کوچنـي پاریسي» (Le Petit Parisien) همکاره شـوه او له لوی راپورتاژ سره اشـنا شـوه. په بېلابېلو برخو کې یـې کار وکړ؛ لکه سـپورت، مهمې محاکمې، سـیاسي مصاحبې او د جنـګ ژورنالیزم.

پـه ۱۹۲۹ کـې، هغـه مهال چې د سـقاو د زوی حکومت د سـقوط سره مخ کېده، کابـل تـه راغلـه. دا کتـاب یـې د کابل د سـفر ګـزارش دی چې د افغانسـتان د تاریخ د یـوې خاصـې دورې د لومـړي لاس مالومات په کـې راغلي دي.

د لیکوالـې نـثر د ژورنالیسـتیک راپورتـاژ او نـاول تر منځـه دی. واقعیتونـه په دقیق ډول را اخـلي خـو جملـې یـې کلـه کله د شـاعرانه والي پر لـور هم ځي. لـه طنز څخه هم ډېه نـه کوي.

پـه پښـتو ژبـاړه کې هڅه شـوې چې تـر یو حـده د لیکوالـې خوزنـده، شرنګېدلی سـبک وسـاتل شي. ځینـې ټکـي پـه کې داسـې هم دي چې یا دفرانسـې لـه تاریخ او فرهنـګ سره تـړلي دي او یـا د لیکوالـې لـه خـوا لفظـي تېروتنـې دي. د دې مـواردو له پـاره، د ژبـاړې پر مهـال، د پاڼـې لاندې یادښـتونه اضافه شـوي دي.

نجیب منلی


UNION DES RÉPUBLIQUES SOVIÉTISTES SOCTES
KARA-KALPAKS
Tachkent
KIRGHIZES
Syr Daria
Kokand
Andidjan
UZBEKS
Khodjent
MONTS ALAI
Boukhara
Samarcande
Amou-Daria
TADJIKS
PAMIR
TURKMENES
Merv
Termes
Balkh
Tach-Kourgan
Mazar-i-Chérif
HINDOU-KOUCH
KOHISTAN
Meïmené
Zulfikar
Bamian
KABOUL
Djelalabad
Kouchk
Passe de Khyber
Heri-roud
Dakka
P. Peiyo
Pechawar
Gardez
Hérat
Ghazni
Rawalpindi
PERSE
AFGHANISTAN
Passe de Gomal
L. Abistada
INDE
Girichk
Farah
Kandahar
Passe Khodjak
Chaman
Hilmend
SEISTAN
Quetta
Indus
Kelat
0 100 200 300 Km.
BALOUTCHISTAN

# لومړی فصل

## د جنګ ځپلي افغانستان پر لور

د افغانستان نړۍوال اهمیت - د امان‌الله له سقوط وروسته هلته څه تېرېږي؟ - په مسکو کې د سفر تیاري نیول کېږي – په پینځو ورځو کې د شوروي اتحاد له پلازمېنې د پریمانۍ تر ښار، تاشکند، پورې – د افغانستان د قونسلګرۍ ډاروونکې وراندوینې

په څو میاشتو کې په افغانستان کې یوه نالیدلې ماجرا تېره شوه، یوه فوق العاده ماجرا چې پرمختګ او وحشت، د منځنیو پېړیو تعصب او د نوي عصر روحیه سره په کې په شدت ټکر کې راغلل. د دې ماجرا لوړې ژورې کله فاجعه، کله مسخره؛ کله خونړۍ، کله خندنۍ وې چې هم د یوزر او یوې شپو داستانونه د چا فکر ته راولي او هم مسخره بازار. خو نړۍوالو ته یې انګازه کدرې هم رسېدلې ده؟

افغانستان. هغه ماشوم چې د اسیا نقشه یې مخ ته پرته ده او په دې ګرد هېواد - چې د یو غمي په څېر لګېدلی، لوېدیځ ته یې پارس، سوېل ته یې بلوچستان، جنوب ته یې د برتانیا د امپراتورۍ د غاړې ګل هندوستان پروت دی - خپله ګوته ږدي، آیا پوهېږي چې دې کوچني هېواد څومره ستر نقش لوبولی او لا یې لوبوي؟ دا هېواد دومره کوچنی هم نه دی. ۷۲۰۰۰۰ مربع کیلومتر مساحت لري. د فرانسې یا المان په اندازه. او د اتو او لسو ملیونو تر منځ وګړي لري.

له ډېرو پخوا زمانو راهیسې دا د مدنیتونو یوه زانګو وه، د آریایي توکم زانګو چې، د ځینو په وینا، د هندوکش له لوړو درو راکښېوتی دی. د هیمالایا د غرونو

هغـه سـتره څانگه چـې د نړۍ څلـورلارې وه او ده. د اروپا او اسـيا ټولې لارې همدلته سره يـو ځـای کېږي او دنگو غرونو کـې ننوځي. مشـهورو فاتحانو، بربـرو يرغلگرو، لـه کوريـوش او مقـدوني سـکندر څخـه نيولـې تـر چنگيز خـان او گـوډ تيمـور او بيا د عياشـو شـاهزادگانو، سـترو مغولـو پـورې ټولـو دې نه نېـول کيدونکـې کلا ته، چې د دوو لويـو وچـو، دوو نړيـو تـر منځ ولاړه ده، سـترگې نيولـې وې. د اسـيا او اروپـا تمدنونـه، د ايـران، يونان، چين او هندوسـتان فکر او هنر، تجـارتي بهيرونه له دې ځايه تېـر شـوي او يـو بـل سره مخامخ شـوي دي. گڼو مذهبونو پـه کې لار موندلـې او سره مواجـه شـوي دي: زردشـتي عقيـده چـې ويـل کېږي چې تـر ميـلاد اته پېړۍ د مخه پـه افغـاني ښـار، بلـخ کې، د آمو سـين پر غـاړه وزېږېـد، د يونان اسـتورې، لـه هنده را پورتـه شـوی بوديـزم، بالاخـره اسـلام چې پـه اومه پېړۍ کې عربـو راوړ، لـه لويديځه ورتـه راننـه‌ووت غښـتلې امپراتـوري او خپل مدنيت يې پـه کې جوړ کړ او بيـا د لاهور لـه لارې - چـې هغـه مهـال د افغانسـتان پلازمېنه وه - هنـد ته ولاړ.

پـه وروسـتيو وختـو کې دا هېـواد د دوو سـترو قوتونو، روسـيې او برتانيـا، تر منځ حايـل و. دې دواړو قوتونـو، پـه اسيا کـې د برلاسـۍ ترلاسـه کولو په موخـه، تل هڅه کـړې چـې دا پـه ازادۍ سرسـخت ميـن ولس له ځانـه سره يوځـای کړي.

افغانسـتان هغـه ترلـې ميدان دی چـې تـر يوې پېړۍ ډېر وخـت کېږي چـې دوه رقيبـان پـه کې مقابلې ته راوتـلي دي. دا مقابله چې لا اوس هم دوام لـري يوازې د دوو ملتونـو مقابلـه نه ده چې غـواړي خپلې لاندې کړې ځمکې پراخې کـړي، بلکې د دوو اصولـو ده چـې غواړي د دنيا پـر روح او مادي ژوند مسـلط شي: د نړۍوال کمونيزم په نامـه شـوروي ديکتاتوري او برتانـوي امپرياليزم چې د سرمايـه دارۍ اتل دی.

بالاخـره، افغانسـتان شـايد د هغـه اوږده، بـې پايه او لـه اسرارو ډک زنځيـر تر ټولو مهمـه کـړۍ وي چې له هنده تر مراکشـه اسـلامي نړۍ جـوړوي. د لتـه د پيغمبر امت تـر بـل هـر ځای ډېـر ايمانـدار، ډېر پـر مذهـب ميـن دی. هغه څه چـې پـه دې ظاهراً بنـده کلا کـې تېرېږي، د اسـلام پـه زړه کې انعکاس کوي، انگې يې په وحشـتناک ډول د چيـن لـه صحـرا او هنده نيولـې، تر پـارس، بين‌النهرين، سـوريې، پلسـتين، مصر، د افريقـا ښـارونو او دښـتو او ان د تورې قـارې (افريقا) تر لويديزو څنډو خپرېږي. ځکه

چې دا هېواد، لکه د پارس او ترکيې په څېر يو خپلواک مسلمان هېواد دی خو ايمان يې هماغسې نره او پاک ساتلی دی. نو ايا هغه څه چې هلته تېرېږي اروپا او په خاص ډول فرانسه، چې په مليونونو مسلمان وگړي لري، بې تفاوته پرېښودای شي؟

***

نېږدې دوه کاله کېږي، هغه پاچا چې د افغانستان خپلواکي يې اعلان کړه او په نړۍ يې ومنله، امان‌الله راغی او اروپا سره اشنا شو. هغه فرانسې ته يوازې د يو خپلواک پاچا په توگه نه، د يو ملگري په توگه راغی. ځوان و، زړه راښکونکی و، پوره خوش اخلاقه و، زموږ د هنرونو د تاريخ او زموږ د معاصرو اختراعاتو پېژندلو ته له زړه لېواله و. ملکه ثريا ورسره مله وه. ښکلې وه او زموږ د سيمو جامې يې په خورا ظرافت پر تن وې. دواړه د خلکو ډېر خوښ شول.

داسې انگېرل کېده چې امان‌الله پاچا د خپل ولس خوښ و، خلک يې ترې راضي وو. څکه خو د ۱۹۲۹ کال په لومړيو کې د دې خبر خپرېدلو - چې امان‌الله د قبايلو يو شورش له هغه پايتخته وتلو ته اړ کړ چې ده بدل کړی او ښکلی کړی و – هېښتيا پيدا کړه. لومړی د هېواد په سوېل کې د کندهار په ښار کې بند وو، د مقاومت د تنظيمولو هڅه يې کوله خو وروسته اړشو چې هند ته او له هغه ځايه ايټاليې ته وتښتي. د جنوري له مياشتې راهيسې د يو لړ پېښو په ترڅ کې، چې ځينې يې خندنۍ ښکارېدې، يو جالب شخصيت، د سقاو زوی، چې لومړی يو عادي عسکر و، بيا د داړه مارو مشر شو، د چارو واگې په لاس کې اخيستې وې، تخت يې نيولی و او د حبيب‌الله په نامه يې تاج پر سر کړی و. د ټوکانو پاچا و؟ هېڅوک نه پوهېدل.

بس خلک همدومره خبر شول چې د خو مامورانو پرته، د اروپايي ټولنې په شمول، بهرنۍ سياسي استازولۍ د فبروري په مياشت کې د الوتکې په واسطه ايستل شوې وې. په کابل کې يوازې شل پينځه ويشت تنه بهرنيان پاتې وو چې يو په کې فرانسوی و چې له خپلې کورنۍ سره و. دا ښاغلی ژيرار، د کرنې د ښوونځي مدير و چې له تگه يې انکار کړی و.

تر هغه وروسته، د کابل خبرونه کم، په وقفو راتلل او بیا بېخي بند شول. هلته، د غاصب پر وړاندې مبارزه نه وه غلې شوې. ویل کېدل چې نادرخان، د امان‌الله پاچا خپلوان، چې په فرانسه کې د افغانستان سفیر پاتې شوی و او دلته یې محبوبیت هم پیدا کړی و، د امان‌الله په څېر د محمدزیو له قبیلې و، له خپلو ورونو سره د سوېل او ختیځ ځینې قبایل پر ځان راټول کړي وو. خو دا برید کوم ځای ته رسېدلی و او د بریالیتوب چانس یې څومره و؟ په دې شکلي هېواد کې، چې یو کال تر مخه یې په چټکۍ او لېوالتیا د مدنیت لاره خپله کړې وه، ریښتیا څه تېرېدل؟ څنګه څوک کولای شي چې ورشي او و یې ګوري.

***

د اګست په وروستیو کې د اورسې، سیندغاړې، دفترونو (په پاریس کې د بهرنیو چارو د وزارت مقر) کې راته وویل شول چې دا کار تقریباً ناشونی دی. د هند لاره د جنوري د میاشتې راهیسې تړلې ده ځکه چې د پېښور او کابل تر منځه جنګونه روان دي.

د تهران لار هم، چې ډېره اوږده هم ده، د همدغو لاملونو له مخې د استفادې وړ نه ده. د فرانسوي لرغونپوه، د ګیمې موزیم مشر، ښاغلي هاکن ډلې ایله په څلوېښت ورځو کې وکړای شول چې د پارس له سرحده ځان تر کابله ورسوي. او دا کار یې هم دوه درې میاشتې مخکې کړی و چې هغه مهال لا حالات دومره ګډوډ نه وو.

- او روسۍ الوتکه؟ د کابل او تاشکند تر منځ خو هوایي خدمتونه شته کنه؟

- یانې کله چې د هوا حالات مناسب وي. الوتکه د هندوکش پرغرونو، په پینځه زره متر لوړوالي کې اوړي. دا خو لا څه کوي، چې دا هم مالومه نه ده چې په اوسنیو حالاتو کې دا خدمتونه دوام لري که بند دي؟

د سپتمبر په میاشت کې مې په مسکو کې د نارکومیندېل (د خلکو د بهرنیو چارو کمیساریا : Наркоминдел) څخه پوښتنه وکړه.

د دې ادارې د مشر ښاغلي سوکرمن په نه شتون کې را ته ډېر مهربان ښاغلي

سلاووڅکي، د منځني ختيځ د څانګې مسوول، وويل:

- بالکل! الوتکې تګ را تګ کوي خو د الوتنو نېټې يې تر پخوا لا نامنظمې دي. پوهېږئ چې په دې شپو ورځو کې مسافرين ډېر لږ دي. خو بيا هم، څوک څه خبر، کېدای شي چې کابل ته د فوق العاده هيجاني پېښو ليدلو له پاره ورسېږئ. د اڅکزيو قوم کندهار نيولی دی. نادرخان، او ورور يې شاولي خان، پر کابل ورخېژي. اوس به ډېر ترې لېرې نه وي، ځکه چې ابله ورځ ګرديز ته رسېدلي وو. راشئ، وګورئ.

د خړ ټوکر په بالاپوش پوښلی، چالاکه، ښاغلي سلاووڅکي را ته د دېوال پر مخ لويه نقشه چې غرونه په کې وحشتناک برېښېدل او نا اشنا نومونه پرې ليکل شوي وو، د نظامي عملياتو وضعيت تشريح کړ. پوښتنه مې وکړه:

- د افغانستان ويزې ته اړتيا شته؟

- که وي هم د افغانستان له سفير نه غوښتل به يې درته ښه نه وي. د سفير او د نوي اعليحضرت اړيکې چندان ښه نه دي، کېدای شي چې له الوتکې څخه د کښېوتلو سره سم دې څوک ځوړنده کړي.

- لعنت دې وي! په يو حرکت مې داسې څرګنده کړ چې ګونډې په دار ځړېدل مې چندان نه خوښېږي. يو امريکايي دوست مې راياد شو چې يوه ورځ مخکې يې راته په ډېر قهر وويل: څنګه، ته د قاتلانو وطن ته ځې؟ په داسې وخت کې چې ځناور په کې له زنځيرونو خلاص شوي؟ او بيا د ورتلو له پاره د نړۍ تر ټولو خطرناک د الوتکو لين غوره کوې؟ دالين حتی د راکي غرونو تر لين هم خطرناک دی.

- هو. بله يې لا دا چې دا به زما لومړۍ الوتنه وي. زما د ببرېو سفر د مينې تر حده خوښېږي خو د الوتکو سره دومره علاقه نه لرم. لکه په دار له ځړېدلو سره يې چې نه لرم.

زما قوارې ته يې چې وکتل، ښاغلی سلاووڅکي په خندا شو:

- موږ حاضر يو چې د خپلو امکاناتو تر وروستي حده تاسې سره مرسته وکړو

او له ګوانښـه مو وسـاتو.

هغـوی خپلـه ژمنـه پوره کـړه او زه د زړه له کومـي، د تل له پاره، د شـوروي مقاماتو مننډویه یم.

هغه جدي ځېره ونیوله او راته یې وویل:

- یو ځل بیا هم فکر وکړئ. ګوانښونه شته!

روسـان لـه احصایـې سره ډېـره مینـه لـري. هغه هـم لـه همـدې روسي رویې سره سـم وویل:

- د پنځوسـو او شـپېتو فیصـدو تـر منـځ دا خطـر شـته چـې پـه کـې ولاړه شـې. کورنـۍ جګـړې هېڅکلـه مینـه ناکـې نـه وي. پـه تېـره هغـې سیمې کـې.

دوه ورځـې وروسـته نارکومېندېـل تـه لـه کابلـه یـو تلګـرام راغـی. اعلیحـضرت حبیب‌اللـه خپـل دولـت تـه د کوچنـي پاریـسي (Le Petit Parisien ) د خبریالـې لـه ورتلـو سره مخالفـت نـه درلـود.

***

د اکتوبـر پـر ځلـورم د تاشـکند پر لـور روان شـو. پینځه ورځـې پـه اورګاډي کې. خـو زمـا غرفه د کیبنـتۍ. د غرفې په ځېر پراخه ده او رسـتوران کې ښـه پرېمانه بورشـچ (روسـۍ ښـوروا) او د بادرنګـو قورمـه پیـدا کېږي. او هغـه کنترولران چې د سـاعت په ځېـر منظـم راځـي، جـارو وهـي، ګردونه لـرې کـوي او پـه خنـدا د ګلابي رنګه چای ډک ګیلاسـونه، چـې د لیمـو ټوټې په کـې لامبـي، راوړي ښخي د ورونـو غونډې دي.

د بانـدې کلـه د چیچونکـي یخ باد لاندې پرتې بې پایه دښـتې او کلـه طلایي رنګه ځنګلونـه چـې د اسـمان تـر سـوربخنې رڼا لانـدې ځلېږي. د سـارایي سـیمو د رېل د تـم ځـای عنعنوي ننـداره دا ده چې د هقانان د ایشـپدلو هګیو، کباب شـوو چرګانو او مرغاویـو، له منـو، انګورو او ناکو ډک پتنوسـونه ګرزوي. په دویمـه ورځ، په اورنبورګ کـې مـوږ لـه یخې روسـیې ځخـه وځو. پـه دې هېـواد کـې ګومبزې او د کلیسـاوو د زنـګ برجونـه د سرو، د فېـروزې او لاجـوردو د غونـډارو پـه شـان ښـکاري. یـو تـړم ماښـام، لکـه اوړی چـې بېرتـه راغلی وي، د مسـالو خـوږ وږم لګېږي. همـدا د ختیځ

بویونه دي. بېخي بېله نړۍ ده. ورپسې د ارال مرموزه بحیره شنه ځلېږي. د طلايي ځرمنې والا، په لوګي تور شوي، اوږده کبان يې د رېل په تمځای کې پلورل کېږي. کب نیوونکي د مالګینو اوبو بوی لري. پلن، مغولي مخونه يې دي. درنې خولۍ يې درې کونجه خېمې ته ورته دي چې د وینو په رنګ د پوستکي استر لري.

دوه ورځې بیا خړې شګې وې چې ځای ځای په کې ګردې، د لیمڅي کېږدۍ درېدلې وې او خوارې رمې په کې د نامالومو وښو په لټه ځرېدلې. ځای ځای د اوښانو کتارونه، خندنۍ تنې، لکه په لور چې غوڅ شوي وي. د سیمه ایزو وګړو تور بمبل وېښته د روسي مامورانو له جوختو چپنو سره ګډ شوي وو. غمجنه شان فضا.

پینځمه غیر منتظره منظره. ونې، ګڼ باغونه، د ګلو او تازه وښو بوی. رنګین ورېښمین کالي په غاړه، غاړه غړۍ ښکلي زلمکیان، لکه د پارس له میناتوریو چې راوتي وو، په تورو سترګو زمورږ خواته ګوري او ګلاب په لاس، مینه ناکه خندا کوي.

اخر هم، په تود ماښامي کې دغه دی مزه دار تاشکند - پر واټونو يې رپېدونکي چنارونه او په ویالو کې يې رڼې، شڼېدونکې ویالې، ښکلې سرې مېوې ۰- د پرېمانیو ښار. د اوزبېکستان د جمهوریت تجارتي مرکز.

***

په سبا يې د جمهوریت په نارکومېنډېل کې دنګ، طلايي وېښتانو والا شارژدافیر، ښاغلي سنامنسکي، راته په رسمي انداز کې وویل:

- په خوښۍ سره خبر درکوم چې د نادرخان د ورور، شاولي‌خان، لښکرې کابل ته ننوتلې. پاچا، حبیب‌الله، نن شپه له څو زره پلویانو سره ځان په ارګ کې کلابند کړی دی. وايي زه خو د پاچاهانو اولاد نه یم چې وتښتم. تېښته د پاچاهانو کار دی. زه به تر وروستي سري او د خپلو وینو تر وروستي څاڅکي پورې همدلته جنګېږم. کولای يې شي، ښه زړور سړی دی. له کوهستانه نوو، تازه دمو لښکرو ته هم په تمه دی خو دغه خلک په شمېر کم دي او وسلې يې لږې دي. و به يې ژغورلای شي؟ احتمال يې کم دی. غالباً چې تاسې به په وخت کابل ته ورسېږئ

چې نادرخان ته مبارکي ورکړئ. هغه د خپل ورور پر پلونو د کابل په لور روان دی. الوتکه تاسې ته منتظره ده. د امان‌الله دوه تنه افسران به هم درسره په الوتکه کې وي. کله غواړئ چې ولاړه شئ؟

- هر څومره ژر چې کېدای شي.

- ښه نو سبا، لمرخاته مهال.

اوس نو سمه شوه. ورځ د سفر په اماده ګۍ او اداري چارو کې تېره شوه. د دقیقې بیروکراسۍ په دې هېواد کې اداري چارې ډېر وخت نیسي. خو باید ووایم چې کارونه په ښه نیت او په چټکۍ سره کېږي.

مازیګر خواته مې ناڅاپي ویزه را په یاد شوه. په قونسلګرۍ کې مې درې سړي وموندل چې رنګونه یې د مسو او سترګې یې د سکرو په رنګ وې. غمجن پر کوچونو پراته وو. زما خبرې یې چې واورېدې یو بل ته یې وکتل، په خپلو کې یې اوږدې خبرې وکړې. آخر یو ځوان افغان راغی، په ډېر نرمه فرانسوي ژبه یې راته وویل:

- دوی وایي چې په دې وخت کې کابل ته تګ نه کېږي.

- ښه‌ګه. دا داسې ناشونی کار دی چې زه سبا ځم. دغه دی د الوتکې ټکټ مې.

- الوتکه؟

ټکټ یې په لاسونو کې واړاوه، راواړاوه. په خپلو کې یې سره خبرې وکړې. بیا دې کوچنې په شرنګېدلي اواز وویل:

- هلته جنګ دی، انقلاب دی. خلک پر واټونو یو بل وژني. تیلګراف او مخابره نن سهار قطع شوي دي.

قطع شوي؟ دا هغه څه وو چې نارکومېنډېل پرې نه و خبر. د برې لوری بدل شوی که څه؟ و مې ویل:

- ما نور جنګونه او نور انقلابونه هم لیدلي دي.

- کېدای شي خو دلته هرڅه بدل دي. زموږ د خلکو بهرنیان بد ایسي، په تېره

بهرنۍ ښځې. په يوه شېبه کې وژل کېدای شې.

- خو نادرخان خو يوه اعلاميه خپره کړې چې بهرنيانو ته به څوک څه نه وايي.

يو ځوان سکرتر چې د سپوږمۍ په شان مخ يې درلود، په موسکا سترګې پورته کړې، لاس يې پر مخ تېر کړ، د ټوکې په دود يې قونسل ته سترګک وواهه. هلته په يو کونج کې يو لوی، تور، چيچکي سړی ولاړ دی، لاسونه يې پر سينه ايښي. په کرس خاندي. ماته په نادوستانه ډول ګوري. تر اوږدو بحثونو وروسته ما خپله خبره سر کړه. خو بايد يو سند لاسليک کړم چې زه د خپل سر او مال مسووليت په خپله اخلم او د افغانستان قونسلګرۍ سره په دې اړه کومه دعوه نه لرم. مهرونه، ټاپې، فارسي ليک لکه په ګلانو کې مرغان. دا دی زما ويزه وشوه. نری شان سلام:

- خدای پامان ښاغلو. خبرونه به درته راوړم.

نه يوه اشاره، نه يوه خبره. دا درې سړي، همدلته ناست دي، غمجن، بې حرکته، لکه پر چوکيو چې مېخ شوي وي. لاسونه يې ځړېږي. يوازې ځوانکی ترجمان، د ښه هلک په څېر په نرم غږ را ته وايي:

- ښه سفر مېرمنې. که کابل ته ورسېدې، زما د فرانسوي ژبې استاد ښاغلي ژيرار ته زما سلام ورسوه.

بهر لومړی يو څه تشويشي غوندې وم. ورو ورو ښه شوم. طبعاً، دا بېچارګان نور غمونه لري، زما د امنيت په خيال کې نه دي. شايد د حبيب‌الله پلويان به وو. زما د ژوند انديښنه ورسره نه شته، د ځان په غم دي. الله دې يې وساتي.



شاه امان‌الله
او
ملکه ثریا



نادرخان

# دویم فصل

## الوتکه کې، له تاشکنده تر ترمزه

یو اس اس ار ۳۸ او پیلوټ یې. د الوتنې لومړی احساس – په سمرقند کې توقف – ترمز – د قیصار پر غرونو د باد توپان]

---

د اکتوبر ۱۱ مه، د سهار شپږ بجې او دېرش دقیقې. دا دی د تاشکند په لوی هوايي ډګر کې یم. دا هوايي ډګر هم ملکي دی او هم نظامي. ساړه دي. اسمان شین دی. د الماس په څېر ځلېږي.

زمور د سپرلۍ یو اېس اې آر ۳۸ لړزېږي او غرېږي. دا یو کوچنوټی جنګر دی چې ۳۰۰ هارس پاوره طاقت لري. داسې ښکاري لکه د نقرې ځیمځار چې وزرونه یې غوړولي او د ویښېدو له پاره خپل وړوکی نری سر ښوروي، خپل سره طلايي برېتونه په چټکتیا سره تاووي.

پر وزرونو یې لاس راتېروم. نرم فلز کرېږي او بېرته ځان سموي. ښه نو دغه لوبتکه، دغه خوارکۍ حشره به په یو سر ګرزونکي الوت کې، د روسیې او افغانستان تر منځ پراته اسمانڅکه دېوال باندې اوړي. دا څنګه کېدای شي؟ لېونتوب خو به نه وي؟

له نېکه مرغه په دې شېبې کې ما سره، د هندوکش تر اووښتلو وراخوا. نورې اندېښنې دي. ما څو ورځې مخکې په کابل کې د فرانسې د ماموریت مشر، ښاغلي هاکن ته یو تلګرام استولی و چې هېڅ ځواب یې رانغی. پوهېږم چې د تلګراف

مـزي قطـع شـوي دي. خو کله مې چې پرون د افغانسـتان په قونسـلگرۍ کې پوښـتنه وکـړه چـې اروپايـان لا هـم هملتـه دي کـه نه، د بـې خبرۍ يـو حرکت مې ځـواب و. داسـې ښـکارېده لکه چې وايي د فرانسـې اسـتازولي بـه اوس چېرته لېـرې تللې وي.

کـه دا خـبره ريښـتيا وي، کـه اروپايان ريښـتيا هم له ښـاره لېرې تلـلي وي، زه به په دې گـډوډ هېـواد کـې، د دې وحشـي قبايلـو پـه منځ کې، چـې زما يې لا هغـه ژبه هم نـه زده، څـه کـوم؟ دا هغـه څه دي چې تېره شـپه يـې ځورولم.

يـو سـړی رانېـږدې شـو. ډادمن او پاسـته قدمونـه. د پښـو پوندې يې په عسـکري دود سره يـو ځـای کـړې، لړ ټيټ شـو.

- ايوانوف پيلوټ.

اوه خدايـه شـکر! په فرانسـوي خـبرې کوي. وروسـته پوه شـوم چې د تاشـکند د نارکوميندېـل پـه ټول پرسـونل کې يوازې دی په فرانسـوي پوهېده او لـه همدې امله يې غـوره کـړی و. مـا مـې هغه څـو زده کـړې، ماتـې گـوډې، روسي کلمې بېرتـه په ځای کـړې. زمـوږ پيلـوټ برابـر قـد درلـود. په خـړه درېشـۍ کې، نـری، حسـاس، چالاک ښـکارېده، کـټ مټ لکـه الوتکه يې. له سـپينې، پـه طلايي رنگـه، وزرونو والا نشـان ښـکل شـوې، خولۍ لاندې يې شـنو مهربانو سـترگو نېغ نظـر درلود. هـم زړه‌ور، هم هوښـيار. زړه مې ډاډه شـو.

په فرانسوي يې را ته په لنډو جملو وويل:

- کـه چـا کښـېوتلو تـه نه پرېښـودو، سمدلاسـه بېرتـه هوا کـې پورته کېـږو. که چا راتـه گـواښ وکړ، دا راسره شـته!

د خپلې کورتۍ لاندې يې خپله غټه موزر تمانچه راښکاره کړه.

په خوشالۍ مې وويل:

- خره‌شو!

- زړه دې جمـع کـړه. دې بـل جېب کې کارتوس هم شـته. هېڅ مشـکل به نه وي. دغسې!

د پییر ایوانف دې «دغسې» چې په جدي، قاطع، خوشطبعه او طنزي انداز کې یې ویل، په دې سختو ورځو کې چې زه د هغه تر سیوري لاندې وم، ځو ځله خوشاله کړم.

میخانیک، ایوان پوپلنېځکي را نېږدې شو. درانه قدمونه، چاغ، مظبوط، پر مخ یې د ماشومانو په څېر موسکا ځلېده.

ورپسې زما د لارې ملګري، دوه افغان افسران وو. یو اوږد، نری، په ملا کړوپ غوندې، یو څه په انګرېزي پوهېده. بل، ځوان، غنم‌رنګی، د زلمکیانو غوندې ګرد مخ، بخملي نظر، کروړې کروړې وېښته. د روغبړ پر مهال یې لومړی لاس پر تندي کښېښود بیا پر زړه. د طلایي تکمو والا عسکري خولۍ باندې یې پګړۍ تاوکړې وه. د بې کوره شویو خلکو په څېر خوار لباس، د دوبي بالپوش، د نري ټوکر پتلون، سپین کرمچ. هېڅ ښه نه ښکارېدل. بله دا چې د هندوکش له پاره په کار وه چې څوک د ژمي د سپورت جامې واغوندي.

پییر ایوانف ویل:

- هلته ډېر ساړه دي. ډېر ساړه. په ترمز کې به یو څه پیدا کړو چې پښې دې په کې تاو کړې.

او دې خوارو افغانانو ته ګوره، هلته به یې یخ ووهي. خیر، کېدای شي چې نادرخان یې مجرایي ورکړي.

***

د تلو وخت شو. پیلوټ او میخانیک په غټو بالاپوشونو او د پوستکي په خولیو کې په اسکیمو بدل شوي وو. ښکلوکي، تنګ کابین ته وروختم. له مسکو څخه د روانیدو پر مهال، دوستانو راته یوه ښایستوکې ګوډۍ، د «کوچنۍ روسیې ښکلې، ډبلوسکې دهقانه چې په شنو او سرو رنګونو رنګ شوې وه، ارتې سپېړمې. ماتریوشا نوم مو پرې ایښی و. هغه مې یوې تسمې پورې وتړله.

ښکلې ماتریوشا، ته او ستا ښکلې موسکا به مو هېڅکله هېره نه شي.

په اوږدو تسمو یې چوکیو پورې وتړلو. دروازه بنده شوه. پراشوت؟ هېڅ یې

فکر کول هم نه وو په کار. ما يې هم د غوښتلو جرأت و نه کړ.

قوي حرکت، لوړ غږ، په ټوپونو. بيا، نا څاپه، بې مقدمې، له ځمکې د بېلېدو او په هواکې د الوتو خوندور احساس. لکه بڼکه چې په هوا کې ازاده ګرزي. د ماشين د زغرد غرهار په منځ کې. يو شېبه، داسې ښکاري چې په ځوړند سر پسانو ډک پټمی د الوتکې چټ جوړوي، بيا بېرته پر ځمکه پاتې وګړي ښکاري چې په تدريجي ډول کوچني کېږي. لکه د سربو ساچمې چې پر هوايي ډګر شيندل شوې وي. ښار، په اول سر کې يې طلايي رنګه باغونه ښکاري، د پارک له دقيقې نقشې او د سرکونو له پېچلي جال سره. د ويالو او چنارونو ليکه داسې برېښي لکه په اوړي کې ماران. هر څه داسې واضح دي لکه په يو رنګه انځور کې چې وي. لږ وروسته بيا د پراخې دښتې په منځ کې د شنېلي جزيره ټوله راڅرګندېږي د ويالو شنې کرښې ورروانې دي. هلته لرې ترې د غرونو بنفشه‌يي رنګه حلقه ده. دوه ساعته د همداسې وچې خلا له پاسه الوزو. دلته او هلته واړه کلي لکه پر زېړو شګو چې تپل شوي وي او د کوچيانو ګردې ګردې کېږدۍ ليدل کېږي. موږ چې تېرېږو، په ګرانه ليدل کېدونکي موجودات د دروازو په خوله کې ودرېږي. سرونه او لاسونه يې پورته نيولي دي. رمې – پسان، وزې، غواوې او خوسي هره خوا ځغلي. اوښان هم منډې وهي، اوږدې غاړې، نرۍ کږې پښې لکه د لړونو، سيورى يې په خندني ډول ورپسې دي.

لرې ډېرېږي، دښته تته ښکاري. کيڼ لور ته د اسمان په منځ کې د ململي وريځو تر څادر تر لاندې د قند د ټوټو يو لړ راڅرګندېږي.

په غوږونو کې مو مالوچ ايښي. ما په خپله کتابچه کې «هندوکش؟» و ليکه او زما مخې ته ناست دنګ افسر ته مې ښکار کړ. هغه را ته بېرته وليکل: «نه، پامير.»

پامير، د دنيا بام. باور مې نه شي!

داسې برېښي چې لرې ډېرې شوې. د ابرک د ښيښې شاته وينم چې پيلوټ د ميخانيک خواته ورکوږشوی، په غوږ کې څه ورته وايي. لاس يې يو لوری ښيي. بيا د باندې پورته کېږي، لکه باد چې مالوموي. دا باد زموږ شاوخوا ته تېز لګېږي او شپېلی وهي. الوتکه لکه د باز پر مخ غورځي. بيا په ورو ورو ديکو، پورته خېژي. يخه هوا کابين

ته راننه‌وځي او زموږ پر پښو، لاسونو او ورمېږونو خوله لګوي.

زما څنګ ته ناست ځوان مسافر، چې زما غونډې د لومړي ځل له پاره الوتنه کوي، ژر ژر دباندې وګوري او بیا مخ واړوي. په شدت سره خپل نوکان په غاښونو کرنجوي.

هلته لېرې یوه شنه چنیاسه لویېږي او پر زېړه هواره ځمکه جوتېږي. دا یو لویه، حاصلخېزه دښته ده چې کوچنیو ویالو په کې د زمردو، عنبرو، عقیقواو تورو مریو یو قیمتي موزاییک جوړکړی دی. یو حیرانوونکی ښار راڅرګندېږي. دلته کورونه په شګو کې نه دي ډوب، خړرنګې ښکلا یې د طلایي رنګونو په کثرت کې پورته خېژي. دنګې ودانۍ، لوی لوی رواقونه، لاجوردي ګومبزې نرمه بربښنا خپروي. د داسې یو ځای په منځ کې چې د رنګارنګه چیني لوښو د کوهي غونډې دی، یو لوی بس موټر را څرګندېږي چې د لندن د بسونو غونډې سور رنګ لري. دا نو دلته څه کوي؟

څه وشو؟ د الوتکې د څرخ خوب راوړونکی غرهار ورو شو او بیا ودرېد. موږ ښکته کېږو. ډېر په چټکۍ، په چورلېدو. دومره [ټک کښېوځو چې ترلي مسافر یو بل ته په تشویش ګوري. ما په خپله کتابچه کې ولیکل:

- ترمز؟

ترمز زموږ د سفر لومړی تمځای دی. موږ به په دې ښار کې څلورویشت ساعته تېروو، ځکه چې له هندوکشه اووښتل دومره هیبت لري چې پیلوټان هېڅکله له یوې اوږدې دمې مخکې ورته زړه نه ښه کوي. هغه لوړ افغان را ته د «نه» په مانا سر ښوروي.

ښه نو څه؟ د فکر کولو وخت نه شته. غرونه کړېږي، ونې را پورته کېږي، حیوانات او انسانان د سترګو په رپ کې لویېږي او موږ د یوې پراخې میدانۍ په منځ کې چې یو خوا ته یې په سره بیرغ ښکلل شوې یوه وړه ودانۍ ولاړه ده. یو ښکلی هواباز چې سپینه خولۍ پرسر ده، دیپلومات بکس ورسره دی، په منډه راځي، د الوتکې دروازه پرانیزي او په خندا را ته وایي:

- سمرقند!

داسې ساده لکه د انیېر یا شارانتون نوم یې چې اخیستی وي. ایا دا سړی پوهېږي چې د سمر قند نوم څوک څومره خیالي دنیاوو ته بیایي؟

خو د لوی سکندر او د ګوډ تیمور په ښار کې زما یوازې د همدغې رنګینې نخچې لیدل په قسمت کې وو چې وړاندې مې تشریح کړه.

ایوانف وویل:

- باد ډېر تېز دی. موږ به ناوخته ورسو نو باید چې نور تېل هم واخلو.

خیال دی که واقعیت؟ په رڼو سترګو کې یې راته اندېښنه غوندې ښکاري.

نیم ساعت د پښو ستومانۍ ایستلو او د یوې پیالې تاوده چای له پاره. موږ د پیلوټانو په واړه کور کې یو. دېوالونه په چونه سپین شوي او د هوا لویو، په شوخو رنګونو رنګ شوو نقشو پوښلي دي. هلته د لیلیې چېرکټونه پراته دي چې د پښو څوکې یې ګلابي او شنه ځلا لري. کارل مارکس په خپله – د سمندري خدایګوټو په څېر نرۍ موسکا باندې د حیواناتو په پوستکو پوښلي انسانان ارامو ي خو لینن، متشدد، شخې متې او پورته شوي سوکان، یې نورو مبارزو او نورو خطرونو ته رابولي.

ناڅاپه د الوتکې د ماشین غرهار شو. یوه الوتکه په خورا چټکتیا زمو د کوچنوټې ودانۍ په لور راروانه وه. پوپلنځکي چغه کړه، او منډه یې کړه. لکه چې الوتکه یې تښتېدلې او اوس به موږ ذرې ذرې کړي. یوه شېبه اندېښنه او بیا په کړس خندا! یو ملګری، د پخوانیو وختونو د ځناورو په څېر غټ، د ښیښو غټې غټې سترګې، په خندا رانووت. ظاهراً په خپلې ټوکې ډېر خوشاله و. له غرنۍ دوشنبې راغلی و. همدومره مو وکړل چې ستړي مه شي ورسره وکړو، د څرمنې پر بالاپوښ یې و ټپوو او بیا والوتو.

لومړی ډېر ټیټ د یوې دښتې له پاسه الوزو چې په لړو کې د مالوچو د سمندر غوندې ښکاري او کورونه په کې د جزیرو بڼه لري. ورو ورو پورته خېژو. باید د قیصار پر ۲۳۰۰ متره لوړو غرونو ورواوړو. داسې ښکاري لکه دا غرونه چې په

یکنواخته، د سوربخنو تیږو په تار تړلیو، څپو کې د لایتناهي پر لور غځېدلي وي. ورو ورو هوا تیاره شوه، پر افق یوه توره پرده وغوړېده. باد په پوره زور شغېږي، غرېږي، سلګۍ وهي، کله د کونګ په څېرې چغې وهي او کله د سپوږمۍ په شپه کې د کلي د سپیو په څېر انګولا کوي. زموږ د بې سبکه کوچني «اته دېرش» پر وزرونو یرغل کوي، رکوي یې. «اته دېرش» په پوره مېړانه سر هسک نیولی. په ټوپونو، ځان نېغ کړي، اړخ په اړخ شي، لکه کوچنۍ کیښتۍ چې توپان په مخه کړې وي. د افغان افسر ملا نوره هم پسې کړوپه ښکاري. زما ځنګ ته ناست ځوانکی، کله په لاسونو ځان ټینګ کړي او کله خپل غوښن لاس، چې نوکان یې په غاښونو کرنجول شوي، وغځوي. زما هم زړه کېږي چې یو څه پورې ځان ونښلوم خو موږ دواړه خپل غرور لرو، سترګې یو بل ته نه مخ کوو.

دواړه د خلا خوا ته ګورو.

زموږ تر لاندې د تیږو سمندر په مشکله لیدل کېږي. سیوري اوږدېږي او توپان لېونۍ چغې وهي. د پیلوټ او میخانیک سرونه سره نېږدې کېږي. دواړه سره خبرې کوي، لاندې ګوري، توپان څاري، حرکتونه یې، لکه اشارې چې کوي. دوه درې ځله پییر ایوانوف خپلې غټې د ښیښې سترګې زموږ خاته راواړولې. هر وار زموږ موسکا د هغه د ډاډمنې موسکا ځواب و.

اوس نو د ښیښې تر شا څه نه ښکاري، یوازې زیړرنګه دوړې دي چې ګردچاپېره چورلي. زموږ زړونه د ماشین له غرهار سره تړلي دي. ماتریوشا، سورککۍ، وازه خوله، موسکۍ څېره، مېخ پورې ځوړنده، ګډېږي. زما په سر کې روسي ولسي سندرې انګازې کوي. نور مې زړه نه غواړي څه واورم یا څه ووینم. زړه مې غواړي چې خپل ماغزه تش کړم، ټول یادونه ترې وباسم. ګرانې څېرې راته له لېرې خاندي، ګوتې اشارې کوي. غږ را ته کوي که خدای پاماني راسره کوي؟ زړه مې رېږدي، سترګې مې ناڅاپه لمدې شوې. ښه نو څه؟ ګوندې دا هر څه ما په خپله نه وو غوښتي؟ ګوندي چا نه وم خبره کړې؟

اوه، یوه معجزه! یو سړک! ناڅاپه مې په ګردجنه فضا کې، د انسان په لاس جوړ شوی سړک تر سترګو کېږي. ورپسې دا کارګرې حشرې چې د پومبې پټې

یې کـړلي، د غنمو دښتې یـې اړولـې دي، له ونـو او ګلانـو ډک باغونه یـې اوبه کړي دي، او د هـوارو بامونـو پخسـه یـي دېوالونـو دا کورونـه یـې جـوړ کړي، پـه خپله هم راڅرګندېږي. دا کورونـه خـوار دي، خو په ځمکې پورې نښـتي دي، هغه ځمکه چې زه یـې خپـل وطـن بـولم او اوس به پرې د خوشـالۍ قدم کښـېږدم.

آرامـه، پـه دقـت، زمـوږ کوچنـۍ الوتکه، چې پـه خپل مقاومـت ویـاړي، د هوایي ډګـر څنډې ته، د شـنو بامونـو والا تعمیرونو پر لـور روانه ده. پییر ایوانـوف، خواره، په جګـړه کـې زخمي شـوې، څېره، سرې سـترګې، د څرمنـې خولۍ، په خپله را خوشـې کړو.

په لنډو ټکو کې یې وویل:

- د سیروکو توپان دی.

پوهېږم. دا باد د هوایي چلند له پاره تر ټولو بد ګواښ دی. ایوانف زیاته کړه:

- مـوږ سـبا لـه ترمزه نه شـو روانېدای. بایـد دوه، یـا درې ورځې، یا تـر دې هم ډېر دلته پاتې شـو.

اندرې ویولیس — پییر ایوانوف پیلوټ — ایوان پوپلنیک میخانیک





URSS 38

د هندوکش په لور روانېږي



د ترمز زوړ ښار



د ترمز بازار
د سفر پر مهال په ترمز کې توقف – (عکاسي اندرې ویولیس)

# دریم فصل

## له ترمزه تر کابله

مرموز ترمز او ګڼ نژادونه – موږ ځو خو له بکسونو پرته – د هندوکش پر سر – د دېوانو منظره – په کابل کې جنجالي ناسته

بلاوهلی توپان! تر شپږو ساعتو الوتنې وروسته دا دی دلته پر ځمکه مېخ پاتې یو، ځوړند لاسونه اسمان ته ګورو. په ګردجنه هوا کې هغه کوو چې هغه ستر دېوال ووینو چې تر شا یې کابل پروت دی. څه وخت به ترې اوړو؟

ایوانف وایي:

- که اسمان بېخي صاف نه شي ناشونې ده. که لاړ هم شو یا به بېرته راځو او یا به هلته بره پاتې کېږو.

اشاره یې له مانا ډکه ده.

بس نو تسلیم به شو. افغان افسران په ښار کې کوم مېلمستون ته ولاړل. زه د «دوبرولیوت» یا د هوایي ځواک د دوستانو مېلمنه یم.

ښایستوکی کور.

په هوایي ډګر کې مېشت یو هواباز خپله کوټه ماته راکړه. ډېره ابتدایي، خو تکه سپینه، روښانه. د هوابازانو، د سینما د ستورو او د شوروي اتحاد د سیاستوالو عکسونه په کې ګډوډ راځړېدلي وو. سهار مخ او لاس له خونې بهر د پخسو په

دېوال احاطه شوي انګړ کې، د چرګانو، سپيو او پيشوګانو په منځ کې، په يوه مسي لاس‌مينځـوني کې پرېولـل کېږي.

باغچـه او د ترکاريـو کوچنـۍ اډۍ به، لـه ژورو چـرو سره، ډېرې خونـدورې واى خـو چـې د هـرې ونې پر هـره پاڼه سپين ګـرد نه واى ناسـت.

د لنيـن لـه طنـزه ډک او مهربان نظر تر لاندې مـو څه يو خونـدور اوملېت وخوړ. او څومره ښـه اشـتها! له بـده مرغه يوازې له چايـو سره. دا الوتونکي نارينه ډېر سـخت سـاده ژوند لري.

د دوی له دې شـاقه کسـب سره همداسـې مناسـبه هم ده. زه وروورو د هوابازانو له دې وياړلي ټيم سره اشـناکېږم چې په منځنۍ اسـيا کې - د سـايبريا له سيمپالاتينسـک څـه نيولـې، افغانسـتان کې تـر کابل پـورې او د فارس له غـاړو نيولې د چيـن تر څنډو پـورې – تـر ټولـو خطرناک او سـتونزمن پروازونه کوي. پـه اوړي کـې دا د هوا مبارزين بايـد، پـه سـخته ګرمـۍ کې، له سـيروکو بـاد سره – چې موږ يې ډېر ښـه پېژنـو – لاس او ګريـوان شي، او پـه ژمـي کـې يې وژونکې يخني، چې کله تر منفي شـلو هم ښـکته کېـږي، چلوونکـي لاسـونه سره ښـکېلوي او فلجـوي يـې. پـه هـر فصل کـې بادونه، توپانونـه، تالنـدې او برېښـناوې، برېبوکـۍ، د هـوا تشـې چـې پـه يوه لحظه کې سـرې تـر سـتوني تېـروي، لرې چـې يوناڅاپـه د غرونو څوکې وپوښـي. دا سـتر سـتر غرونه ګواښـوونکي غرونـه يـې لا بلـه بـلا ده. د دې تـر څنـګ د هغـو قبايلـو وحشـت چې د مدنيـت لـه ښـکلاوو سره هېـڅ علاقـه نه لـري. هغـه څو مياشـتې مخکې چـې دوه روسي پيلوټـان مجبـور شـول چـې د هندوکـش پـه يـو کلي کې راکښـېوزي و نـه نيول شـول؟ او بيـا لاس تـړلي پر تېـرو موږيو کښـې نه نول شـول؟

د کابل د کرښـې پر پرانسـتلو، په ۱۹۲۴ کال کې د روسي پيلوټانو د يو زړور سـفر پـه نتيجـه کـې د دواړو حکومتونـو تـر منځ پـه اصولو کـې فيصلـه وشـوه. دا دوه کاله کېـږي چـې فعالـه ده. پـه دې وروسـتيو کې خـو لا يوه اکتشـافي الوتکه د نـړۍ پر بام، د پامـير پـر سر د حيـران شـوو محـلي وګړو په منځ کې هم کښېناسـته او ډېـر ژر به يو سرويـس دلتـه هـم پيـل شي. دا الوتکې، لکه نـه ډارېدونکـي مرغان، هغـه يوازينی تار دی چـې دا لېـرې پرتـې، خوارې سـيمې له مدنيت سره نښـلوي.

د دې مرکـز پینځلـس پیلوټـان او پـه همدې شـمېر میخانیکان، واقعیـت دی چې، تجربـه کار او ازمویـلي خلـک دي. ډېـرو جنـګ - نـه، جنګونـه - کـړي او بیـا ملکـي هوانـوردۍ تـه راغلي دي. څکه خو تر دې دمه کومه د مړینې حادثه نه ده پېښـه شـوې. ټـول اتـلان دي. خدمتونـو ته یې په مناسـب ارزښـت کتـل کېږي. د یـو پیلوټ منځنی معـاش د میاشـتې اته سـوه روبله دی. د ځینـو پیلوټانو تنخا تر زرو روبلو رسـېږي چې پـه کال کـې ۱۵۰۰۰۰ فرانکـه کېږي. له دې سره دوی د کال دوه میاشـتې رخصتي هم لـري او پـه قـرارداد کـې یې راغلي چې هـر یو به ځینې خطرناک سـفرونه، لکـه د کابل سـفر، پـه کار کې تر پینځـو وارو زیـات نه کوي.

پییـر ایوانـوف چې له دولسـو کالو راهیسـې الـوزي، د کرتـۍ پر سـینه د سره بیرغ ډېـر نـادر نشـان ګرزوي. هغـه همدا راز یو بل نشـان هم لـري چې د یو لـک کیلومترو الوتنې شـاهدي وایي.

- هاهاها، دا خو دوه کاله مخکې وو، اوس درې لکو ته رسېدلی...

***

مـوږ پـه ترمز کې ګـرزو. دا د خاورو ښـار دی. خاورې لکه پاغوندې پر سـړکونو، تیټـو کورونـو، عامـو پارکونو او ښـکلو ونـو پرتـې دي. دا یو سرحدي ښـار دی چې په ګردجنـه فضا کې یې کله د سـپرو عسـکرو د اسـونو خپـه ترپا او د ترمونـو چونګا ځي راځـي. لـه نوي ښـار پر چاپېره سـور بخنې کلا د پیره دارانو د ګزمې سـیوري ښـکاري چـې ټوپـک پـرې لـک شـوي دي. هـلـوږ، دنـګ سرتېري، قـوي، سره وېښـتان، سره مخونـه، لـه شـماله راغلي عسـکر پـه پراخـو پراخو بالاپوشـونو کـې پر ځمکـه ګرزي او د دوړو وربېځـې ترې چاپېره دي. دا د شـوروي افکارو د برلاسـۍ ښـکاره سـمبولونه دي. هغـه اوزبېـکان چې په زاړه ښـکار کې، څنډې ته پرېښـول شـوي ښـکاري، د دې حالـت پـه اړه څـه فکر کـوي؟ عجیبه خلک دي. مرمـوزې څېرې، د مالوچـو په سرو - د ګلابـو، داوودي او پتـوني ګلانو په نقش سینګارشـوو- پراخو کمیسـونو پوښـلي . پر اسـانو سـپاره ګـرزي، یو لاس یې پر ډوډې ایښـی وي، ټوپک یې شـاته پـروت وي، یو نوکـر یـا یو ماشـوم یې، پـر خره سـپور، تر شـا روان وي. ډېـر یې پلن، خـورب مخونه لـري چـې لـوی تـاو راتاو، کوځـۍ شـوي پټکي یـې پـر کینـه اوږه راځړېږي. نـور بیا

اصلي مغول دي، د چنګېزخان اولاده، نرۍ ږيره چې په نريو هډوکينو ګوتو کې يې سره مروړي، سترګې يې کږې او له شيطنته ډکې. خو ورسره بيا شاندار تاجيکان هم شته، ارياني نسل، نېغ، نازکه کړه وړه، لکه په برونزو کې چې قالب شوي وي، غټې بادامي سترګې، وېښته او ږيره تک تور، ځلنده، کروړۍ کروړۍ چې سړي ته د انجيل هغه مجوسي پاچايان وريادوي چې د نوي زېږېدلي عيسی ليدو ته راغلي وو. نېغ، يو دسمال تر ملا تاو کړی، په درنو، اتڼيزو قدمونو ګرزي، يا د قهوه خونو مخې ته په سروغاليو پوښل شوو تختونو د نعناع او شاه‌پسند ګلونو سره ګډ چای ته غځېدلي وي. دا ښکلي خانان په دې شاهانه بې تفاوتۍ کې څه سره وايي؟ شوروي سياست د دوی رسمونو او رواجونو ته پوره درناوی کوی. خو بيا هم، هلته پاس په غرونو کې، په ځينو کلو کې کمونست استازي و نه وژل شول؟ خو دلته په ښار کې نظم ښېخي برابر دی. په قهوه خونو کې د نېږدې بيروباري، رنګين، معطر بازار غالمغال اورېدل کېږي. کله نا کله د اوښانو کاروانونه چې خر يې په مخ کې روان وي، په زنګېدلو قدمونو تېرېږي. شايد د هغه پخوانو زمانو، د داريوش يا سکندر په لاس جوړ شوي، د جلال او جمال ډک ښار په نسبت ژوند چندان نه وي بدل شوی.

چا را ته وويل چې هغه ښار، له يو بامه بل ته په اووښتو، شپېته کيلومتره دوره درلوده. بې شمېره شتمنۍ په کې وې. بيا له منځه ولاړ.

***

خو تر مز دې پر خپل ځای وي. کابل څنګه دی؟ يوه ورځ تېره شوه. له نېکه مرغه په سبا يې اسمان روڼ شو. د ورېځو په خړه لمن کې د شنه اسمان سوري راښکاره شول. شايد سبا وخوزېږو.

ماښام، پيير ايوانوف چې په ترمز کې د ناركومنديل له استازي سره يې مجلس کړی و، اندېښمن ښکارېده. د خپل مرستيالانو په منځ کې، تريو تندی، پنسل په لاس، په پيچلو محاسبو کې ډوب و.

ناڅاپه يې را نه وپوښتل:

- څومره وزن لرئ؟

- زه؟ نهه څلوېښت بکس مې؟ پينځلس کيلو.

- نه، بکس دې نه، تاسې په خپله؟

- زه؟ نهه څلوېښت.

مخ يې وغوړېد. ويې ستايلم:

- څومره ښه چې د چا دومره لږ وزن وي.

بيا يې په جديت وويل:

- خو بيا هم، بکس به مو همدلته پرېږدئ.

- بکس مې؟ تر دې ځايه په راوړلو مې يې په خروارونو پيسې ورکړې دي. او بيا...

په غوښ غږ يې وويل:

- ضرورت دی. موږ بايد د بېرته راتلو له پاره هم تېل واخلو.

نور يې څه و نه ويل. زه هم ټينګار نه کوم. پوهېږم چې که په کابل کې ناسته نه کېده بيا مجبور يو چې ... خو له دې سره هم دا فکر راسره دی چې که هلته څو اونۍ يا څو مياشتې پاتې شم نو بيا... ټنډه مې تروه شوه.

- څه خير دی، زه به مې خپله کڅوړه تا ته درکړم، مه خپه کېږه.

ما هم کڅوړه په خوشالۍ واخيسته. دوه دسمالونه، يو جوړ د خوب کالي، يوه ږمنځ او يو د غاښو برس په کې ځايېږي. لا سربېره د مخ د پوډرو «زري سرخي» يو ډبلي ته هم ځای په کې شته.

هغه خوارکي، افغان افسران به، لاس په جېب کې، بې بکسه سفر کوي. هغوی له داسې حالت سره روږدي دي.

پيلوټ وايي:

- د دومره لوړ ختلو له پاره بايد الوتکه سپکه وي. ډېره سپکه. نورې الوتکې څو ماشينونه لري، اته، لس، تر شلو پورې. خوموږ يوازې يو ماشين لرو.

- که هغه خراب شي؟

ولي يې پورته واچول. چوپ شو بيا يې وويل: دغسې نو.

پوه شوم. د غرونو پر څوکو له ناستې د خير تمه نه کېږي.

- خو مه ډارېږه. داسې نه کېږي. هېڅکله!

ماښام کې مو هغه او ميخانيک له نقشو سره يوازې پرېښودل. نظر يې دقيق و، وروځو يې انديښنه ښکاره کوله.

هغه څه چې ايوانوف را ته نه وو ويلي، خو لږ لږ مې د هغه د سکوت او نيمو نيمو خبرو څخه حدس وهلای شو، هغه دا و چې د هغه له پاره هم دا لومړی ځل و چې پر هندوکش اووښته. د يو تجربه کار پيلوټ له پاره هم دا تجربه يوه تاريخي شېبه ده.

***

يک شنبه، د مياشتې ديارلسم، د سهار شپږ بجې. هوار روښانه، صافه، پاکه، خوندوره. داسې لکه څوک چې لومړی ځل په لمانځه درېږي. هغه سپين ململ چې د هندوکش څنډې يې پوښلې وې، به معجزه‌يي توګه الوزي. روانېږو.

ټول خوشاله دي. د هغو دروو افغانانو سترګې ځلېږي. دا اضافي جلا وطني هم ختمه شوه. خطر مو هېر دی. لکه د ښوونځي ماشومان چې رخصت شي، موږ په خوشالۍ کابين ته خېژو. له امر سره سم په غوړونو هغومره مالوچ ورننه‌باسو چې په کې ځايېدای شي. زموږ پيلوټ د الوتکې پر وزر ولاړ دی، خپله خولۍ له شنو عينکو سره تړي او ځان په څو وړينو جامو کې نغاړي. موږ متوجه کوي:

- ممکن چې د غرونو پر سر الوتکه نڅا شروع کړي، ټوپونه ووهي، دغسې... (په دواړو لاسو يې د مست اتڼ حرکتونه تمثيل کړل) هيڅ انديښنه مه کوئ. هېڅ خبره نه ده. خطر نه لري. د هوا تشه به وي. که مخې ته راغله زه به تاسې ته درګورم او تاسې به خاندئ، ښه!.

سمه ده. خاندم به. همدا اوس هم خاندم. لکه سورککۍ ماتريوشکا چې

وښکي يې له خندا نه سره ورځي.

د وروستۍ خدای پامانۍ په دود يې راغبږ کړ:

- که ډېر ساړه مو کېدل د پښو پر سر کښېنئ.

د سفر ښکلی پيلی. پر آمودريا ورواوښتو. يوه تازه ريښکۍ، چې په طلايي وزمې دښتې راتاوېږي، گلونه او غوټې پرې جوړوي. موږ په ډېره ارامۍ د افغاني کلا د دنگو، خړو دېوالونو پر لور ښوييږو. بيا ورو ورو، په کراره، بې جړک او جړوکه، پورته کېږو، لکه د سابون پوکڼۍ چې نرمه نرمه په هوا کې پورته کېږي يا د ازغيو د گلانو پاغونډې چې په هوا شي.

بيا ناڅاپه ، هاغلته بره، دا سپينه، کړه وړه کرښه چې په شنه اسمان کې ورکه ده، دا به څه وي؟ نه نه شي کېدای! د ورېځو لړۍ؟ ايوانوف مخ راواړاوه، په زنه يې اشاره وکړه. هغه دنگ افغان مخ راواړاوه، خپله کتابچه يې راښکاره کړه. ما ولوستل: «هندوکش». کتابچه مې هغه کوچني افغان ته ورکړه. موږ دغه ديو ته ورته دښمن ته ځير کېږو چې بايد پرې ورواوړو. درېواړو سر وښوراوه يو بل ته مو وکتل. په سترگو کې مو يو ډول تحسين، حيرانتيا او ډار سره گډ شوي وو. ځان سره فکر کوم: «دا څه لېونتوب دی؟» خو په عين حال کې د وجد يو حال را ته پيدا کېږي. زما په غوږونو کې يو ډول شغار راځي، لکه د سمندر غږ، هماغسې چې د سيپۍ له منځه اورېدل کېږي. ټوخېږم. خپل ټوخی نه شم اورېدای. داسې احساس کوم چې په هوا کې لاهو يم، له خپل درانه جسم څخه بېله شوې. يوازې يو نظر او يو فکر يم. مرگ گوندې همداسې يو څه نه دي؟ اوس لا هم د ژونديو په کتار کې يم؟ دې عجيبې نشې څومره دوام وکړ؟ د پوره ختلو ماجرا څنگه وه. نه پوهېږم. زمان او مکان کډه کړې وه.

بيا يو ناڅاپه معجزه وشوه. موږ د غرونو پر څوکو ښوييږو، الوزو. چټک او خاموش، د وارو د څوکو پر سر. د يخي ځلاندې دښتې، د تيږو بې پايه ژورې کندې چې سترگې ورته تور خوري، شنه، ساړه سيوري چې همداسې پسې غځېږي، د تيږو پر بستره غځېدلې ورېځې، يا د پاغونډو گرزنده کتلې چې پر څوکو سره شلېږي. د گډوډيو منظره، له فوق العاده وحشته ډکه چې سړي ته د دنيا د پيل يا

پــای صحنــې ورپه زړه کــوي. د خدایانــو او دېوانو منظرې. د فاني انســانانو ګناهګارې ســترګې د دې منظـرو د لیدلـو وړتیا لري؟

***

معجـزه، څنګـه چـې پیل شـوې وه، همـاغسـې پـه ناڅاپي توګـه ختمېـږي. موږ د غرونـو څوکـې پرېـږدو او شـنو دښـتو تـه راځو چـې سـیندونه په کـې ارام او روښـانه تاوېږي او ګډېږي. لارې او سـړکونه یو جړ جال جوړوي. دا کوهسـتان دی. د غاصب حبیب‌اللـه وطـن. څنګـه کېدای شي چـې خونړۍ کرکـې دا ارامـې درې لاندې کړي؟ نـور غرونـه، یـو پراخـه میـدان، د کرونـدو حاصلخېـزه د شـطرنج تختـه. بیـا د تعجب صحنـه. پـه یـوه ښـکلې دره کـې، چـې شـاوخوا یـې واړه غرونـه دي، یـو ډېر ښـکلی پـارک، منظـم، رسـم شـوی لکه د ورسـای پـارک. دغه دي مودرنـې ودانۍ او سـړکونه چـې د سـتوري د څانګـو په څېر هـر لور ته خپرېږي. لـه غونډیو وراخوا یـو ژور تنګی یـو لـوی ښـار تـه لار پرانیزي چـې لوی لـوی طلایي وزمـه کورونه پـه کې د زمـردو له باغونـو سره اوډلي دي.

دنګ افغان ما ته مخ را اړوي. څېره یې روښانه ده. په شونډو کې وايي:

- کابل

هغه بل کوچنی افغان لاسونه پړکوي.

یوه شـېبه زموږ الوتکه د ښـار پر سر د بابـښـې غوندې تاوېږي، لکه مترددە غوندې، لار لټـوي. بیـا د یـو هوار، خړ میدان پـر لور غوټه وهي. هوایـي ډګر به وي.

پـه سـړکونو کې، چـې دواړو خواوو تـه یې لویې لویـې ونـې ولاړې دي، د خلکو ګڼـه ګونـه. یوه رنګـې ډله، پګړۍ پـر سر، سره تاوېږي، لاسـونه یې زمـوږ خواته جګ نیـولي، ټوپکونـه یـې نېغ کـړي دي، چغې وهـي. زمـوږ راتګ، طبعـاً هر چاته پـه زړه پـورې دی. دا هـر څـه رانېـږدې کېـږي، واضحـه کېـږي. تر هغـو چې موږ پـر ځمکه څښـېږو او بیا درېږو.

یـوه ډلـه زموږ پـر لور را منډه کوي، لکـه د موچیو ځاله، لـه الوتکـې راتاوېږي. د کابیـن دروازه پرانسـتل کېـږي. دواړه افغانـان د ملګرو غېږو ته ځـان وراچوي.

زما پښې رېږدي، سر راباندې گرزي. تور لاسونه را نه تاوېږي. د سترگو په رپ کې مې یونفورمونه او خړ خندني مخونه تر سترگو کېږي. په خوږه لهجه فرانسوي کلمې مې پر غوږ لگي. دوه ځوان افسران را ته وايي:

- پاریس. زه پاریس ته د هوانوردۍ د زده‌کړو له پاره تللی وم.

- زه هم...

لږ لرې، یو څو نورې څېرې را ته ښکاري. قهرجنې، لکه راباندې ریشخند چې وهي. ولې؟

د خلکو په منځ کې یو موټر رانېږدې کېږي. یو نروچکی سړی، چې شاپو خولۍ یې پر سر ده او طلایي نرۍ رېږه لري، ترې راکښېوزي. رنگ یې تللی، سا یې ځي راځي. په بیړه را ته سلام اچوي، او بیا مې بې هېڅ ډول تشریفاتو له لاسه نیسي او ځان پسې مې کشوي.

- هله مېرمنې، ښار لا چندان ډاډمن دی.

دا ښاغلی ریکس د شوروي اتحاد د سفارت شارژدافیر دی. تر یوې ثانیې په کم وخت کې زه په موټر دننه شوم. دوه غټ غټ خدای وهلي داړه‌ماران، ټوپک په لاس، دواړو خواوو ته پر پایدان راټوپ کوي او چغې وهي. دوه نور د ډرېور خواته پورته کېږي. موږ په خورا چټکتیا روانېږو.

ښاغلي ریکس را ته په انگرېزي وویل:

- ستاسې الوتکې بې حده اندېښمن کړي وو. هېڅ لاره نه وه چې منع کړې مو وای. نه تلېگراف شته او نه مخابره. پرون...، که پرون راغلي وای خدای خبر چې څه به کېدل؟ هوايي ډگر د مخالفو په لاس کې و. بېگا شپه او نن سهار جارچیان په ښار کې وگرزېدل چې که چا پر تاسې ډز وکړ اعدام به شي.خو...

زه بیا وروسته خبره شوم. دا ټوپکونه چې زموږ خواته یې خولې رااووښتې وې، د دې له پاره نه وو چې د خوشالۍ ډزې وکړي. ویل کېږي چې پنځوسو گولیو زموږ هرکلی وکړ. یوازې یوه یې پر ماشین ولگېده. د ماشین غرهار موږ ته اجازه رانه کړه چې د ډزو غږ واورو. خدای دې سیروکو توپان ته خیر ورکړي، ما ورته

ځومره ښېرا وکړې. موږ یې اته څلوېښته ساعته په ترمز کې و ځنډولو او زموږ ژوند یې وژغوره. خوارکی ښاغلی ریکس چې ورمه ورځ، له خطر سره سره، په ټول کابل کې گرزېدلی و او زاری یې کولې چې که څوک ورسره د مخابرې په جوړولو کې مرسته وکړي.

که مخابره نه وي، زموږ الوتکه مو له لاسه ځي. خو الله ته به منظوره نه وه.

موږ په ډېر چټکی روان یو. په لار کې د انسانانو نندارہ چې منډې وهي، د اوښانو او اسانو پړسېدلي جسدونه، انساني شکل، په لار کې پروت، یوه شنه دروازه برانستل کېږي. د طلایي چنارونو دوه کتاره، اخوا، دننه یو سپین کور چې د استعمار د وخت معماري یې وه، د مخ پر دېوال درې رنگه بیرغ رپېږي. دا د فرانسې سفارت دی.

# څلورم فصل

## د فرانسې د سفارت لوټېدل

کلابند شوي او د هغوی خوشخویي – د یو دقیق لوټمار نتیجه – په خرابو کې غرمه ناری – د کابل د ساتلو له پاره جګړې

په داسې حال کې چې موټر په چټکتیا د خلکو په منځ کې وړاندې ځي، د ډزو په غړونو او شور کې مې ناڅاپه، د ګرزنده پګړیو، سپینو پراخو کالیو، تورو ډاروونکو ګاښونو او د اور غوندې سترګو والا ځېرو په کتار کې دوه اروپايي شکلونه تر سترګو شول چې زموږ خوا ته راروان وو. یو يې ښه پېژنم. دا دی د فرانسې دغې ټوټې ته له رارسېدو سره ښاغلی هاکن د ګیمې موزیم مشر، په افغانستان کې د فرانسې د لرغون پېژندنې د ماموریت مسوول، او ورسره تل حاضر، د سفارت وفاداره ژباړن امیر خان زموږ مخې ته ولاړ دي. ځومره يې په لیدو د سړي زړه سکون مومي. دنګه ونه، مظبوط بدن، سورککی مخ او تر پراخې تندې لاندې دا نیغ، روښانه نظر چې کله په کې د جذبې نخښې ښکاري او کله د طنز. دا ریښتینی، ژور نظر چې د ملګرو خوښېږي، د چا فکر ته د یو عالم پر ځای یو سپورټمین یا د ناآشنا سیمو پلټونکی دروي. حقیقت هم دا دی چې دی دواړه صفات لري. په وازه غېږ يې په موسکه خوله راغږ کړ:

- ښه، ښه! دنیا څنګه روانه ده؟ ستاسې الوتکه یوازینۍ اړیکه ده چې موږ له دنیا سره تړي!

ما پرې ناري کړې:

- دنیـا پرېـږده! تاسـې څنګه یاسـت؟ ښـاغلي ریکس را تـه همدا شـېبه وویل چې څـو شـپې د مخه لوټ شـوي وئ.

- مننه، ډېر بد نه یو. لږ وروسته به ورانۍ په خپلو سترګو وګورئ.

یو لوړ خندنی غږ اوچت شو:

- ریښتیا هم چې یوه شېبه مو هم زړه نه دی تنګ شوی.

ګـډې وډې څنـې، طلایـي رنګـه څوکړه رږیره، د عینکو شـاته ابي سـترګې، دا دنګ هلـک ژان‌کارل دی. اصـلاً د لورېـن دی خـو په پاریس کي اوسـې او د نوکانو تر څوکو پـورې لـه ښـکلو هنرونـو د فارغ شـوي، دیپلـوم انجنیـر ټول ظواهـر لري. په سـفارت کـې کار کـوي او د سـفارت هـرکاره دی. هـره ورځ د کارونـو د اسـانتیا لـه پـاره نـوي سیسـتمونه راوبـاسي او خـدای شـاهد دی چې دلتـه دې کار ته سـخته اړتیا ده.

هلته د زینو له پاسـه، د سـفارت یو اړخ ته، مېرمن ژیرار راښـکاره شـوه، غوړېدلی مـخ چـې د سـترپاوو نخښـې پـه کـې پـه ګرانـه ښـکارېدلې. او بیا ښـاغلی ژیـرار، په کابـل کـې د مېشـتو فرانسـویانو تـر ټولـو مشر کـس چې دا یـې په کابـل کـې اوم کال دی. لومـړی د فرانسـوي ښـوونځي د مرسـتیال مدیـر پـه توګه راغلـی، بیا یـې د کرنې د ښـوونځي بنسـټ کښېښـود او مدیـر یې شـو. د خندني غاصـب له راتلـو سره، چې لومـړی کار یـې د ښـوونځیو بنـدول وو، هـر څه تـرې ولاړل، یـوازې پر ځـان باور یې ورتـه پاتـې شـو. همدلتـه یـې پښـې ټینګې کـړې. نه یې غوښـتل چې پیل شـوی کار نیمګـړی پرېـږدي. فرصـت ته په تمـه و، او دا دی فرصـت راغی. دی او ورسره کسـان دلتـه یـوازې وو، ځکـه چـې د ښـاغلي هاکـن ماموریت له فـارس څخه ایلـه د جولای پـه میاشـت کې راورسـېد. اوږده پـوزه، توره ږیـره، یوه لویـه د خوب چپنه پر غـاړه د یو عـرب غونـدې ښـکاري. دلتـه پـرې اکثره خلـک د ملا ګومـان کوي.

زه هـر یـو بېـل بېـل، او ټول یـو ځای لـه نظره تېـروم. زما په فکـر کـې دا ورځې او شـپې اوړي را اوړي چـې لـه ګواښـونو او یرغلونو ډکې وې او هره شـېبه په کې داسـې فاجعـې شـونې وې چـې هېڅ چاره یې نه شـته. د دوی ارامتیا، د دوی زغم او خوشـاله

طبیعت را تـه حیرانوونکي وو. ریښتیا چې زموږ د هېـواد وګړي دی.

پـه دې وخـت کې یـو کوچنوټی کس راورسـېد، لـوړه ګلابي پوزه، ارتې سـپېږمې، خندنـۍ خولـه. دا رولانـد ژیـرار دی، د کابـل مېشـتو اروپایانـو تر ټولو کـشرى. پینځه کلـن خـو پـه هـر څـه پـوه. د نـړۍوال ګاوروش میناتـوري څېـره چـې پـه درې ژبـو (د افغانسـتان ژبـه، د پـارس ژبـه او د پآریـس ژبـه) کـې د کوڅـې لهجـه او ښـکنځلې کارولای شي. یـو درې رنګـه بیـرغ یـې تـر مـلا تـاو کـړی دی. د چوغکـې غونډې په نـازک غـږ یـې وویل:

- دا مردارخواره دې ما نه لېرې ګرزي!

مور یې ورته د عتاب په ډول اشاره وکړه. بیا یې په غرور وویل:

- ریښـتیا هـم چـې د ټولو ګولیـو او د ټوپـک لـه ډزو سره سره هېـڅ ونهوېرېده. او دې ښـکلي ګـردي مـخ ته یـې ګوره، هېـڅ کلـه دومره ښـکلی نه و.

ما جزییات وغوښتل. راته وویل شول:

- راځـۍ اول خو ځای وګورئ.

د فرانسـې سـفارت یـو خـورا بـد، او کـه لـه بـل اړخـه ورتـه ګـورې خـورا ښـه، موقعیـت لـري، د ښـار په منځ کې دی. بـاغ یې چې دوه لارې په کې ایسـتل شـوي له دروازې د کـور تـر زینـې پورې شـپېته متره دی. د بهرنیـو چارو وزارت تـه مخامخ دی. او وزارت پـه خپلـه د ارګ پـه ګاونـډ کـې دی. ارګ هغـه کلا ده چـې حبیبالله په کې ځـان کلابنـد کـړی و او بېګا شـپه تـرې ووت. بد مرغي دا ده چې د سـفارت هغه دېوال چـې اصـلي تعمیـر ورتـه تکیـه دی، دروازې په کې ایښـې دي د هغې مانـۍ له لاحقې سره شریـک دی چـې پخـوا په کـې د امانالله مور اوسـېده کله چـې غلپاچا پر تخت کښېناسـت، دا مانـۍ یـې خپـل کـشر ورور، حمیداللـه ته (چـې پـه اروپایـي وګړو کې بـه «کـشري ورور» مشـهور و) وبخښـله. نتیجه دا شـوه چـې د بریالي لښـکر تالانګرو ورتـه پـه منـډه منـډه ځانونه راورسـول. یو وار یـې چـې د کـشري ورور کور ښـه ولوټه، د څنګ دروازو تـه یـې پام شـو. ماتول خـو یې د ماشـومانو د لوبې غونډې اسـانه وو. دېـوال سـوری شـو، دوی ورننهوتـل. د دې وحـشي جنګیالیو لـه پاره د لوبې خوښـۍ

خبره دا وه چې د یو کوچني دېوال شاته، په پرانستي ځای کې د مهماتو صندوقونه پراته وو. کارتوس، د دې وخت نایابه متاع، تر سرو زرو ارزښتمنه. په جوختو پښو، سفارت ته ورننه وتل. نور نو په خپله پوهېږئ چې هملته پاتې شول. نورې دروازې یې چې ماتولې، سرو رسیو باندې ترل شوې وې چې دواړو خواوو ته یې د فرانسې د جمهوریت نښانونه ځوړند وو.

په اسانه فکر کولای شئ چې د ډیپلوماسۍ دغو نزاکتونو د سارا پر دې شوخوماشومانو څه اغیز درلودای شو؟ د اغیز نخښې یې په ډېر روښانه ډول به ګډووډو شوو خونو کې، په وړل شویو قالینو کې، په څیرې شویو پردو کې، په پورته شوو توشکونو او بړستنو کې، په ماتو کټونو، درې ورې الماریو، ټوټې ټوټې میزونو او چوکیو، پر ځمکه د هندارو شیندل شوو ټوټو، او خورو ورو بکسونو کې تر سترګو کېدې. د ښاغلي هاکن بکسونه ښه په دقت مات شوي او تش شوي وو. سم په اخلاص یې کار کړی و.

یو شپه د مخه، د دوړو خوړلو په خونه کې یو مېز په خواشینونکي حالت کې پروت و، درې پښې یې په هوا کې وې او یوه یې لوېدلې و. نه پوهېږم چې په کومه معجزه دا مېز ولاړ و، جوړ شوی و، سپین دسترخوان پرې غوړېدلی و او په ښکلو ګلانو سینګار شوی و. د فرانسې د کور د مېرمنو معجزه. زما له پاره یې د مدنیت بېرته راتګ افتتاح کړی و. او د فرانسې خواږه نعمتونه چې را نه هېر شوي وو، ښکلا او شراب. هلته د شامپاینو د بوتل ښکلي طلایي څرې ځلیده. د دومره ډېرو شنو، تورو او سرو چایو له لښتیو وروسته د لمر ځګونه څه عجیبه نشه!

په خندا او خوشالۍ سره خبرې کوو، هرڅه هرڅه وایو. وروسته، د قهوې څښلو پر مهال، په برنډه کې، ترمې روښنایې ته، د نرډې چاودنو، د ټوپکونو د ډزو او د ګولیو د پستې غنګا په منځ کې، ورو ورو له خندا او سکوت سره ځان له حالاتو خبروم. د دې مسخره تراژیدۍ کیسې.

په اول سر کې کوربنو را ته د جنګ د جریان او برخلیک په اړه خپل حدسونه وویل چې کله مې چې دوه ورځې وروسته له شاه‌ولي خان سره (چې د نادرخان ورور او د اردو مشر جنرال دی) مرکه وکړه، اکثره یې ریښتیا وختل.

د سپتمبر د شلمې شاوخوا په کابل کې اوازه شوه چې د جنوب يوې قبيلې، اڅکزيو، کندهار (د هېواد دويم لوی ښار) نيولی دی او د ښار تر نيولو وروسته د نادرخان له پوځونو سره د يوځای کېدو په موخه وخوزېدل. په همدې وخت کې په جلال اباد کې، د هند پر څنډه، يو پاڅون وشو چې د حبيب الله د پوځونو له خوا - چې ښار يې په لاس کې و - و ځپل شو، خلک غرونو ته وختل او تر انګرېزي واک لاندې سيمو ته وتښتېدل. ايا دا لنډمهالی، ژر ځپل شوی پاڅون خو به د نادرخان يوه نظامي مانوره نه وه چې د حبيب الله د هغو پوځونو يوه برخه بل خوا متوجه کړي چې د کابل دفاع يې کوله په داسې حال کې چې يوه بله برخه يې د کندهار د بېرته نيولو له پاره روان شوي وو. چانس که محاسبه؟ په هر حال نادرخان لا د مخه ګردېز - چې د پلازمينې سوېل ته په سل کيلومترۍ کې پروت دی - نيولی و. نادرخان د دښمنو ځواکونو له دغه لېرې والي ګټه واخيسته او په چټکتيا پر مخ ولاړ. د اکتوبر پر پينځمه يې ميدان ونيو. نهه بجې وې چې د کابل په شل کيلومترۍ کې، چارآسيا ته د راتګ خبر يې خپور شو.

د اکتوبر پر شپږمه، سهار وختي، زموږ ملګري وپوهېدل چې پر ښار يرغل شوی و. له ښاره وتل ناشوني وو. درې کيلومتره وراخوا، په دارالامان کې جنګ روان دی. دا هغه نوی ښار دی چې ما يې له الوتکې څخه په ډېر خوند ننداره کړې وه. نېغ په نېغه د امان الله له مغزو راوتلی خو لا تر اوسه څوک په کې نه اوسېږي.

په هغه هواره ساحه کې هم جنګ روان دی چې د دوو دېوال لرونکو غرونو په وسيله د کابل ښار سره بېلوي. ويل کېږي چې د المان سفارت چې له ښاره وتلی، د غونډۍ پر لمن، د باغونو د چوترو په منځ کې پروت دی د شاه ولي خان لښکرو نيولی دی.

خو حبيب الله لا هم پر لوړو حاکمو نقاطو برلاسی و، په خاص ډول پر يوه غټه ګټه چې د «بابر» په نامه توپ پرې لګېدلی و. بمونه، د ماشينګنو ټک ټک او د ټوپکو ډزې.

ښاغلی ژيرار، ژان کارل او ژبارن اميرخان ووتل چې په ښار کې وګرځي. کوهستانيان، يانې د حبيب الله پلويان له خپلو پوستو راوتلي وو چې په ښار کې

چـای و څښـي. کوهسـتان، د کابل شـمال ته پرته هواره سـيمه، د غاصـب ټاټوبی دی. ريښـتيا هـم هغـوی دلته دي او له ځانه پوښـتي چـې ببرته به هلته وختـلای شي که نه؟ د ښـار اکـثره دوکانونـه تـړلي دي. يـو جارچي ښـکته پورته کېـږي، چغې وهـي چې د پاچـا امـر دی، کـه کوم دوکانـدار خپل دوکان بند کړ پـه دار به و ځړول شي او شـتمني بـه يـې ضبط شي. خو په تلـو تلو کـې د هغه غږ هم ټيټېږي. شـېبه وروسـته يـوازې د شـتمنيو د ضبـط خبره کـوي. بيا ناڅاپه غلی کېـږي او پناکېږي. له دې پوهېدلای شـو چـې حـالات څومره په منـډه دي.

لـه يـوې نسـبتاً ارامـې شـپې وروسـته، د اکتوبـر د اومـې پـر سـهار، د کابـل ښـار شـاوخوا پـر ټولـو حاکمـو لـوړو ځايونو عمومـي بريد کېـږي. هره خـوا گـډوډي ده. پـه داسـې حـال کـې چې اوښـان پـه پـوره ارامـۍ او زنگېدلـو قدمونـو توپونه لـه يوې غونـډۍ بلـې تـه وړي، تښـتېدونکي پوځيـان ډلـه ډلـه د کوهسـتان پـر لـور روان دي.

حبيب‌اللـه په خپله، داسـې ښـکاري چې له تېرې شـپې راهيسـې يې ځـان څو تنه کـړی وي، هـر ځـای کې ښـکاري. د خړ قره‌قل خولـۍ يې پر سر ده، تنگـه لمن يې پر سـپين پرتاگـه پرتـه ده، غـټ، خندانه مـخ، په خپـل لاس د يوې غونډۍ پـر سر، ختيځ لـور تـه، توپونـه چلوي. يـو ژباړونکـی زموږ لـه فرانسـويانو سره مخ کېږي. هغـه ورته وايـي : «پاچـا تاسـې تـه بلنه درکـوي چې ورشـئ وگـورئ چې څنگـه توپونـه ولي!» واقعيـت هـم دا دی چـې اعليحـضرت د يو ماشـوم په څېر خوشـاله ښـکاري. هر وار چـې پـه کـوم کلي کـې کـوم کـور لگېـږي، لاسـونه پړکـوي او شـاوخوا ملگـري يې د پيغمـبر څلـور خليفه‌گان يـادوي: ياچاريار ! لکه مـوږ چې وايو «هيـپ، هيـپ، هورا!»

جگـړه تـر مازيگـر ناوختـه پـورې دوام کـوي. د غرو پر څـوک د نادرخان عسـکر راښـکاره کېـږي. هغـه مـوره چـې د بابـر تـوپ پـرې لگېدلـی، نيسي خـو د تـوپ په کارولـو نـه پوهېـږي. دا يـو فرانسـوی ۱۰۵ مـلي مـتره تـوپ دی چـې کوهسـتانيانو يـې ببخ ايسـتلی و. کوهسـتانيان هـم يـوه زړه‌وره متقابله حمله کـوي او افغانان پرشـا تمبـوي. پـه دې وخت کې يوه ښـکلې اورلوبه پيلېږي. داسـې ښـکاري چـې يو افغان افسر چې د جنوري له اووښـتون راهيسـې له حبيب‌الله سره بندي و. دا زموږ د ونسـن د توپچـي د ښـوونځي پخوانـی شـاگرد دی چې د امير تر مسـتقيم نظـارت لاندې دي

کار تـه اړ شـوی دی. غالباً چې توپچي ته هـم لوبې خونـد ورکړی و، نخښـه نيسي، گـوزار سـموي او هـره گولۍ پـر ځای لگېـږي. ويار يـې د اسـتادانو دی!

د نـادر افغانـان – يـا د تخريباتـو د رامنـځ تـه کېدو له وېـرې، يا د مهماتـو د کمبود لـه وجهـې، واقعيت به وروسـته ښرگند شي – په شـاکېږي. په سـرکونو کې سمدلاسـه د نظامـي سـازونو او د خوشـاليو د چيغـو انـگازې راپورته کېږي او کوهسـتانيان په لوړ غږ ځلوريـاران سـتايي.

خـو ډېـر وخت نه. پر همدغه ماښـام اوازې خپرېږي چې د ارگ کلا اسـتحکامات نيـسي او شـاوخوا خندقونـه يـې لـه اوبو ډکېږي. په سـبا يې څـه خـبر دی؟ حبيب‌الله پاچـا ځـان لـه پينځه سـوو ملگـرو سره پـه ارگ کـې کلابنـد کـړی. پرېکړه يـې کړې، خپـل ژوند پـه ارزانه له لاسـه نـه ورکوي.

حبيب‌اللـه؟ نـه. د کابـل اکـثرو خلـک، چـې د مجبوريت لـه مخې زغامـه خو له زړه يـې تـرې کرکـه کولـه او هيلـه يـې درلـوده چې نور بـه نسـکورېږي، ورته «د سـقاو زوی» وايـي. کلـه لا ورتـه د «سـگاو زوی» هـم وايـي چـې د افغانانو په ژبه کې سـپي تـه اشـاره ده. شـايد چـې پـه دغه ماښـام هغـه خوارکـي «د سـپي زوی» خپل اقبـال له زوال سره مـخ ليـده او د خپلـې حيرانوونکـې ماجـرا پـای ورته ښـکارېده. شـايد هم د «قسـمت» ناڅرگنـده انگېزه بـه وه چې دوه ورځې وروسـته يې دغه نـه ډارېدونکي غل تـه د کمـزورۍ احسـاس پيـدا کـړ، په داسـې حـال کې چـې تصور يـې هم نـه کېده.

# پینځم فصل

## د فرانسې د سفارت د کلابندۍ څلور ورځې

بریالي کابل ته ننوځي – څرنګه ترکي مېړمنو تېرایستل – د سفارت باغ ته د اندېښنې وړ راتګ – د بازار تراژيدي-کومیډي لوټمار

تر دې ځایه د جګړو حوادث زموږ د فرانسویانو تر سترګو لاندې د یو ډېر په زړه پورې فلم په شان تېر شوي وو خو اوس لکه مجبورشوي فلمي ستوري، اړ وو چې په خپله هم ولوبېږي.

د اکتوبر د اتمې له سهار یې د خړو-نسواري جامو والا جنګیالي ولیدل چې د سوېل-لوېدیځ له لورو، هغه ځای چې تر پرونه د سقاو د زوی د کسانو په لاس کې و، په څپو راروان وو.

خړ-نسواري یونیفورمونه یوازې په هند کې اخیستل کېداي شي. دا ډلې چې راروانې وې، کوهستانیان (د شمالي قومونه) نه وو د ختیځ پوځیان وو، د نادر لښکرې.

ناڅاپي یوه دوزخي غوغا پورته شوه: کړیکې، چاودنې، د ډزو بارونه. امیر خان چې د خبر اخیستلو له پاره وتلی و، وویل چې عمومي باغ ونیول شو. یو اوږده همهمه په کوڅو کې د سېلاو غوندې خپرېږي.

زموږ ملګري د سفارت له دروازو وځي، یو لنډکی چکر وهي. لومړی بریالی سپاهي ورته مخې ته راځي. یو دنګ دیو چې یوازینۍ وسله یې د لرګي پر لاستي نښتی یو تبر

و. هلته له یوې نېږدې ماڼۍ د چغو غږ راځي. دا د یو ترک کور دی، یو مردارخور چې په پینځلسو کالو کې یې د دریو بادارانو چاپلوسي کړې وه، لوټلي یې وو او خیانت یې ورسره کړی و. د امان‌الله نېږدې سړی چې په پوره بې حیایۍ د حبیب‌الله غېږ ته ورغلی و. د هغه کور، له لومړیو لوټ شوو کورونو و. دی په خپله بوهېده چې د حساب وخت رانېږدې دی، چېرته پټ شوی و. ویل کېدل چې د کوم ملګري «پیر» کور ته یې پنا وړې ده. خو د کورنۍ څو مېرمنې یې نر غوندې پرځای پرې ایښې وې. ښځه او ختیځ‌واله، یانې د چلونو او فرېبونو غبرګه متخصصه. هغوی الله خپلې مرستې ته راوغوښت. ځانونه یې په لویو پړونو کې ونغښتل، قرآنونه یې مخې ته کښېښودل او په تلاوت لګیا شوې، داسې لکه د دنیا له حاله چې نه وي خبرې. ژړل یې، زګېروي او اسوېلي یې کول. داسې ښکارېدې لکه په وجد کې چې وي. پاک زړو لوټمارو فکر وکړ چې که بیبیانې دي خو همدوی دي. پړوني یې ورښکل کړل. د غلا په مالونو بار بېرته ترې ولاړل او په تلو تلو کې یې څو روپۍ هغو ته په لاس کې کښېږدلې.

په داسې حال کې چې د کومېډي دا صحنه د ترک په کور کې لوبېده، څنګ ته یې د جنګیالیو یوې بلې ډلې، چې ښه کش و فش یې درلود، د فرانسې د سفارت د یوې دروازې قلفونه ورماتول. د سفارت خلک پرې خبر شول، په منډه ورغلل بیرغ یې ورته وښود. خبرې، چنې وهل، خو هغوی په دې کیسو پوهېدل؟ اخر یې وویل:

په خپل کور کې پاتې شئ، ضرر نه دررسوو خو کوهستاني ساتونکي مو موږ ته راکړئ چې چارماري یې کړو.

دا نهه تن خوارکي ازبکان وو چې د حبیب‌الله له خوا د سفارت د ساتنې له پاره ګومارل شوي وو. په ټولو یې یو ټوپک نه درلود. لاس یې ورواچاوه. هغوی له ډاره رپېدل او خپلو فرانسوي بادارانو ته یې داسې په التماس کتل لکه غوایان چې د قصاب تر چړې لاندې وي. بیا خبرې، مذاکرې او چنې شروع شوې. ښاغلي ژیرار او امیر خان سوالونه کوي، استدلال کوي، چنې وهي. یو څه تردید پیدا کېږي، بیا لوټماران وایي:

- سمه ده، خو ورکېږي دې! چې بیا چېرته مخې ته را نه شي! که نه...

د ټوپکونو د شپېلیو مخې ته، نهه واړه ژغورل شوي د سویانو په څېر خپلې کوډلې ته منډه کوي او هملته ځانونه خوندي کوي. اوس نو مهاجمین ترې دي:

- چای راوړئ!

- د الله شکر دی چې پر دې خلکو يې شراب حرام کړي دي که نه ، چې د بريا له نشې سره دويمه نشه يوځای شوې وای خدای خبر څه به کېدل! خو په دې وضعيت کې چا سودا نه وه کړې. ښاغلي ژېرار وويل:

موږ چای نه لرو

- ښه نو پيسې راکړئ. څلوېښت روپۍ! سمدلاسه!

يو سل او شپېته فرانکه د څو پيالو چايو له پاره! اخر کې په دولسو روپيو خلاص شو. مهاجمين ووتل. موږ سا واخيسته.

لږه شېبه وروسته بل د خطر غږ. د سفارت په مرکزي تعمير کې يو بې رقمه غالمغال اورېدل کېده. غږونه د حبيب‌الله د «کشري ورور» له کوره راتلل. د لاحقې له دريځو گواښوونکې خبرې اورېدل کېدې:

- اوس به دې په دار کړو... ټول په دار کړئ، دستي!

څه خبره وه؟

ښاغلی هاکن او ښاغلی ژېرار چې په ځار ولاړ وو، ناڅاپه د څلورو بدشکله بلاوو سره مخ کېږي چې ټوپکونه يې ورته نيولي دي. دا هغه کسان دي چې د سفارت دېوال يې مات کړی دي. بحث گټه نه لري. زموږ ملگري په ناتوانۍ سره د لوټمار صحنې ته گوري.

په سرک کې د روانو ډزو سره سره، امير خان په ډېره مېړانه ووت چې پوليس راپيدا کړي. ښاغلي ژېرار، ښاغلی هاکن او ژان‌کارل، تمانچه په لاس همدلته پرېښودل او په خپله لوڅ سر او لوڅې پښې، په داسې حال کې چې يوه پښه يې ژوبله هم وه، بهر منډه کړه چې جنرال شاه‌ولي خان راپيدا کړي. يوازې د منگلو يو مشر په لاس ورغی. زلمی، دنگ او سوروور لکه برج. منگل يوه ډېره پياوړې او ښکلې قبيله ده چې د نادرخان په ملاتړ راوتلې ده. شاوخوا لوټماران لگيا دي، مالونه چلوي، په گاډيو، کراچيو، لاريو او موټرو کې يې – چې په چلولو يې هم نه پوهېږي – باروي.

ناڅاپه ښاغلی ژیرارد د یوه کس پر اوږو درې د سفارت قالینې پېژني. مشر ته یې ورښکاره کوي. هغه غله ته وايي:

- دا بېرته ورکړه!

غل، لکه مخ یې چې دلرګي نه جوړ وي، ځان ناګاره اچوي.

- نه یې ورکوې؟... نه یې ورکوې؟

د زلمي تر بړېږې لاندې غړمبا شوه او دوه درې لغتې یې د غله ګېډې ته حواله کړې. سړی قانع شو. ښاغلي ژیرار درې‌واړه قالینې سفارت ته راوړې. نور څه یې را نه وړل. زلمي ژمنه کړې وه چې کسان به ورولېږي خو لکه چې نور غله ورته په لار کې وو.

دلته لوټمار ښه په کش کې روان و. چوکۍ او مېزونه غورځېدل، بکسونه ماتېدل، پردې، جامې، توشکونه او برستنې یوه خوا بل خوا الوتل. په دې وخت کې د سفارت کسانو وغوښتل چې هغه نهه ازبکان، چې ژوند یې په یو نري تار نښتی و، وباسي.

- هلئ، د شاه‌ولیخان لښکرې راننوځي، ځغلئ که نه چارماري کوي مو!

له دننه څخه یو سپن هم نه راځي. لغتې، چغې، غږونه.... ښه شېبه وروسته یوه سر راپورته کړ، په مات غږ یې وویل:

- چېرته لاړ شو؟

ژان‌کارل ورنارې کړې:

- هر چېرته چې ځئ خو له دې ځایه ورک شئ. «زود برو!»

ښه ځنډ وروسته یې تلو ته زړه ښه کړ. کړوپه ملا، سر تر توشکو او برستنو لاندې پټ. لا د کوهستان د لارې لومړي ګرزني ته نه وو رسېدلي چې پر سرک د ارګ له خوا د ډزو باران جوړ شو. د کتار وروستي کسان لیدل کېدل چې په ټوپونو کېل، پېټې یې غورځول او یا پر سینه تښتېدل. د کوم برخلیک پر لور؟ په هر صورت څرنګه چې هغه کسان ووتل، هماغه مهال یو ښه فېشني افسر د یوې ډلې سره راورسېد. بیا خبرې شروع شوې، د فرانسې د بیرغ درې رنګونه مخې ته شول:

- ښه سمه ده، څه درته نه وایو خو ستاسې کوهستاني ساتونکي چېرته دي، هغوی

پسې راغلي يو!

ژان‌کارل وويل:

- ساتونکي؟ دلته خو څوک نه شته!

- څنګه څوک نه شته؟ موږ ته ويل شوي چې…

- هېڅوک هم نه شته. په خپله يې ولټوئ.

په دې وخت کې ښاغلي هاکن لاسونه پورته کړل. د ساتونکو د تښتېدو پر مهال هغه وتلی و.

- ليوني ياست که څه؟ که پيدا يې کړل تباه يو!

وروسته له دې چې هر ځای يې ښه په اخلاص تالاشي کړ، ډلګۍ ووتله. په همدې وخت کې يو افغان کرنېل، چې خدای خبر چا به راغوښتی و، پر اس سپور باغ ته راننه‌وت. له لېرې يې پر څلورو لوټمارو، چې د سفارت پر چوتره يې د لوټ مال سره وېشه، غږ وکړ. يو څو تودې خبرې ښکته پورته شوې خو هغوی يې په مخ کې نېغ شول، ټوپک يې ورته ونيو. کرنېل ولې پورته وغورځول:

- ښه ګورئ چې څه نه شم کولای.

هغه ووا‌ته خو اس يې د فرانسويانو په غوجل کې پرېښود او ويې ويل چې واښه ورته واچوئ.

په همدې جريان کې خبر شو چې پر انګليسي سفارت بريد شوی دی. څرنګه ممکنه ده چې مرسته ورسره وشي؟ د لوټمار د زړه‌بوږنونکومنظرو د دفع کولو په خاطر ښاغلی ژيرار، ژان‌کارل او امير خان له يو انګړه بل انګړ ته، له يو کوره بل کور ته، د وچو لښتيو په منځ کې او د ماشيندارو تر باران لاندې ځانونه بازار ته ورسول. هغوی خپله کودک کمره هم له ځان سره اخيستې وه.

دغه دې چې د يوې حيرانوونکې صحنې سره مخ شول چې ويل يې ناشوني غونډې ښکاري. يوه دردوونکې او خندوونکې لوبه، او ښاغلی ژيرار چې راورسېد ګډوډې نوره هم زياته شوه. بد مخې، قهرېدلي کسان يو بل ته ښکنځلې کوي. پر يو بل ګوزارونه

کوي، د غنمیت مالونه سره تبادله کوي. خو دا هماغه مخکیني کسان نه دي. یوه ډله لګیا ده ځان پسې د کالیو ډکې کراچۍ کشوي، نور لګیا دي د غلا له سل قسمه شیانو ډک موټر ټېله کوي. د لوټ شویو دوکانونو مخې ته ځوانان لګیا دي پر دوکاندارانو هماغه مالونه خرڅوي چې ترې یې لوټلي دي. هلته نور پر زینو ناست دي په زرګونو روپۍ، د پخواني ډول د سروزرو روبلونه، ګاڼې او د سپینو زرو توکي شمېري.

دوه تنه کوښښ کوي چې د یو موټر سایکل پېچلې پرزې وڅېړي. یو بل د یوې پرمختللې کمرې ګردۍ سترګې ته ځیر دی.

د یورودونال د یو بوتل ګټونکی له ژان کارل څخه پوښتنه کوي:

- دا د څه شي له پاره دي؟

کله چې ژان‌کارل ورته په تشبیهاتو او استعارو د درملو اغیز ووایه، هغه د نورو د خنداوو په منځ کې ووېل:

- زما خو پښتورګي نه خوږېږي!

همدې ته ورته د تلګراف د ولټمیټر خاوند چې کله چې ورته د غنیمت ګټې او کارونه ویل کېږي، خوله کږه وږه کوي.

نور نو، که له اخوا دې خوا یو دوو قهرېدلو صحنو ورتېر شو، فضا د خوشالۍ ښکاري. د لوټونکو او لوټ شویو تر منځ د ښکنځلو او پېغورونو بازار ګرم دی. حتی هغه درې کوهستاني بدبخته چې په پړو تړل شوي او ممکن چې شېبه وروسته اعدام شي خپل بدمرغه برخلیک ته د بې تفاوتۍ په نظر ګوري. ډېر ارام، ډېر درانه، سترګې یې شنه اسمان ته نیولې دي او هغه نور یې مخې ته چړې اړوي را اړوي.

د دې ډله ییزې خوشبینۍ دلیل څه کېدای شي؟ د کابل یو دوکاندار یې وایي:

- ډېر څه مو له لاسه ورکړل، ښار لوټل شوی، خو په یو کال کې به دا هرڅه بېرته ورغېږي. مهمه دا ده چې غل وتښتېد او نادر بریالی شو.

او له دې سره، څلوریاران یادوي.



فرانسویان د لوټمار پر مهال د فرانسې په سفارت کې کلابند – (عکس: کارل)

له کیڼې خوا ښي خوا ته: د سفارت ساتونکی جنرال، اندرې ویولیس، منګل عسکر، ښاغلی هاکن، ښاغلی ژیرار، امیرخان د فرانسې د سفارت ژباړن، منګل عسکر



د مرنجان غونډۍ (د کابل په یونیم کیلومترۍ کې)
د حبیب‌الله پاچا عسکر خپلې موضع ته ځي (عکس: کارل)



د سوېل قبایل د ښار د نیولو پر ورځ په کابل کې خپرېږي

# شپږم فصل

## د کلابندۍ وروستي جریانات

د ختیځ او سوېل بریالي قومونه څه دي - د حبیب‌الله کوهستانیان صحنې ته را ننه‌وځي - ګولۍ اورېږي - د ارګ اورلګېدنه - شاه‌ولي خان رارسېږي - کلابندي ماتېږي

---

د اکتوبر پر اتمه، د ماښام خواته، هڅاند ښاغلی ژیرار بریالی شو چې شاه‌ولي خان پیدا کړي. دا ستر جنرال، چې د ټولو عملیاتو مشري یې په غاړه وه او د څو ورځو راهیسې یې دمه نه وه کړې، په دې خبر، چې د فرانسې سفارت لوټل شوی او د انګلستان سفارت باندې برید شوی، سخت خواشینی شو. رسماً یې بخښنه وغوښته. نادرخان خو په دې اړه یوه اعلامیه ورکړې وه چې د بهرنیو ژوند او مال په خوندي وي او سرغړوونکو ته یې د مرګ سزا اعلان کړې وه. په خپله شاه‌ولي خان هم په وارو وارو داخبره تکرار کړې وه خو دا هم هېرول نه دي په کار چې د نادرخان پوځ یو رسمي متشکل پوځ نه و. که څه هم د امان‌الله د پوځ ګڼ شمېر افسران په کې شته خو ډېری لښکر قومي سرتېري دي چې وسله یې اخیستې: وزیر، منګل، شینواري، اپریدي، دراني، هزاره او بلا ډېر نور. دا کوچي قومونه چې د سوېل له دښتو راغلي یا د ختیځ په ډبرینو ځمکو کې په خوارۍ ژوند کوي، په پرله‌پسې جګړو کې ښکېل دي، یو له بله دړي، ورشوګانې او کرنیزې ځمکې لاندې کوي. د کال یوه برخه په دې تېروي چې رمې څربې کړي، د ځمکو حاصل واخلي او د کال بله برخه پر دې تېروي چې دا شیان یو له بله وتروړي. جنګ د دې

زړه‌ورو او بې‌رحمه پرګنو اصلي حالت دی چې د ډول له لومړي ډنګ او د ټوپک له لومړۍ ډزې سره د جنګ میدان ته رادانګي او لوټمار د دې کار طبیعي پایله ده. دوی وایي چې الله دوی ته یوازې تیرې ورپه برخه کړې خو د هغه لوړو غرونو له سره دوی ته له شتو ډک پاخه، د سرو او سپینو ډک کورونه ښکاري نو ولې به په کې خپله برخه نه کوي. ان چې پېغمبر هم خپله شتمني د کافرانو پر کاروانونو د برید او د غنیمت د مال د وېشلو له لارې پیدا کوله.

نو کله چې نادرخان د غاصب پر ضد د پاڅون غږ وکړ، د دې قومونو مشرانو مثبت غبرګون وښود. د دوی انګېزه که له یوې خوا د افغاني پیوستون او د یو لوی زړه‌ور مشر درناوی و، له بل لوري د سقاو له زوی څخه کرکه او پر هغه بې‌باوري هم وه. خو د جنګیالیو له کتارونو پسې تل خس او خاشاک روان وي. دوی یوازې د یوې موخې له پاره پر کابل ورختل: د دې ښکلي ښار، چې هغوی کله نه و لیدلی او ورته یې د دښمن له پلازمېنې وراخوا بل کوم تقدس نه درلود، لوټل. اوس نو ورشئ دغو بربرانو ته چې، بې هغې هم له کافرو او بهرنیانو کرکه لري، دا ور زده کړئ چې د ډیپلوماتیک خوندیتوب څه دی او د متحابه دولتونو بیرغ ته درناوی څه مانا لري.

پر دې سربېره، شاه‌ولي خان له خپلو وضایفو او جنجالونو سره سخت بوخت و. سره له دې هم، هر څه چې شوني وو، ویې کړل. ځای پر ځای یې ښاغلي ژیرار ته درې ساتونکي ورکړل، د نورو ساتونکو ژمنه یې هم وکړه او په تیاره کې ورک شو.

په دې تکه توره شپه کې، د ډزو په منځ کې، چې ډلو ډلو په کې چغې وهلې، اخوا دې خوا کېدل، غلو، چې سترګې او غاښونه یې د لېوانو په څېر ځلېدل، په ډول ډول وسلو سمبال هره شېبه لار نیوله، دغه بېرته راتګ زړه‌ورتوب نه، سم لېونتوب و. په دې کې هم ځینې د مسخرې صحنې راتلې. یو کس رانېږدې کېږي، د قندیل غوټه په یوه روپۍ بیه کوي. نور، چې د خپلو ریتاړو جامو له پاسه یې، د کلیسا د راهبانو قباګانې اغوستي، ناڅي. دا یې لا له کومه کړې دي؟ یو تن، چې بېره یې تکه سره ده، د خپلې غټې پګړۍ له پاسه یوه شاپو خولۍ په سرکړې او د

ماشومانو د لوبو سورنی پوکوي.

داسې شپه په هر ځای کې له اړودوړ ډکه وي، خو په کابل کې ارامه ده. د اکتوبر پر نهمه، سر له سهاره، بیا بله کیسه روانه ده.

دا وار د حبیب‌الله کوهستانیان دي چې له ارګه راوتلي، غرونو ته تښتي او لار غواړي. هغه درې ساتونکي چې بېګا راوستل شوي وو، د سترګو په رپ کې تښتي. د سفارت خدمه، چې ټوپکونه ورته نیول شوي، مجبور دي چې دروازې پرانیزي.

کوهستانیان چغې وهي:

- تاسو سره کار نه لرو!

په ځغاسته، په داسې حال کې چې ډزې کوي، د باغ په منځ کې، د «کشر ورور» د کور په لور ورځي. دوه تنه، چې لا هم په چور بوخت دي، وژني، څو نور ټپیان کوي، او د غره په لور پنا کېږي.

بمبار، چې لا تر دې وخته سوکه سوکه روان و، زور اخلي او ورسره د ښار چور هم زور اخلي. تېره غرونه له ښاره راځي. حکومتي مانۍ، وزارتونه، د وزیرانو او لوړپوړو منصبدارانو کورونه، هر څه په کې یو ځای ځي. تلګراف او بې سیمه مخابره ړنګېږي.

کابل له نړۍ پرې شوی دی.

د ښار نوی والي، د خپل نوي مقام له ټول دبدب سره، کوښښ کوي چې ځان پر خلکو ومني. په لوټمارو ډزې کوي خو غبرګون ډېر ژر ښکاره کېږي. د دې له وېرې چې شورش پر جنګ ور اضافه نه شي، والي په شا کېږي. د څو ګلولو چړې د سفارت پر بامونو اوري.

پر دې مهال، زموږ کلابند ملګري، د ښاغلي ژیرار په استوګنځي کې، د سفارت په یوه څنګزنه ودانۍ کې راټولېږي ځکه چې دلته تل‌خونې نه شته. هغوی خوراکي توکي راټولوي، پیسې او ارزښتناک اسناد خوندي کوي او د شپې د یاسمینو په بوټو کې قیمتي توکي خښوي. څلور نارینه – درې فرانسویان او امیر خان – شپه او ورځ، درې درې ساعته په وار، پیره کوي. افغان خدمتګاران چې په بې ساري ډول وفادار

او بې شانه زړه‌ور دي دروازې ساتي.

وسلې؟ یوازې درې تمانچې پاتې دي چې یوه یې غله شوې. په سفارت کې ټوپک هم شته خو، بې عقلۍ ته گوره، په یو صندوق کې خوندي دي او د صندوق کیلۍ خدای خبر چېرې ده، کیدای شي پاریس کې وي. که داسې نه وای هم، کارتوس چې بیا په خورا ښکاره ډول زېرمه شوي وو، ابله شپه په خپله مخه تللي وو. او دا خو به ډېره گرانه نه وي چې څوک د هغو پېښو تصور وکړي چې په دې ورځو کې کابل کې رامخ ته کېدلې.

غله، افغانان دي که کوهستاني؟ څه فرق کوي، رارسېږي، ښاغلی هاکن نیسي، سیف ته یې بیایي:

- کونجي راکړه!

- ما سره کونجي نه شته...

- دستي کونجي راکړه، که را یې نه کړې...

د ټوپک یخه شپېلۍ یې ورته وچولي ته ونیوه او د چړې څوکه یې ورته پر ستوني کښېښوده. هر څه کېدای شول چې وشي. یوازې یوې معجزې یې مخه ونیوه.

دا ځل د گولیو یوه درنه ږلۍ له ارگه، چې حبیب‌الله او ملگري یې په کې کلابند دي، را والوته، په شاوخوا کلیو او د مهماتو پر زېرمتونونو راپرېوته. گولۍ هر وار پر هدف لگېدې. د ملېشو پاچا په زړه ورتیا له ځانه دفاع کوي. کېدای شي چې په خپله به هم ډزې کوي. پر خپل ژوند او خپله جوارۍ وروستی داو وهي. په دوه ساعتو کې پینځّ څلوېښت گولۍ ایشتل کېږي. بمبار ټوله شپه او ورپسې سهار دوام کوي. په منځ کې یوازې د ماشندارو کړسا د ټوپک ډزې اورېدل کېږي. یوخوا بل‌خوا اورونه لگېږي. د شپې ډېروخت د افغانستان تر ټولو ښکلی ښونځی د لمبو په منځ کې ښکاري.

زموږ کلابند ملگري خپل وخت د عکسونو په چاپولو تېروي. په دې وخت کې د سفارت په یوه لرې پرته خونه کې د یو بېگناه، یووزري چورگر سره مخ کېږي

چې فکر یې کاوه چې دا د «کشري ورور» کور دی او هغه په ریښتیا هم حق درلود چې ویې لوټي. غالباً چې اکثره لومړي بریدکوونکي به هم په همدې خیال راغلي وو. هغه خپل نېک قصد دومره په صداقت بیانوي، خپل تش جېبونه ښکاره کوي، لاسونه ښکاره کوي او دومره په خوږه خوله غږېږي چې اخر خوشې کېږي. د الله د نامه په یادولو داسې تښتي چې ګرد یې هم نه ښکاري.

په دې جریان کې خبر راځي چې د کوهستان یو مهم مشر، پردل، د حبیب‌الله مرستیال او ملګري، له شماله د ګڼو کومکي ځواکونو په مرسته د متقابلې حملې قصد لري. دا هغه کومکي ځواکونه دي چې ما ته یې ښاغلي زنامنسکي په تاشکند کې یادونه کړې وه.

هغه نه یوازې ماتې وخوړه، بلکې مړ هم شو. دا پردل یو پخوانی باغوان و چې د غاصب په برکت د یو لوی پوځ مشر شو او هغه مهال چې د فرانسې د لرغونپېژندې هیأت له فارس څخه کابل ته په لار و او په کندهار کې یې اړولي وو، پر کندهار واکمن و. هغه ښاغلي هاکن ته ویلي وو:

- زه خبر شوم چې ستاسې د فرانسې تر ټولو لوی جنرال مړ شو. زه هم د افغانستان تر ټولو لوی جنرال او د هغه په څېر مارشال یم.

بیا یې له یوې لنډې چوپتیا وروسته پوښتلي وو:

- دا ریښتیا ده چې هغه هېڅکله د خپلو عسکرو په مشرۍ جګړې ته نه واته؟

- نه هغه تل شاوخوا سل کیلومتر د خپلو عسکرو تر شا پاتې کېده.

- دا نو څنګه؟

او بیا په غرور وویل:

- زه، تل د خپل پوځ په مخ کې ځم.

همدغسې مړ هم شو. جسد یې دستي بازار ته یوړل شو او هلته څو ورځې له پښو ځوړند و. په هر صورت، خپل بادار ته وفادار پاتې شو. دا یې په دې.

ورځ او ورپسې شپه تېرې شوې. د ګولیو اوږد شغار چې یا د باغ پر سر تېرېږي

او یا په باغ کې لوبېږي. ډزې، چغې، له ارګه د رزمي سندرو غږونه چې پاچا ستايي او بريالی يې بولي. ګواکې په دې ډول تقدير بدلول غواړي.

په دې جريان کې، د ستورو ډکې شپې په اوږدو کې، د کلا مخې ته لوی ساعت، زموږ د کليو د کليساوو په څېر، په ارامه ګړۍ شمېري.

پوښتنه دا وه چې محاصره کوونکي پوځ ولې داسې په نرمه حرکت کاوه؟ د دې ډرامايي دوه زړه والي علت او د جګړې جزييات مې بيا وروسته په خپله د شاّولي خان له خولې واورېدل.

يرغل بالاخره د اکتوبر پر يوولسمه، سهار، پيلېږي. په داسې حال کې چې توپونه – او په خاص ډول هغه فرانسوی ۱۰۵ ملي متره توپ چې اوس د افغانانو په لاس کې دی – د ارګ پرلور غرېږي او ګرځېږي د سفارت باغ هم په يوه ستراتيژکه لار بدلېږي او هم د جګړې پر ميدان. جنګي پېښې په کې تکرارېږي. لومړی يوسل او پنځوس تنه کوهستانيان تېرېږي او د ځنګ باغ ته، چې لا جګړه په کې روانه ده، اوړي. له خطر سره سره، ټول خوښ ښکاري. امير خان چې په ښار کې له چکره بېرته راستون شو، ځان يې په پوستين کې نغښتی، د سالون په يو کونج کې په تمه دی چې خوب ورشي. وربانډې غږ کوي:

- خوبونه دې کوه، موږ ځو کار کوو؟

په دې ګومان چې د ګوګړو ډبلی به تر لاسه کړي، د ښاغلي هاکن پر مېز د پخوانيو سکو يو کولکسيون شيند په شيند کوي. يوه دويمه ډله، په خندا راځي. د سفارت پر يوه خدمتګار د افغان ګومان کوي او غواړي چې چارماري يې کړي. ټوپکونه تيار دي، يو بې‌واره کارتوس د خوارکي له پښو سره لګېږي. امير خان په منډه ځان رارسوي. سا يې ځي راځي. په فارسي او په پښتو (د افغانانو په ژبه) کوشش کوي چې خلک پوه کړي. اخر بريالی کېږي. ژغورل شوی سړی چې تر دې دمه بې پروا ښکارېده په زينو کې لاسونه اسمان ته پورته کوي او په خپل غټ غږ وايي:

- بخت مي ښه و، و يې نه وژلم!

ور پسې د کوهستانیانو ډلې چې لـه کلا راوځـي یـا هلتـه ننه‌وځـي زیاتېـږي. چنـدان عجلـه نـه کوي. یـو امر کوي چـې چلم ورتـه ډک کـړي او هـر جنګیالی ترې پـه تلـو تلـو کې یـوه لوخړه وبـاسي. یو بل چې د ډاروونکـي دېو غونډې ښـکاري، په ډېـره پلرنـۍ لهجـه مېرمـن ژیـرار او کوچني تـه وايي چـې دننه شي.

- دلته وضعیت ښه نه دی.

او بیـا لا دا بـل کوهسـتانی مـشر چې د دوو نښـتو تر منځه په خوښـۍ حاضرېږي چـې عکس يې واخیسـتل شي. خپلو کسـانو تـه وايي:

- لا وخت شته!

ژان‌کارل، خپـل غـږ لـوړ کړي، او پـه هغه ماته ګـوډه فارسي چې زده کـړې يې ده، هـر څوک چـې تېرېږي، پرې غـږ کوي:

- دا دفرانسې سفارت دی.

د بدلـون ټکی. هوښـیار ۱۰۵ ملي متره توپ هدف وویشـت. ګـډې وډې دزې. دا پـه کلا کـې دننـه د مهماتـو د ډیپو کارتـوس، لاسي بمونـه، ګولۍ، دي چې الـوزي. دا چاودنـې ټوله شـپه همداسـې روانـې دي. د ارګ اورلګېدنه چې اسـمان يـې د اورلوبې پـه څېـر پـه رنګارنګـه لمبـو او سرو غونډسـکو ډک کـړی دی. پـه هغـه سـهار چې زه راغلـم، لا يـې هم لوګـي کول.

څلـور تنـه وزیـر، لوڅې پښـې، خیـرن پټکي، ریتـاړې ریتاړې کمیسـونه بـر دېوال اوړي، غوجـل تـه ننه‌وځـي او د سـفارت څلـور ښـکلي اسـان بیایـي. هغـوی اسـان پېـژني. د ډګـروال اس چې هسـې ټټـو دی، هغـه پرېـږدي. هغـوی همـدا راز تـر ټولو ارزښـتناک شـیان، د اسـونو زینونـه او پوښـونه هم له ځانـه سره وړي. امیرخـان چې په خپلـه هـم په قام وزیـر دی، او فخر پـرې کوي، په خپلـه ژبه کې ورته عـذر کوي. هغو ورتـه د ټوپکـو مـخ را اړوي. په دې وخت کې هوښـیار ژباړونکی پـه زوره چغې کوي:

- وه وزیرو! وه وزیرو!

- ښـه تاسې وایاسـت چې دا اسان د فرانسـې د سفارت دي؟ سبا به يې بېرته درته راولو.

لا به یې راولي.

د شپې په اوږدو کې ګڼې نورې حملې هم وشوې چې یوه یې کېدای شوه چې خطرناکه شي. نېږدې وه چې له تمانچو کار واخیستل شي. که داسې شوي وای نو قتلان په کې حتمي و.

د دولسمې په سهار، د فرانسویانو کوچني ګرنیزون د څلورو شپو راهیسې سترګې نه وې پټې کړې او د لوږې له پاره یې هسې د شونډو پر سر څکه غوندې کوله. ژان‌کارل د خوراک د بدلون له پاره فکر وکړ چې د سفارت په انګړ کې ګردي شین رنګه ډنډ څخه یو څو کبان ښکار کړي. هغه یو ښه غټکی کب رانیولی و چې یو منصبدار له څو سپاهیانو سره راغی. ژان‌کارل وغرمبېد:

- ښه نو بیا یو بل غویمنډ!

څو داخل جنرال شاه‌ولي خان و چې په خپله راغلی و چې د سفارت د لوټمار په اړه بخښنه وغواړي.

ژان‌کارل یې د درناوي له پاره د ټوپک پر ځای د کب نیولو چنګک په لاس ولاړ و.

# اوم فصل

## اروپايي سفارتونه او د هغوی بدې ماجراوې

د کابل خوندونه - «د کشر ورور» پر مانۍ څه وشول – اروپايان سره راټولېږي – افغان هوايي ځواک طالع نه لري – څرنګه رحمت خان د انګلستان سفارت وساته

---

که له ورځې ورتېر شو، نو د کابل تر شپو خوزنده بل څه نه شته. داسې سپېڅلې شپې چې د نړۍ تر ټولو جادويي سپوږمۍ ورته د سپينو زرو رنګ ورکوي. عجيبه تضاد دی: د ځلانده ستورو په بې حرکته ښکلا ډک شوي پراخه، ارام، تت رنګه اسمان سکوت او د ځمکې د دې څنډې خوزنده، ناهمغږې ګډوډي.

زه يې چې خونې ته بوتلم، را ته يې وويل:

- همدغه يو کوچنی شيطان چراغ درکوو، ځکه چې هغوی پر ټولو روښانه کړکيو ډزې کوي. دا يې يو ډول لوبه ده. کوښښ وکړئ چې کړکۍ ته ډېره نېږدې نه شئ.

لا مې سر نه و ايښی چې د سفارت د دېواله شاته ډزې شوې. ودرېدې، بېرته پيل شوې. ورپسې يو ډول بغارې، غرونه، بيا د ډزو نور بارونه، له لرې وقفې سره، د مرميو نرۍ شانته شغا، د درد او قهر چيغې، او دا د کلي ساعت چې ګړۍ شماري. دا د لوټمارو ډلې دي چې يو بل سره مقابله کوي. سهار وختي، د دروازې مخې ته د سپيو انډوخر چې د اوښ پر بوېناک جسد سره لګيا دي. دا هم ورځې ته د هرکلي يو ډول دی. اوږدې، دردمنې نارې اورېدل کېږي او بيا غلې کېږي. لمرخاته، د انسانانو او سپيو جسدونه وړل کېږي. هر څه ارامېږي او لمر په سره اسمان کې سرلوړی را ښکاره کېږي.

ختګر لګيا دي هغه تاريخي کنډو راجوړوي. دا نو د دې له پاره مناسب وخت دی

چې د «کشر ورور» په باغ کې چکر ووهې. ښکلی باغ، چې په دې وروستیو میاشتو کې چا ورته توجه نه ده کړې خو د گلانو پټي په خپل رسم شوي ډیزاین د بیضوي شکله ډنډونو گردچاپېره ، د گلابو تر چترونو لاندې، ولاړ دي. د ماڼۍ ټولې دروازې پرانستې دي. نوې ماڼۍ ده، کوم خاص سبک نه لري خو پراخه او مجلله ده. په لوی دالان کې، چې د مرمرو پر ستنو ولاړ دی، د نقشونو درلودنکي لاستي والا گردې زینې پورته کېږي. په پراخه سالون کې چې چتونه یې طلایي نقشونه لري او دېوالونه یې په مرمرو او لرگیو پوښلي دي او پاس په خونو کې یوه د نه ویلو گډوډي ده: لویې هندارې ټوټې ټوټې دي، دروازې ماتې دي، قندیلونه چې د کریستال ځوړنډې یې په بد حالت راځړېږي، سیفونه دړې وړې دي، مېزونه او چوکۍ مات پراته دي او پوښونه یې ځیرې شوي دي، پیانو د موسیقي د یوه ډبلي سره چپه پرته ده. وایي چې د موسیقي دغه ډبلي د چور په سختو شېبو کې په خپل نري غږ کې «د ساحل پر غاړه» سندره ویله .یوازې یوه اوږده پیانو چې تارونه یې شلېدلي وویوازینی شی و چې لا ولاړه وه. د پارس او د چین د قیمتي ظرفونو شنې ټوټې پر ځمکه خپرې وې او، له ډېره بده مرغه هلته پورته پر دېوال، یوازینی څه چې د معجزې په توگه روغ پاتې وو هغه یو شل دانې هغه مردارې تابلوگانې وې چې د ښکار صحنې، کبان، مېوې او سابه پرې کښل شوي وي او په لیلامونو کې په پینځو فرانکو پلورل کېږي.

تـر لوټـمار دمخه د دې دېوالونو تر شـا څه تېر شـوي؟ حمیدالله، «کـشر ورور»، د سـپتمبر پـه میاشـت کې تللی و چـې د جلال‌ابـاد پاځون وځپـي. وایي چې پـه ډېر بد حالـت کـې، د کابـل تر بریـد ځوورځې مخکې، لـه هغه ځایـه راوړل شـوی و. د جاز د سـندرو پـه ځېـر پـه لـوړ غږ، بـې ډولـه خنداگانې لـه کړکیو راوتـې. طبیعـي ځکه نه وې چـې پـه ډېـر نري غږ کېدلـې. د ماڼـۍ نوکرانو د سـفارت مزدورانو ته کیسـه کوله:

- بادار ډېر ناروغه و. دلته ټول خپه دي، هر څوک ژاړي، خپل وېښته شکوي.

ایا ټېي تر لوټمار مخکې په تېښته بریالی شوی و؟ په دې توپان کې پرې څه شوي دي؟

د مجلـل سـالون په منـځ کې، د قیمتـي لرگیو پر غولي د اور نخښـې ښـکاري. په هـال کـې دوه چاودېـدلي نلونـه پـه خونه کـې د اوبو سـېلاو بهوي. موږ هغو عسـکرو تـه چـې د کور سـاتنې ته گومارل شـوي، لږ تر وخـت ناوخته، وویل چې بایـد دا نلونه

بند شي کـه نـه نودېوالونه به هـم و نړېږي. يـو دوه د څټک ګوزارونـه کفايت کوي.

- موږ دلته د ساتلو له پاره يو، دا زموږ کار نه دی.

د حيرانتيا خبره! دلته يوه ژمنۍ باغچه ده چې هېڅ زيان نه دی وررسېدلی. د طلايي، نيمرنګه سيورو خوندور جنت. په منځ کې د اوبو يو فواره د کاشي په ډنډ کې ولاړه ده. اوبه يې د خاورينو پخو ناوو له لارې د جريبن ګلانو پټيو ته بهېږي چې پاڼې او ګلونه يې سره ځلا لري. شا ته يې د مني ګلاب او د بنفشې ګلونه خپل عطرورين سرونه له خپو تازه رنګونو سره په غرور پورته نيولي.د ارام په خونه کې، د مرمرينو زينو له پاسه، د يو ځوان افغان شهزاده انځور دی چې د الماسو په غمي ښکلل شوې پګړۍ لاندې سره غومبري پړسېدلي او نرمه، ساده موسکا يې پر خوله ده.

***

هغـه څـو تنـه اروپايـان چـې څـو ورځـې سره بېـل وو، د درک وړ خوشـالۍ سره د فرانسـې پـه سـفارت کـې راټول شـول. ورپسـې لـه وسـلهوالې بدرګې سره ښـاغلی حاجـب د پـارس شـارژدافير او حکمتبای د ترکيې سـفير، چې نبـږدې ګاونډيان وو، پـه پښـو راغلـل. د ټوپکوالو سـاتونکو په بدرګـه المان او انګلسـتان هم راورسـېدل. د روسـيې شـارژدافير ښـاغلی ريکس هم د نظامي اتاشـې سره راښـکاره شـو. هر يو يې خپـل داسـتان لـري. د روسـيې، پـارس او ترکيې سـفارتونو خپـل نبږدې ټول پرسـونل سـاتلی و نـو د نسـبتاً لـږو تخريباتـو او لوټـمار سره مـخ شـوي وو. د المان سـفارت، مخکـې مـو وويـل چـې له ښـاره درې کيلومـتر لېـرې د باغونو پـر چوترو واقـع و او د اکتوبـر لـه شـپږمې نادرخان تصرف کـړی و په روغتون بـدل شـوی و. د توپونو ګلولې او د ماشـيندارو مرمـۍ په خطرنـاک ډول د بامونو پر سر الوتلـې را الوتلې خو پوځيانو، د مـشر تـر نظر لانـدې، ښـه د عـزت چلن کـړی و. بيـا هم ځيني پـه کې ليدل شـوي وو چـې پـر زينـو ناسـت وو او د ډېرش زره روپيو (يو سـل او شـلو زرو فرانکو) د سرو او سـپينو زرو کخـوړې يې سره وېشـلې.

خـو بيا ښـاغلی پلوشـارد، د سـفارت طبيـب، چې پـه ډېره مېړانـه يـې، د توپان پر مهـال، شـپه او ورځ پـر ځان يوه کـړې وه، او د زخميانو او ناروغانو عـلاج يې کاوه، لږ مخکـې يـې پـه رڼـا ورځ، د سـړک پر مـخ ترې چا د چړې پـه زور بټوه خپله کـړې وه.

یو بل المانی، ښاغلی منګر، لوټل شوی و او کنډې ته غورځول شوی و. او ډاکټر ایفن، چې د جرمني ښوونځي مدیر و او د نورو اروپایانو غونډې یې سفارت ته پنا وړې وه، د هغه کور کاملاً لوټل شوی و.

***

یو بل ته سره مبارکۍ او تسلۍ ورکول کېدې. بیا د خبرونو تبادله: نادرخان له خپلو لښکرو سره د چهلستون په ماڼۍ کې اړولي دي. چهل ستون یوه ښکلې ماڼۍ ده چې د امان‌الله نیکه، عبدالرحمن جوړه کړې ده. مالومه نه ده چې نن به په شانداره مراسمو کابل ته راننوځي که سبا؟ او حبیب‌الله؟ داسې ښکاري چې به کوهستان کې دی، چاریکار ته نږدې او هڅه کوي چې ملاتړي سره راټول کړي. ویل کېږي چې له ارګه یې بې شماره پیسې وړې دي. د څو لاریو خبره کېږي چې د پیسو له کڅوړو ډکې وې. دا هم ویل کېږي چې د لارې په اوږدو کې د سرو زرو هغه سکې هم پیدا شوې دي چې له کڅوړو رالوېدلې وې. دې اوازو ډېر کابلیان د خزانو په لټوونکو بدل کړي دي. لیدل کېږي چې په ملا کړوپ، د لارې خاورې بویوي. د اوس له پاره د حبیب‌الله پر سر د شپږ لکو روپیو انعام ایښودل شوی دی. هر لک سل زره دي نو په دې حساب دوه ملیونه او څلور سوه زره فرانکه کېږي. ښې پیسې دي. اوس، سمدلاسه کلي د ښار خوا ته راروان دي، له درناوي او بیعت سره. دوکانونه ښه کلک تړلي دي. بازار تش دی. دا هم ویل کېږي چې په ارګ کې شاه‌ولي‌خان هڅه وکړه چې له یوه لوټمار څخه د پیسو یو کڅوړه بېرته واخلي او کوټ یې د خنجر په څوکه څیرل شوی و. ستر مشر! احترام نو چېرته دی؟

***

په دې وخت کې، پرته له دې چې یې په تمه وي، د فرشي دروازې له لارې چې انګړ ته وتلې وه، یو ځوان افغان راورسېد. یو افسر. پیلوټ. د غنمرنګه انګیو رنګ یې تښتېدلی. لاسونه او غړ یې رېږدي. په فرانسوي وایي:

- د کوهستان له پروازه راغلم. د نادرخان اعلامیه مې و شیندله. ملګري مې غوښتل چې په خپل وار پورته شي، دوه سوه متره اخوا راولوېد. الوتکه یې ماته شوه، دی ټپي دی. سخت ټپي. یوې سلګۍ یې خبره پرې کړه.

- دغلته دی...

مـوړ ټـول بـاغ ته وروځو. دا ښـکلی هلـک چې پر تسکره پروت دی، لاسـونه يې غځـولي، سر يـې پـر وليـو ورکـوړ شـوی، ويـده دی؟ د وينو يوه نـرۍ لار يـې ورو له سـپږمو د شـونډو خواتـه بهيږي. مـا وپيژاند، يو له هغـو ځوانو هوابازانـو و چې پرون يـې پـه هوايي ډګر کـې په ډېره مهربانـۍ زما هرکلی وکړ. ډاکټر پلوشـارد ور ټيټ شـو، نبـض يـې وليد، پر سـينه يـې ورته غوږ کښېښـود، بېرته راپورته شـو، د بې وسـۍ لاس يـې وښـوراوه. هـر څه ختـم دي. ورمېږ يې تـر کوپړۍ لاندې مـات دی.

ملګري يې له ځان سره و بنګېده:

- تـر مـوړ ټولـو لايقـه و. په فرانسـه کې يې څلـور سـوه الوتنې کـړې وې، يوه کې يـې هـم څه پېښـه نه وه شـوې. د مـوره يـو زوی و. مور تـه يې څنګه خـبر ورکړم؟

ورسره تخنيکر سخت ټپي دی. بايد سفارت ته راوړل شي. موږ په خاموشۍ کې بېرته ننوځو.

چا وويل:

- دا هم عجيبه خبره ده. دوه کاله دمخه افغانانو درويشت، د ښه ماډل الوتکې درلودې. اوس يې ايله يوه يا دوه پاتې دي. او هر وار د نه پوهېدو وړ پېښې کېږي، تجربه کارو، تکړه پيلوټانو سره. د دې زلمکي خبره نه کوم، دی له څه مودې راهيسې نه و الوتی. خو په ۱۹۲۴ – ۱۹۲۵ کې انګرېزانو افغان حکومت ته د څو الوتکو د وړيا ورکولو وړانديز کړی و، افغانستان له روسيې څخه د مراعات په بيه شپږ جرمنۍ الوتکې، له پرزو او عملې سره واخيستې. پيلوټانو او روسانو هېڅ کومه ستونزه نه وه ليدلې. ښه نو، په ډېر لږ وخت کې دا هر څه ختم شول. هغه الوتکه چې هلته ټوټې ټوټې پرته وه، فکر کوم چې تر وروستۍ يوه مخکې ده. داسې بدې طالع هم څه عجيبه شان ښکاري.

يو غږ واورېدل شو:

- سبوتاژ؟ که اسلامي افراطيت او يا بل څه؟

هيچا، هېڅ و نه ويل.

***

په دې وخت کې یو نری، وچ سړی ، د نولي غوندې چالاکه، د سترګو کسي او برېتونه یې تک تور لکه رانجه. رحمت خان دی، د پوه او د لوړ شخصیت خاوند. کله چې د انګرېزانو د ټولنې غړي له یوې مخې ولاړل د سفارت ساتنه ده ته سپارل شوې وه. دی یو هندی دی چې پلار یې د برتانیې په خدمت کې یو لوی افسر و. د مور له خوا د وزیرو جګړه ماري قبیلې سره، چې د هند د پولې دواړو اړخونو ته پرته ده، تړلی دی. هغه خپله وظیفه په داسې ډول تر سره کړه چې د نیکونو له شان سره یې ښایېدله.

راغلی دی چې موږ ته د ښېتي ځای او نخښې را ښکاره کړي. په تړلې لارۍ کې. اوس هم، خصوصاً د ښځو له پاره، ډېره ګواښوونکې ده چې په موټر کې وګرځي. موږ په خوشالۍ په بنده ډبه کې ځانونه ځای کړل.

درې ښکلي عسکر راسره مله دي. د هغوی کره وره تر حد تېر شریفانه دي او د غمیو په شان سترګې یې، چې په رنجو توري دي، ډېر څه ښکاره کوي. افغان جنګیالي په هنر سره سترګې توروي، په تېره چې جنګ ته ځي. به هغوی کې یو دی، چالاک، مظبوط، نازک کره وره یې لکه له ویلي شوو، روښانه مسو نه چې مسګر په بټ کې جوړ وي، څنې یې ګڼې، درنې، د وسمې په رنګ تورې شنې، پر ورمېږ لګېږي. ځانګړې ښکلا یې د چا غوسه راپاروي. له زېړو جوړه د اپولون مجسمه. دربواړه منګل دي. منګل یوه شوره پښته قبیله ده چې هر وخت جنګ ته تیاره وي. په داسې حال کې چې موږ په سرعت سره روان یو، دوی خپل ټوپکونه د تېرېدونکو خلکو خوا ته نیسي او د هغوی ترپکو ته خاندي.

دا ډلې چې موږ ګورو چې تېرېږي چاته ډاډ نه ورکوي. هغوي ټول مسلح دي، په ډول ډول ټوپکو، تبرونو، لویو لویو تورو، د فولادو په نېزو چې د کباب د سیخ غوندې تېرې دي، کله یې مخې ته په اس سپور، تور-سور-زرغون بیرغ په لاس، یو مشر روان وي. ټول کوهستان ته خېژي. نور له هغې خوا بېرته راکښېوځي. رمې؛ اسونه؛ په پنډو، غالیو، توشکونو، د مسو او زېړو په لوښو بار خره؛ چې په خوارو کلیو کې راټول شوي د جنګ غنیمتونه دي. هلته به څه د خوارۍ حالت وي، د وحشتونو له کومو صحنو وروسته؟

دا دی د برتانیې سفارت تـه راورسېدو. د رخصتیو یو ښار ته ورتـه دی چې ګڼې بنګلې پـه کـې دي، ورلانـدې یـو لـه ونـو ډک بـاغ دی چـې د رنګارنګ ګلانـو پټي په کـې د قیمتـي ډبرو په شـان ښـکاري. څـو میاشـتې د مخه، کلـه چې حبیب‌اللـه کابل نیـوه، هـم پـوره تخریب شـوی و. د امان‌الله یو شـمېر افسرانو به چې پـر هغه کلا چې دښـمن نیولـې وه د تـوپ ډزې کولـې نـو اکـثره به یې ګـوزار لنډ وکړ او ګولـۍ به یې په ښـکلو باغونو کـې ولګېدې.

د سـړک بلـې خـوا ته یو لړ ټیټ سـپین کورونـه پراتـه دي چې هلته هم د سـفارت ځینـې کارمندان اوسـېږي. همدلته وو چې د سـلو شـاوخوا کوهسـتانیانو، چـې د نادر د لښـکرو لـه خـوا شـړل شـوي وو، پـه لوټـمار پیـل وکـړ. لومړی یـې هغه درې کسـه محافظیـن ووژل چـې مخـې تـه یـې ولاړ وو او بیا پر سـفارت رانه‌وتل. د دایره شـکله برنـډې لـه سره، چـې د انګـړ او بـاغ خواتـه پرانسـتې وه، رحمـت الله خـان او څلورو منګلـو ډزې پیـل کـړې. یـو خـوا بـل خـوا پـه ټوپونـو، د ډز لـه پـاره زنګون پـر ځمکه ایښـې، د چغـو او ډزو پـه منځ کې، د ګولیو تـر باران لاندې، پرته له دې چې د مرسـتې هیلـه ولـري، د دښـمن پروړاندې کلک ودرېدل. آخر دښـمن هم د تېښـتې لار ونیوه او پینځلـس مـړي یـې لـه ځـان سره د غرونو خوا تـه یوړل.

دویمـه حملـه پر سـبا وشـوه، د پردل کسـان چې د خپـل جنرال تر مړینې وروسـته د کـور پـه لور تلـل. هغوی پـه ارګ کې د بند پاتې شـوي «بچهٔ سـقاو» د خلاصون یوه ناکامـه هڅـه کـړې وه. دا ځـل یې د برتانیـې اصیلو اسـونو، موټرو او لاریو ته سـترګې نیولـې وې. یـو وار بیـا رحمـت خـان او سـړیو یې په شـا وتمبـول او دری تنـه یې ورته ووژل. رحمـت خـان د بریا پـه دود ویل:

- یوه ورځ د مخه یې راځخه درې ټوپکه وړي وو، موږ ترې څلور ونیول.

منګل عسـکر چـې ګام پـه ګام را سره روان دي ، پـه ځـواب کـې په کـړس کړس خانـدي. څومـره پـه خونـد د خپـل مـشر کیسـه چـې تمثیـل هـم پـه کـې دی اوري، سـپېږمې یـې پورتـه نیولـې او غاښـونه یـې ځلېږي.

خـو بیـا، پر اومه نېټه، دا وار وزیر او اپریدي، د بریالي لښـکر سـپاهیان، راغلي وو، محافظیـن یـې تـړلي وو او د پـارک بـل سر تـه یـوه بنګله یې لوټلـې وه. هغوی وشـړل

شول. بله ډله راغله، غوښتل یې چې د دېوالونو دننه او چتونه و پلټي، ویل یې:

انګرېزان په داسې ځایونو کې خپل سټرلېنګ پونډونه پټوي.

په تخریب یې پیل وکړ. رحمت خان غواړي چې را نرم یې کړي، چای او ډوډۍ ورته ږدي. ورته وایي چې اشتباه کوی، انګرېزانو خپلې پیسې له ځان سره وړې دي. خوشطبعه جنګیالي قانع شول، او په تلو تلو کې یې له چمن څخه موټې موټې واښه راوشکول، په خولو یې و منډل. رحمت خان ته یې وویل:

- دا سابه دې ډېر خوندور دي.

موږ چې حیرانتیا وښوده، زموږ منګلو هم وویل:

- هوخوندور دي، ډېر خوندور دي.

او لکه موږ ته چې قناعت راکول غواړي، ټېټېږي شوتلې، او نور کرل شوي بوټي په منګولو منګولو راشکوي او خوري یې. خپل شنه شنه غاښونه را ته ښکاره کوي، لکه اسان چې څرېږي. وایي:

- د هغه چا له پاره چې جنګ ته ځي تر ټولو ښه خواړه همدا دي.

زه هم دغه اقتصادي خواړه خپلو د اعاشې مسوولو نظامیانو ته ورپېژنم.

رحمت خان چې د جنګیالیو په پېژندلو کې ځان ته یو څه ویلای شي، په ډېر غرور وایي:

- څه تکړه عسکر دي! او عادت لري چې په هېڅ هم ګوزاره وکړي. پوهېږئ دې منګلو را ته څه وویل؟ «تیرې مو بالښتونه دي، بوټي مو خوراک دی او وسلې او مهمات له دښمنه اخلو. دوی به نو څنګه نه بریالي کېږي؟»

ګلان په پګړۍ کې ټومبلي، او د غوږونو له پاسه ځړېدلي، د مازیګر لمر ته، چې پر سترګو او غاښونو یې ځلېږي، ولاړ، دا ماشومان، چې یوه یې په یو ګلاب ځان مشغول کړی، خاندي. ښکلي، معصوم، سخت زړي، لکه د پخوانیو اسطورو خدایګوټي.



شاه‌ولي‌خان



شاه‌ولي‌خان (کينې خواته) د نادرخان پاچا ورور، د افغانستان د پاچا مرستيال، د هغو لښکرو مشر جنرال چې کابل يې ونيو. ښۍ خوا ته جنرال محمد گل

# اتم فصل

## د فاتح جنرال شاه‌ولي خان سره مرکه

د افغاني قبايلو په اړه – د بهرنيو چارو په وزارت کې – د نادرخان ورور د مبارزې جريانات بيانوي – د دوو برياليو مشرانو دراماتيک ترديد – د حبيب‌الله چل

---

ايله اوس مې سر خلاص شو.

په لومړيو ورځو کې د قامونو او قبيلو نومونه زما په سر کې داسې کړسېدل لکه بې نومه کاڼي. اوس پوهېږم چې افغانستان د خپلو غرونو او ژورو درو په پېچ وتاب کې ګڼې جنګيالۍ قبيلې لرې چې نژادونه، طبيعتونه، ژبې او حتی دينونه او مذهبونه يې سره بېل دي او اکثره په خپل منځي جګړو بوختې دي. تر دې مهاله دا قبيلې تقريباً د ملي يو والي له روحيې سره مخالفې دي، يوازې يوه ډله، چې پر کندهار راڅوله ده، درانيان، يوه استثنا جوړوي او همدوی د افغان مشرانو د ملاتړ ستنې او د هيلو ځای دی.

د ختيځ او سوېل قبيلې، هماغه چې اوس د نادر تر بيرغ لاندې جنګېږي، تر ټولو ډېرې جنګې دي او تر ټولو ډېرې سره وېشلې دي. وزير، منګل، شينواري، مسود، اپريدي، او نور چې اوس مې فکر ته نه راځي، پښتو وايي چې د سانسکريت يوه افغاني-ايراني لهجه ده. دوی سني مسلمانان دي او لا اوس هم په يو ړانده مذهبي افراطيت کې بند دي.

ځینې دغه قبیلې کوچیان دي. نور په ډېرو ابتدایي کلیو کې چې کورونه، یا که بهتره یې ووایو، کوډلې یې له تیږو او پخسو جوړې دي، بامونه یې هوار دي، او لوړو برجونو ساتلي دي. مشران یې، د سیمې بانفوذه خلک، په ریښتینو کلاوو کې اوسي، د خدمتګارانو ډلې ورته ولاړې دي، کله د دفاع په حالت کې وي، کله د تعرض، اسان، ښځې او رمې ساتي. د دې قبیلو، یو شمېر د ناپوهو افراطي ملایانو تر واک لاندې دي.

د مشرانو تر منځ شخړې هم ښې ډېرې دي.

جارج ب. سکاټ، د هند یو انګرېز صاحب منصب چې دا خلک ښه پېژني، د دوي په اړه وايي: «زړه‌ور خو بې رحمه، مېلمه پال خو چلباز، کلک جنګیالي خو د سولې پر مهال لټان، سوداګرو او سوداګرۍ ته په ټیټه سترګه ګوري خو شکوونکي دي. او غالباً چې دا ټول صفتونه په یو ځای لري»

د پلازمېنې شمال ته کوه‌دامنیان او کوهستانیان، اکثره تاجیک دي. له اصله ایرانیان دي او پارسي وايي. دوی لږ څه ډېر متمدن دي، څکه چې ژوند یې ښه دی، د هندوکش په لمنو کې، په پراخو، حاصلخېزو دښتو کې اوسېږي چې اوبه په کې پریمانه دي او د هېواد د غلو او سبو زېرمه جوړوي. هوښیار دهقانان، د ارام طبیعت درلودونکي، دوی پلازمېنې ته مېوې، سابه، هګۍ او چرګان رسوي. څکه خو د جنګ تاثیر د کابل پر بازار محسوس و. له حبیب‌الله سره، چې د کوهستان و، دوی د لومړي ځل له پاره واک اخیسته، چې هم پرې خوښ وو او هم یې پرې ویاړ کاوه.

افغاني ترکستان، د هندوکش پر شمالي څنډو تر آمودریا پورې پروت دی. دلته پخوانی یوناني شوی باختر واقع دی او قرغیز-ترکمن، چې اکثره کوچیان دي، اوزبیک-ترکمن، چې زمینداران دي، او د تاجیکي اصل دهقانانو یو کتله اوسېږي. دا ټول پارسي وايي، کرکجن شیعه مذهبي دي او اکثره له سنیانو سره په مخالفت کې وي.

لوېدیځ خواته هزاره، ایماق او تایمني اوسېږي. دوی په نژاد مغول دي او غالباً چې د چنګېزخان د سپاهیانو پاتې شوني دي. دوی خپله ژبه لري، شیعه مذهبي دي او پر هغه

غزنۍ سیمه چې له هراته تر کابله د ملاتیر جوړوي پراته دي. دووی له پیله د حبیب‌الله سره مخالف وو او د ختیځ او سوېل له قبایلو سره یې لاس یوکړی و.

خو دغه جوړجاړی چې له کرکې او جنګ څخه منځ ته راغلی، وبه کړای شي چې د سولې او بیارغونې پر مهال باقي پاتې شي؟ دا تمه کېدای شي چې ملي یووالی، چې دلته بېخي نوی دی، هغه مساله شي چې بېلابېل، خوزنده، بې حده مستقل قبایل سره یوځای کړي؟

***

زه تر برنډې لاندې تاوده پیتاوي ته ناسته وم، مخ مې د باغ پر لور و چې د طلایي رنګه سپېدار په کې ولاړ وو او هغه مې کوله چې د یوې نقشې پر مخ ټول دا عجیبه نومونه ځای پر ځای کړم. خبر راغی چې جلالتمآب شاه‌ولي خان، فاتح لوی جنرال او د نادرخان ورور حاضر دی چې مرکه راسره وکړي.

د مرکې ځای مخامخ د بهرنیو چارو په وزارت کې دی. له نېکه مرغه کولای شو بې له ډاره په پښو ورشو، خو بیا هم د وسله‌والو یوه بدرګه راسره ده. دا هم سړي ته د خپل اهمیت خوندور احساس ورکوي.

باغ اوچوتره له جنګیالیو ډک ښکاري. څوک په ولاړه سره خبرې کوي، څوک د پښو پر سر ناست دي، ټوپکونه یې لکه د ماشومانو په غېږ کې نیولي دي، یو ګلاب یا د لېشکۍ یو ګل یې د غوږ له پاسه ټومبلی. دا وحشیان، چې په لاشعور کې هنرمندان دي، له ګلانو سره یوه ډېره زړه راښکونکې مینه لري. ځینې یې خپله زنه د پټکي په شمله کې رانغاړي چې په دې ډول یې په رنجو تورې سترګې یو بېل ډول ځلا پیدا کوي.

***

چې زه رانېږدې شوم، خبرې ودرېدې، سرونه زما پر لور راتاو شول، په سترګو کې د حیرانتیا او کونجکاوۍ نظرونه وځلېدل. د حیرانتیا غږونه یو بل ته سره جواب وایي. یوه ښځه، دلته په داسې یوه ورځ! هغه هم تر ټولو د مهم مشر د لیدو له پاره! ډېره موده به په قبیلو کې دا خبره یادېږي.

د تشریفاتـو رییس، ټوله موسـکا او مهربـاني، او د بهرنیو چـارو وزیر فیض محمد خـان، والاشـان شـخصیت چې غټې، تـورې بخملي سـترګې لري، زمـا هرکلی کوي. مـوږ یـوه واړه سـالون تـه ننه‌وځو چې په عجلـه فرش شـوی او فرنیچر په کې ایښـودل شوی.

پـه شـاوخوا خونـو کـې کارګـر لګیـا دي، د څټکونـو پـه ټـک ټـک کـې، دروازې رغـوي، دېوالونـه سـموي، موبلونـه ترمیمـوي.

تـر مرسـومو اوږدو تشریفـاتي خبرو وروسـته، فیـض محمد خان هیلـه کوي چې زه کلـه بیـا پـه ارامـو وختونو کې راشـم. پـه څو کلونـو کې به ښـوونځیو بیـا وده کړې وي او موزیـم بـه، چـې اوس لوټل شـوی، بیا منظم شـوی وي.

***

دا موزیـم، چـې فیـض محمـد خـان په کـې د خپل هېواد د شته هنري شتمنیو په ریښـتیني ارزښـت پوهېږي، زموږ د سـتر لرغونپوه، پروفیسر فوشـې، په زیار جوړشوی او تنظیـم شـوی و، د فرانسـوي ماموریـت لـه خـوا د میندل شـوو اثـارو نیمایـي او یو شـمېر ځانګـړې، منحـصر پـه فـرد، ټوټـې ورتـه بېلـې شـوې وې. لـه نېکه مرغـه دغه مجسـمې، د یوناني-بودایـي هـنر ښـکلې بېلګې، ټولې روغـې رمټې وې. لـه بده مرغه د لرغونو ارزښـتناکو سـکو د نړۍ یو تر ټولو ښـکلی کولکسـیون، ګاڼې، قلمي نسخې غالبـاً ورکـې شـوې وي. فیض محمد خان وایي : «شـک نه شـته چې د سـقاو زوی له ځـان سره وړې وي چـې پـه هند کې یـې وپلوري»

- مـوږ بـه یـې د بېرته لاسـته راوړلو هڅه وکړو. پـه هر صورت، مـوږ هیله لرو چې د لرغونپوهنـې د کارونـو پـه اړه، د فرانسـې له حکومت سره شـوي تړونونه به په لا ښـو شرایطـو کې دوام وکړي، افغانسـتان او فرانسـه بـه دواړه ترې ګټه واخلي. ستاسـې د یو سـتر پوهانـد، ښـاغلي هاکن، حضـور د دې له پاره یو ښـه زېری دی.

***

لـه پرانسـتې کړکـۍ، چوترې ته یو شـور او د لنـډو خبرو غږ راځـي. دا جلالتمآب شـاه‌ولي خـان دی چـې پـه چټکـو قدمونـوراروان دی. یـو نااشـنا تناقـض دی. دا

جنګیالی، دا د وحشي قبایلو لوی مشر، یوه ډېره نرمه او دوستانه موسکا لري او په یو څه حجب د رنګ شوي لرګي پر نازکه چوکۍ کښېني.

نری، نېغ، په ډېر نزاکت یې د منګلو شنه، خامک دوزي شوې غاړه اغوستې. په دې ډول به غواړي چې د هغوی قدرداني وکړي. د زرغونې پګړۍ دواړه شملې یې شاته پر ولیو پرتې دي. کره وره یې راټوله شوې انرژي څرګندوي او د طلایي عینکو شاته یې نظر نېغ او ژور دی.

رنګ یې لږ شان ته غنمرنګی دی. که له جامو یې ورتېر شو، دا افغان جنرال د فرانسې د پرووانس یا ګاسکوني یو استوګن ته ورته دی. کټ مټ لکه سیرانو.

جلالتمآب شاه‌ولي خان په فرانسوي پوهېږي خو غوره ګڼي چې په فارسي خبرې وکړي او پیاوړی ژباړن امیر خان یې په فوق العاده ډول ترجمه کوي. زموږ مبارکۍ ته په داسې ساده‌ګۍ ځواب وایي چې د شرقي توب نخښې په کې نه شته .

- موږ په دې بریا کې چندان ویاړ نه لرو. دا د هر وطنپال وظیفه ده چې خپل هېواد و ساتي او ملت په ښه زړه زموږ غږ ته لبیک ووایه.

له لږ ځند وروسته :

- که خوښه مو وي، د وروستیو میاشتو د حوادثو جریان به درته په لنډ ډول ووایم. تاسې پوهېږئ چې زما ورور، نادرخان، په فرانسه کې سفیر و. ناروغۍ اړ کړ چې له سفارته استعفا وکړي او په نیس کې مېشت شي . په دې ځای کې ژوند یو خاص کیف لري او زما د ورور دا ځای، چې د نړۍ تر ټولو مینه ناکه سیمه ده، ډېر خوښېږي. له دې سره سره، تر هغو غمجنو پېښو وروسته چې تاسې ته ښې مالومې دي، کله چې امان‌الله کندهار ته ولاړ، سره له دې چې نادرخان ناروغه هم و بې له هېڅ ډول تردیده راروان شو. زه او زما ورور محمد هاشم خان چې هلته ورسره وو هم ورسره راغلو. زموږ د هېواد د عزت خبره وه. موږ به څنګه دا زغملې وای چې یو غل دې د افغانستان تخت خیرن کړي؟

سره له دې چې ارام ناست و، له نیم‌پټو سترګو یې یوه غبرګه برېښنا راوتله.

- موږ له مارسي څخه د بمبيي پر لور کيښتي ونيوه او د فبروري پر څلورويشتمه هلته ورسېدو. له هغه ځايه مو په لنډو او چټکو لارو ځان پېښور ته راورساوه. دلته سره بېل شوو. محمد هاشم خان په ختيځ کې پاتې شو، زه او نادرخان په سوېل کې خوست ته ولاړو.

غلي کېږي. داسې ښکاري چې د شک او انديښنې سختې شېبې رايادوي. ستونزه رينښتيا هم غټه وه. نادرخان چې راورسېد، بايد کابل ته تللی وای که کندهار ته؟ په لرو ورځو کې دې نتيجې ته ورسېد چې امان‌الله نور په خلکو کې محبوبيت نه درلود او هېڅ ډول مرسته ورسره نه شو کېدای. له بل لوري کابل ته يوازې تګ، پرته له دې چې پيسې ولري او يا پر حبيب‌الله د عمل کومه بله وسيله ولري ګواښمن او بې ګټې کار و. ځکه خو يې لومړی خوست ته مخه کړه. هلته يې ملګري درلودل. جنرال بيا ووېل:

- په دې اوو مياشتو کې مو سختې ستونزې وګاللې. نه مو پوځ درلود، نه مو پيسې درلودې. مجبور وو چې قبايل قانع کړو او مرستې ته يې راوبولو. لوړې ژورې ډېرې وې خو هېڅکله ناهيلي نه شوو.

د لوړو ژورو عوامل اوس روښانه دي. په خوست کې د قومونو رقيبو ډلو نادرخان پرېنه‌ښود چې کوم پرمختګ وکړي. ځکه خو د ګرديز سيمې ته راغی چې غلجي، ځاځي او منګل سره راټول کړي. د احمدزيو يو لوی مشر هم ورسره يوځای شو خو دوه طرفه لوبه يې کوله. نادرخان پرې پوه شو او هغه اړ شو چې د نادر له قهره د ځان ژغورلو له پاره برتانوي قلمرو ته واوړي.

شاه‌ولي خان د دې خيانت په اړه څه نه وايي. هغه همداراز د پوځ پر لومړي سفر، چې د اپريل په پای کې يې لوګر ته وکړ، دقيقاً هغه مهال چې امان‌الله د غزني پر لور روان و او داسې ماتې سره مخ شو چې د مې په مياشت کې د هېواد پرېښودلو ته اړ شو. حبيب‌الله او نادرخان، دوه په دوه سره مقابله کوله. خو د يو بل مشر د خيانت له امله نادرخان خپل تعرض ودراوه او پر ګرديز د يو لړ بې ګټې يرغلونو او نورو عملياتو وروسته تر سپتمبر پورې بند پاتې شو. دا هغه وخت دی چې حبيب‌الله پر جلال‌اباد د بريد ستراتيژيکه تېروتنه وکړه. درانيو له دې حالته

ګټه واخیسته، کندهار یې و نیو او نادرخان، چې د وزیرو مرسته ورته راورسېده، د سپټمبر په پای کې یو وار بیا وخوزېد. دلته لوی جنرال بیا خبرې پیل کړې:

- د جګړې پر لومړیو د خبرو حاجت نه شته. موږ ګردېز نیولی و چې نادرخان پرېکړه وکړه چې د لوګر له لارې پر کابل وروخېژي. دوه واره د سقاو د زوی له لښکرو سره مخ شو. زر تنه بندیان، وسلې او مهمات یې ترې ونیول او له چاراسیا یې وشړل. زه دغه مهال ورسره یو ځای شوم. موږ تر دارالامان پورې مخکې ولاړو او ماشینخانه – ستره ملي فابریکه - مو ونیوله. کابل مو له دریو خواوو محاصره کړ...

جنرال په خپلو لاسونو د عملیاتو تمثیل کوي.

- په دې وخت کې په زرګونو د شاوخوا کلیو خلک راسره یوځای کېږي. بې پیسو، بې اذوقې، په خپلو وسلو، په ډېرو ساده وسلو، په مېړانه وجنګېدل. جنګ دوه ورځې دوام وکړ. بیا وروسته، تاسې پوهېږئ چې، د سقاو زوي ځان په ارګ کې کلابند کړ او د اکتوبر پر نهمه موږ ښار ته راننه وتو.

یو بل سکوت. فاتح لاسونه په لستونو کې ننه‌ایستي، فکر کوي. بیا سترګې پرانیزي:

- موږ کولای شول چې سمدلاسه عمومي یرغل پیل کړو او ارګ ونیسو. خو کله چې د مې په میاشت کې زما ورور د سقاو زوی سره له لیدلو نته وکړ نو ده زموږ شتمنۍ غصب کړې او زموږ د کورنۍ غړي یې ونیول: ښځې، ماشومان، وریرونه او وریرې، زموږ یو شپېته تنه له هغه سره په ارګ کې بندیان وو. د هغوی ژوند ته ګواښ و، نو غوره مو وبلله چې صبر وکړو.

تراژیک تردید. د جنرال څېره هېڅ احساس نه ښکاره کوي خو بې ارادې یې غږ په عاطفه پاروونکي ډول ډډ شو.

- بس، لازمه وه چې یو تصمیم نیول شوی وای. د سقاو زوی پرله‌پسې پر ښار بمبار کاوه. آبدې رنګې شوې. قربانیان وو. درې افغانې مېرمنې ووژل شوې. نور نو زموږ د خپلوانو د امنیت سوال نه و مطرح د ولس د امنیت سوال مطرح و. له دوه

ورځو انتظار وروسته موږ له دريو خواوو پر ارگ د يرغل قوماندہ وکړه. همدغه مهال زموږ د توپ يوه گولۍ، چې له غره ويشتل شوې وه، د مهماتو پر زېرمه‌تون ولگېده او ارگ اور واخيست.

شاه‌ولي‌خان بياغلی شو.

وگورئ، دا درې مشران، درې ورونه، چې سترگې يې پر لمبو او د سپرغيو پر فوارو، پر دې اور گنډلي دي چې دوی په خپله بل کړی او د هغه چا له پاره گواښ دی چې دوی ته تر بل هر څه ډېر گران دي. او په دې حال کې دا وېره هم شته چې د ملېشو پاچا چې له هېڅ دول جنايته يې مخ نه اړاوه په غوسه شي.

څنگه يې دا درد زغملای شو؟ بې شکه چې د پخواني يونان په تراژيديو کې دومره عاطفه پاروونکې صحنې ډېرې نه دي. خو ختيځوال د خپلو ژورو احساساتو او اندېښنو په اړه خبرې کول نه خوښوي. ما په هيجان له جنرال څخه پوښتنه وکړه چې خپل عزيزان يې روغ رمټ وموندل که څنگه؟ هغه په لنډو وويل:

- د خدای شکر دی، روغ رمټ وو. د سقاو زوی پر دغې شپې نورې اندېښنې درلودې. ماښام خوا ته يې سپين بيرغ اوچت کړ او د ماښام خوا ته يې د خبرو له پاره يې زموږ يو وراره، علي‌شاه جان، موږ ته راواستاوه. غاصب چې د تسليمېدو نيت يې کړی و، زموږ شرايط پوښتل. دا يوه دوکه وه. ما د قبايلو د مشرانو جرگه د مشورې له پاره راټولوله، اور بند شوی و، نظارت کمزوری و، هغه له خپلو عسکرو سره له ارگه وتی و او څومره مهمات او پيسې يې چې له ځان سره وړای شوې، وړې يې وې. يو څو مو په کې ووژل خو نور يې غرو ته وختل.

ښه نو د هغې معما حل چې له څو ورځو راهيسې اروپايانو پرې فکر کاوه، چې څنگه حبيب‌الله ته اجازه ورکړل شوه چې له پيسو سره و تښتي، دا و. ما پوښتنه وکړه:

- پرته له شکه چې حبيب‌الله به مبارزې ته دوام ورکړي؟

- نه يې شي کولای. هر ساعت نوي قومونه خپل بيعت راوړي. نورو ته مو ويلي چې د سقاو زوی راوسپارئ، تاسې به وبخښل شئ که نه نو جنگ به بيا پيل

شي.

- خو هغه پيسې لري.

- او ښې ډېرې لري! دا څو اونۍ کېږي چې ډېرې پيسې، ګاڼې او قيمتي شيان يې خوندي ځايونو ته وړي دي. خو ژوند تر پيسو ډېر ارزښت لري او د جنګ له پيله کوهستانيانو پينځلس زره سړي له لاسه ورکړي دي.

- او تاسې؟

د جنرال څېره په يوې نادرې موسکل کې ځلېږي:

- د خدای فضل دی، زموږ تلفات لږ دي.

موږ چوترې ته وختلو. هلته شاه‌ولي خان او فيض محمد خان، د خپلو ملګرو له رخجنو نظرونو پنا، اجازه راکړه چې عکسونه يې واخلم.

د خړو او ګلابي غرونو د يوې کلا په زړه کې، ، لکه په يوې ډېرې ښکلې قالينې کې چې شنې، خندنۍ درې اوبدلې وه، ښار سره راغونډ شوی ښکارېده. ما له ځان سره وويل:

- يو د نړۍ تر ټولو ښکلی هېواد...

فاتح له يو ساړه اسوېلي سره، په غمجن انداز وويل:

- يو هېواد چې کېدای شي تر ټولو نېکمرغه هم وي، په دې شرط چې انسان طبيعت ګډوډ نه کړي.

# نهم فصل

## نادرخان د قبایلو له خوا پاچا شو

نادر خان څوک دی - د پخواني محبوبیت او بیا وروسته د مقهورېدلو دلایل - بریالی بېرته راتګ -په مانۍ کې جرګه - د ولس غبږ

نادرخـان کابـل تـه راتـګ د دې لـه پـاره ځنډولی وچـې د قبایلـو مـشران ورسره د ملتیـا او بیعـت لـه پـاره راشي؟ د ولـس فکر یې ځـان ته مالومـاوه؟ لـه دې ډارېده چې یـو وار بیـا به پـر پایتخت نوې، بې دسـپلینه، د بریا په مستۍ مسـتې او د غنیمتونو وږې لښـکرې ورخـوشي کـړي؟ څلـور ورځـې یې پـه چهلسـتون کې تېـرې کـړې. هلته د مملکـت مخـور خلـک او لـوي ملایان د خـبرو له پـاره ورتلل.

نـه ښـکارېده خـو د هغـو وګـړو پـه خولـو او زړونـو کې حـاضر و چې پـه نېږدې وخـت کـې به یـې رعیت تـرې جوړېده. تـر دې څوکاله مخکـې هم هغه د افغانسـتان یـو مخـور، ټولمنلی شـخصیت و چې تر هر چا ښـه یې پـر ځان د ولـس د ټولو پرګنو باور راجلبولای شـو.

اول خـو د محمدزیـو لـه کورنـۍ څخه دی چې په یـوه پېړۍ کې یې افغانسـتان ته ټـول پاچایـان ورکـړي دي. دا پـه دې هېـواد کې یو لـوړ امتیاز دی ځکه چـې دلته هغو تـه چـې خلک یې خپـل سرداران بولي یو ډول فیـوډالي درناوی کېږي. هغـه د امان‌الله نېږدې خپلـوان نـه دی ، یو لېرې تربور او ملګـری یې دی.

زده‌کړې یې په هند کې کړې دي او هلته هم د مهمو مسلمانو شخصیتونو په منځ کې ډېر محبوبیت او نفوذ لري. ډېر سفرونه یې کړي دي، بافرهنګه سړی دی، په انګلیسي او فرانسوي هم خبرې کولای شي. د امیر حبیب‌الله په زمانه کې هم د اردو مارشال او د جنګ وزیر و چې زموږ په حساب د صدراعظم انډول دی.

***

لا په ۱۹۱۸ کې، چې افغانستان لا استقلال نه و اعلان کړی، په کابل کې یو ملي مترقي ګوند جوړ شوی و چې د هېواد د پرمختګ سره یې علاقه درلوده. ډېرژر په دې ګوند کې دوه لوري راڅرګند شول. یو رادیکال (سخت دریځی) جریان و چې مشري یې محمو طرزي، د امان‌الله خسر کوله او بل یې معتدل جریان و چې نادرخان یې مشر و.

د ۱۹۱۹ کال په کودتا کې، چې وروسته به پرې بیا خبرې کول په کار وي، هغه مهال چې د امان‌الله پلار حبیب‌الله ووژل شو او دی په خپله پر تخت کښېناست، نادرخان او ورونو یې ښه کلک فعالیت وښود او په طبیعي ډول یې پر نوي پاچا خپل نفوذ زیات کړ. د نادرخان نقش د ۱۹۱۹ کال افغان-انګلیس په جنګ کې لا پیاوړی شو. انګلستان قصد درلود چې د افغانستان د استقلال پر ضد غبرګون ښکاره کړي، نیت به یې درلوده چې دا کار د وسلې په زور وکړي خو افغان ځواکونو، د نادرخان تر قوماندې لاندې تعرضي حالت غوره کړ او له کوتې تر خیبر درې یې د هند پر پولو قاطعانه یرغل وکړ. د څلورو میاشتو شدیدې جګړې په جریان کې، چې وروستۍ پایله یې د راولپینډۍ تړون و، افغان پوځ وکړای شول چې هندي قلمرو ته ژور ورننه‌وځي او د څه وخت له پاره تړل تصرف کړي. د ولس په نظر کې نادرخان یوازینی افغان جنرال و چې له انګلیس سره یې ډغرې ووهلې. یو فوق العاده محبوبیت یې پیدا کړی و.

همدغه محبوبیت و چې د ځینو رخه یې راوپاروله؟ که نادرخان د هغه سخت دریځي جریان قرباني شو چې ورو ورو یې مترقي عناصر او له هغوی سره دده خپلوان او ملګري له واکه لیرې کړل؟ یا هم شاید نالیدل کېدونکو قوتونو داسې وګڼله چې غوره ده چې ځوان او زړه‌ور پاچا په چل ول له خپل هوښیار سلاکار

څخه لېرې کړي؟ خو حقیقت دا دی چې هغه څوک چې تر ۱۹۲۳ پورې د امان‌الله د جنګ وزیر و لومړی د یو ولایت والي شو او بیا په ۱۹۲۴ کې فرانسې ته د سفیر په توګه ولېږل شو، د ناروغۍ په پلمه تر استعفا وروسته په نیس کې پاتې شو چې دا په ګلونو کې د یو ډول بې مهرۍ حالت و. رقیب یې، محمود طرزي، د بهرنیو چارو وزیر شو.

نن، پینځه کاله وروسته، د یو فاتح په ډول کابل ته راننه‌واته.

د اکتوبر پر پینځلسمه، د غرمې خواته، په یوه پسته ترمه ورځ کې، د مستو سورنیو له شرنګا چې د افغاني ډول د یکنواخته غږ سره مله وه، د کابل ښار پر سر واخیست. د توپ ډزې، د ټوپکو ټکان، د بې شمېره وګړو د خوشالۍ غوغا تر نقره یي اسمانه پورته کېده.

د سرک دواړو غاړو ته، تر سیوري لاندې، هغه پوځیان ولاړ وو چې څو ورځې مخکې له شاه‌ولي خان سره راغلي وو. ښه به دا وي چې ووایو چې دا یې تر ټولو منظمه ډله وه.

نادرخان، په داسې حال کې چې لوړو، دنګو جنګیالیو یې په مخ کې د ډول له بې رقمه ډنګا سره اتڼونه کول او خپلې ګورې، توري څنې یې یوخوا بل خوا اړولې، پر سپین وربښمین اس، چې لکۍ او ورږ یې ښورول، سپور راښکاره شو. د جنګ په لباس کې و، پګړۍ یې پر سر وه، د نصواري څرمنې کورتۍ یې پر سپین افغاني پرتوګ له پاسه اغوستې وه.

شا ته یې پر اسانو سواره، قبایلي مشران روان وو چې شنه، تور او پاخه سره بیرغونه یې ورل او د هغوی پسې په خاورو ککړ، په ریتاړو پوښلي، په رنګارنګ وسلو سمبال سړي وو چې د لیشکیو او دالیه ګلان یې د ټوپکونو په شپېلیو کې ټومبلي وو.

ډېرو ځان سره ملګري او دوستان هم راوستي وو چې د دوی هرکلي ته له لېرې راغلي وو. او دا ټول ولس دواړو خواوو ته د ولاړو سپاهیانو او طلایي رنګه دنګو څراغونو ته ورته ونو تر منځ غونځېده.

د ارګ مخې ته نادرخان له اسه کوز شو او د دربار رنګې ماڼۍ ته ننه‌وت چې په بېړه په کې یو څو چوکۍ ځای پر ځای شوې وې. ګڼ شمېر خلک چې کېدای شول، را ننه وتي وو، د لوګو شوو دېوالونو په منځ کې، چې پردې او نقاشۍ یې په خپله مخه تللې وې، راټول وو او د «غازي زنده باد!» چغې یې وهلې. د دېوالونه چاودلو ته نږدې ښکارېدل.

فاتح یوه شېبه د دغو سلګونو کسانو خندانو څېرو ته وکتل، بیا یې لاس پورته کړ. هر څه خاموش شول. او هغه خبرې پیل کړې په خپل بم غږ یې وویل:

- د الله په فضل دغه دی موږ بیا، روغ رمټ، سره یو ځای شوو. هغه بدمرغۍ چې دا څو میاشتې پر افغانستان راغلې وې، څومره خلک یې ووژل، څومره خرابۍ یې وکړې، څومره مادي او معنوي فاجعې یې راوړې، دا بدمرغۍ اوس پای ته رسېږي.موږ خپل دښمنان مات کړل. موږ خپلې بې عزتۍ ومینځلې. په دغو میاشتو کې که څه هم افغانستان خپلواک و خو نوم یې د متمدنو هېوادونو په منځ کې نه یادېده.

موږ یوازې د خپل هېواد پروړاندې، چې زموږ تر ټولو ارزښتناکه شتمني ده، خپله وظیفه اجراکړې. او موږ چې وطن ته فکر کوو نه شو کولای چې امان‌الله چې دې خاورې ته یې بې شانه خدمتونه کړي او نوم به یې د سروزرو په ټکو د افغانستان په تاریخ کې یاد وي، هېرکړو. خو اوس چې زموږ کور اور اخیستی، لازمه ده چې ټول سره یو ځای شو ، خپلې ټولې ارادې سره یوه کړو او دا اور مړ کړو. زه د دیپلوماتیکو استازولیو مننډوی یم چې ما ته یې د دوستۍ او همدردۍ پیغامونه را استولي او د هغو ستونزو او ناخوالو له امله ترې بخښنه غواړم چې په دې میاشتو کې ورسره مخ شوې دي. زه همدا راز د هغو قبایلو مننه کوم چې د اتومیاشتو په اوږدو کې یې زما تر څنګه د سپاهیانو د ژوند سختې ګاللې دي، خپلې پیسې او خپله وینه یې ورکړې او د افغانستان عزت یې ساتلی دی. د ټولو قبایلو مننه کوم، په تېره بیا د ختیزو سرحدونو د قبایلو، چې تل یې افغانستان ژغورلی او په مېړانه او ورورولۍ یې مبارزه کړې ده. خدای دې یې اجرونه ورکړي.

د خلکو نارې پورته شوې او په څپو خپرېدې. بیا علي‌محمدخان چې پخوا په

روم کـې سـفیر و او اوس د پوهنې وزیـر دی، وینا وکړه:

- مـوږ نـه پوهېـږو چې څنګه به ستاسـې مننه وکړای شـو. لس میاشـتې پـر هېواد د لېونتـوب خپسـه خپـره وه. تاسـې ورتـه د عقل لار وښـوده. تاسـې د امان‌الله سـتاینه وکـړه. اجـازه راکـړئ چې مـوږ په خپل وار تاسـې او ستاسـې کورنۍ وسـتایو. تاسـې پـه فرانسـه کـې پـه نـاز او نعمـت کـې اوسـېدئ. خـو تاسـې هغه هـر څه پرېښـودل، راغلـئ زمـوږ خـوا تـه او لـه مـوږ سره مـو، زمـوږ لـه پـاره زحمتونـه وګاللـ. مونږ مو بـې نهایتـه مننه کـوو. خـو په مـخ کې پراتـه کارونـه بې حـده ډېـر دي، دا ړنګ او بې نظمـه مملکـت بایـد جـوړ شي. مـوږ د دې درانه او سـخت کار له پاره تاسـې تـه اړتیا لرو. تاسـې یوازینی کس یاسـت چې کولای شـئ افغانسـتان د یو مسـلمان، خپلواک او متمـدن هېـواد پـه توګـه د پرمختـګ پـر لار روان کـړئ او په عیـن حال کـې زموږ د پخوانیـو عنعنو درنـاوی وکړئ.

دا وروسـتۍ خـبرې، ورو، خـو پـه قـوت وشـوې. ویناوال کښېناسـت. ورپسـې، فضـل ربي، یـو مقتـدر ملا چې سـپینه ږیره او سـپینه پګړۍ یـې درلوده او پـه هېواد ډېر منلی شـخصیت دی، پورته شـو.

- د ټـول ملـت سـترګې تاسـې تـه دراوړي. تاسـې افغانسـتان د هغه قطـاع الطریق لـه منګولـو وژغـوره چې خـدای تعالی یـې د لاسـونو اوپښـو غوڅولو امر کـړی دی. د سـقاو زوی چـې ټـول عمـر یـې د جرمونـو او قتلونـو یـو سلسـله وه، زمـوږ پاچـا نه شـو کېـدای. دا د شریعـت لـه مخې هـم د منلو نـه وه، یو پاچا چـې د ټولو درنـاوی او اعتـماد ورسره نـه وي، نـو پر هغه وطـن به څه بـلاوې رانازلېږي. ځکه خو موږ تاسـې تـه مـخ دراړوو، سـوال درتـه کوو، چـې د پاچاهـۍ درونـد بـار ته غاړه کښـېږدئ.

د نادرخـان درنـې څېـرې یـو ژور احسـاس ځرګنـداوه. لـه لـږ څنـډ وروسـته یـې خـبرې وکـړې، خـو د هغـه وړاندیـز د ردولـو لـه پـاره چـې ورته شـوی و:

- مـا چـې خپـل دیـن ادا کـړ، د کوم شـخصي مطلب لـه پاره مـې نه دی کـړی. ما یـوازې غوښـتل چـې خپـل هېـواد له هغـه مصیبتـه وژغـورم چـې پـرې راغلـی و. ډېره مـوده کېـږي چـې صحـت مې ښـه نـه دی. نو لـه تاسـې هیله کـوم چې یو بـل څوک وټاکـئ. زه در سره ژمنـه کـوم چـې زه بـه ورتـه خپـل ټول وخـت او خپل ټول کوښـښ

وقف کړم. کله چې حالات عادي شي، یوه جرګه به په کابل کې راټوله شي او نوی پاچا به وټاکي.

خو په حاضرینو کې د اعتراض غږونه اوچت شول. غلام محمد، یو درونډ سپین ږیری، چې پخوا د کورنیو چارو وزیر و، په مات غږ ټینګار وکړ:

- له تاسې پرته هیڅوک د سلطنت درونډ بار نه شي پورته کولای. موږ دعا کوو چې خدای صحت درکړي ځکه چې تاسې خپل ټول قوت وطن ته ورکړی دی. موږ ستاسې دلایلو ته درناوی لرو خو تاسې تل خپل مسولیت ادا کړی دی او اوس ستاسې مسوولیت دا دی چې سلطنت ومنئ.

نادرخان لا هم دوه زړی و. د کابل مېشتو کوردیپلوماتیک څو استازو ته یې، چې د مراسمو له پاره وسله والو بدرګو سره راوستل شوي وو، مخ ورواړاوه او د نوي پاچا د غوراوي له پاره یې ترې مشوره وغوښته. د ترکیې مختار وزیر ورته د خپلو سیالانو په نمایندګۍ ډاډ ورکړ چې تر ده غوره بل کاندید نه شته. غلام محمد په داسې غږ چې احساساتو ورته بېرته د ځوانۍ رنګ ورکړی و، وویل:

- که نادرخان پاچا نه وي نوهیڅوک به پاچا نه وي!

په دې وخت کې د راټولو شوو خلکو شور شو. منګلو، وزیرو، اپریدیو، درانیو، د ختیځ او سوېل تکړه جنګیالیو لاسونه، ټوپکونه او تورې پورته کړل او نارې یې کړې:

- که نادرخان پاچا نه شي موږ ټول بېرته ځو! ای زموږ غازي، پاچا شه. و یې منه! زموږ پاچا شه!

نادرخان یوه شېبه له خپلو وروڼو او ملګرو سره مشوره وکړه. داسې ښکارېده چې لکه چې قانع کېږي. په دې وخت کې دا ټول ځواکمن ولس چې مخه یې نه نیول کېده، د هغه پر لور وخوزېد، څوک یې لاسونه ښکلوه، څوک یې جامې ښکلوه، څوک یې ږیره نیسه. لکه یو خسری یې پر هوا کړ، د برې د نښان په څېر یې د اسانانو د کړنګېدلي سمندر پر سر پورته کړ.

یوه شېبه وروسته نوي واکمن، دغه نرم او ظریف سړی، د خپلو خلکو د لېونۍ

مینې په غېږ کې شرکېدلی، نیول شوې څېره، خره پګړۍ، مې وریجې رېره د راتولو شوو خلکو د زرګونو پګړیو له پاسه پر برنډه راښکاره شو په نرم او له دینې عاطفې ډک غږ یې وویل:

- اوس چې تاسې وتاکلم، مجبور یم چې و یې منم. زه له خدایه غواړم چې ما ته وس راکړي چې ځان افغانستان ته وقف کړم او ترې ځار یې کړم او عزت یې بې داغه وساتم. زه به پاچا نه یم، زه به د هېواد او د قبایلو خدمتګار یم...

بیا یې سجده وکړه او دعا یې وکړه. توپونه ګړزېدل. ډولونواو سورنیو د پاچا د درناوي ساز واهه. او تر هغې لا لوړ، د جنګیالیو نري، شرنګېدلي د خوښۍ غږونه وو. دوه بجې وې. لمر ځلېده. نادرخان پورته شو، اوږده شېبه د غرونو پر سر واورو ته ځیر شو، دا غرونه چې د افغانستان ساتونکي دېوالونه دي او څوکې یې په نقره یې اسمان کې چېرته پنا کېږي. ولي یې لږ ځوړند نیولي و، بار یې پر غاړه اخیستی و.

# لسم فصل

## نادرخان په جومات کې خبرې کولې

جنرال د جومات پر لور ځي – د ښار د جشن په منځ کې – دارالامان، ويده ښار چې د ښاپېريو د شهزاده په تمه دی – د نادرخان عروج

---

نن سهار (د اکتوبر شپاړسمه) زموږ جنرال ږېره له نېږدې خرېيلې، ويښته او يونيفورم يې ځلېږي. خبره دا ده چې موږ ته د جنګ وزير، جلالتمآب شاوّلي خان، د سفارت د ساتلو له پاره يو جنرال رااستولی دی. عزت خو همدومره وي نو!

دی يو تجربه کار جنګيالی دی، درونددا او مهربان. ويل کېږي چې ډېر ستر کارونه يې کړي، خصوصاً د وروستيو پېښو د بغاوتونو په ماتولو کې. خو موږ ته له جګړې وروسته راغلی او اوس يې وظيفه داده چې چلم و څکوي او کوچنی رولان ژيرار له لاسه ونيسي د باغ په لارو کې، د طلايي سپيدارو په منځ کې وګرزي. خپل اوږد، يو څه شخ شوی قامت يې د هلکي پر لور کوږ کړی وي. چا له کوچني پو ښتنه وکړه :

- ښه نو تاسې يو بل ته څه سره واياست؟

- هغه را ته د خپلو جګړو خبرې کوي او زه ورته په فارسي او پښتو د «سورخولۍ» کيسه کوم. هغه سخت ډارېږي. موږ دواړه سره ملګري يو.

جنرال خپل کوچني شاګرد ته، چې له نوکرانو سره د وريجو کاسې ته ناست

دی او، د افغانانو په دود، په دریو گوتو په لاس کې غټې غټې مړۍ راپورته کوي او په اشتها یې په خوله منډي، په مینه مینه گوري.

خو نن سهار زموږ زړه‌ور مدافع نور کارونه لري. سترگې یې د اوسپنې د عینکو تر شا ځلېږي، پر گونځې گونځې مخ یې موسکا خپره ده. اوه هو! خپل تور او سپین برېتونه یې هم ښه په خوند تور کړي او چې مخ ته یې ځیر شې نو تازه حجامت یې کړی او د سترگو کونجونه یې هم په سلایي اوږده کړي دي. دلته یوازې ښځې سینگار نه کوي، جنگیالي یې هم کوي. جومات ته پر لار دی. هلته به پاچا نادرخان، چې په ټوله اسلامي نړۍ کې په دینداری مشهور دی، د شکرانې تر لمانځه وروسته وینا کوي. د دې عمیقاً مذهبي ملت له پاره به نو دا وروستی غټ اقدام وي.

دې ته خو اړتیا نه شته چې ووایو چې هېڅ اروپایي، هېڅ کافر، جومات ته نه شي ننوتلای.

- جنرال صاحب بیا به را ته کیسه وکړئ.

جنرال پوندې سره یوځای کړې، په ډېر متانت یې سر ټیټ کړ او لاس یې پر سینه کېښود.

په دې ضمن کې، ښاغلی ریکس، د شوروي اتحاد شارژدافېر، چې په افغانستان کې د دیپلوماتانو تر ټولو ډېره سابقه لري – دلته یې یوولس کاله تېر کړي او هر څوک پېژني – موږ پسې راغی چې شاوخوا چکر ووهو.

لارې، سرکونه او میدانۍ خلکو داسې په سر اخیستي چې په گرانه په کې موټر ځان ته لار وباسي. دلته د نادرخان او شاه‌ولي خان دوه پوځونه هم دي او له شاوخوا غرونو، کلیو او قبیلو څخه په بیړه راغلی لښکر هم دی چې غواړي پاچا ووینې.

په دې گڼه گوڼه کې یوازې سړي دي. کله به نو دلته کومه ښځه ولیدلای شم!

څوک په دایرو کې د پښو بر سر ناست دي، څوک د غونډیو او موړو له پاسه ناست دي، نور بامونو ته ختلي، ټول او هر یو په رنگارنگ وسلو – چړو، نیزو،

تبرونـو او خصوصاً ټوپکـو چـې په مینـه یې ښـکته پورته کوي - ښـه سـمبال دي. هر یـو ټوپـک پورتـه کـوي او د الله په توکل ډزې کوي. یوازې سـړي هم نـه دي. حیوانات ، اسـان، پـه پنډونـو بار خره، پسـان، ترهېدلې غواګانې او خوسي، اوښـان چې هسـکه غـړۍ یـې پورتـه نیولـې او دې هرڅـه یې خـوا وربـده کـړې، او پـه دې غونڅېدونکې میـدان کـې په ډولیو بار سـتر سـتر تور پیلان چـې د خلکو د ناارامه سـمندر له پاسـه د جزیـرو غونډې ښـکاري. څه غـواړي؟ اخوا دې خـوا، په دوړو او ګردونو کې نغښـتي سـورني، ډولونـه، د ټوپکـو باړونـه، چاودنـې او چغـې. دا څنګـه کېـدای شي؟ خوب وینـو؟ کـه دا ټوپـک او زمـوږ موټـر نـه وای سـړي بـه فکـر کاوه چـې دا هـم د برياوو د هغـو جشـنونو یـوه صحنـه ده چـې پـه پخـوا زمانـو کـې ډېـرو فاتحاتو، لـه مقدونې سـکندر تـر چنګېـز خان، ګنـو فاتحینو پـر دې خـاوره لمانځلي دي.

څومـره د خوشـالۍ ځـای بـه وای چـې سـړی پـه دې کوڅـو او دې میدانونو کې وګـرزي، د خلکـو دې ډلـو سره مـخ شي، د معجزه‌یی ننـدارو د جزییاتو په لیدلو خپلې سـترګې مـړې کـړي. لـه بـده مرغـه دا کار ناشـونی دی. لا راغـلي نـه وي، چې خلګ ځـای پـر ځـای، هېښ پاتـې شي. د دې اکـثرو خلکـو له پـاره چې لـه سـوېله راغلي دي، تـر معجـزې کمـه نـه ده. دا شـيطاني ګاډی. هغـوی یې «شـيطان ارابه» بـولي. په سـلګونو مخونـه زمـوږ خواته رااوړي. په سـلګونو له اوره ډکې سـترګې پر موږ نښـتې دي. نظرونـه یـې چـې لومـړی په کې تعجـب او حیرانتیـا ځلېـده ورو ورو، یوه وحشي کراهیـت کې، د دښـمنۍ رنګ اخـلي. غربیان، کافـران... او تر هر څه بـتر، لوڅ مخې ښـځه... یـوه ښـځه له څو سـړیو سره!

شـور، چغـې، ناڅاپـي ټېوونـه. زمـوږ سـاتونکي، د موټر پـه چوکیـو او پایدانونو، هـرې حادثـې تـه تیار، ټوپک پـه لاس دي. ډرېور، یو آرام روسـی، د موټـر په چالاکولو کـې بـلا کوي چې هېڅـوک ترې نه لګېږي. که داسـې شـوي وای جنجال بـه جوړ و. مـوږ د نـارو، چغـو او بـې دلیلـه ډزو په منځ کـې پرمخ ځو.

ناڅاپـه، لـه هغه تنګي وروسـته چې د کابل دښـته لـه دارالامانه بېلـوي، د صحنې فـوق العـاده بدلـون! پـه یـوه نااشـنا تنهایۍ کـې، یو پـراخ واټ چـې دواړو خـواوو ته یـې ونـې کرل شـوې دي او پلیو او پر اس سـپرو له پـاره جوړې لارې د سیورو په دوو

کمانیو کې رانغاړي. د لسو کیلومترو اوږد واټ چې، د پراخې هوارې په منځ کې، مخامخ ځي او په افق کې یې د مانۍ نخښې ښکاري. دا نوی پایتخت دی چې لا د پروژې په حالت کې دی. پخواني پاچا، امان‌الله څه خوبونه لیدلي وو او په ریښتیا کولو یې پیل کړی و!

په داسې حال کې چې په زاړه ښار کې، د یو ګډوډ بیروبار په منځ کې، هیجان ځپلی ولس د نوي پاچا هرکلی کوي. دې خواته نوی ښار سړي ته هغه بل پاچا وریادوي چې په جادویي ګوتو یې له نشته را پیدا کړی دی.

د لوی واټ په اوږدو کې، چې څنګ ته یې یوه کوچنۍ د رېل پټلۍ پرته ده، عصري کورونه او د مني په لاس طلايي شوو ښکلو باغونو په منځ کې لویې ویلاګانې.

باغونه. امان‌الله ورسره دومره مینه درلوده چې یوه ورځ، کله چې نوي خورا بدرنګ تعمیرونه نړول کېدل، امر یې وکړ چې هغه د ختو بدشکله دېوالونه هم د انسان د قد په اندازه راټیټ شي چې باغونه یې د خلکو له سترګو پناکول. دلته به د غونډیو پرسر، د نوې پلازمېنې په زړه کې، خورا ښه وده کوي. پراخ منظم پټي چې په منځ کې یې ډنډونه جوړ دي له یوې لویې ګردې میدانۍ چاپېره دي چې هرې خوا ته ترې شنې سمسورې لارې تللي او له پاسه پرې دولتي مانۍ ولاړه ده.

دا د هغه پاچا وړ طرح وه چې په ترقۍ مین و. فرانسه هم په کې خپله ونډه لري ځکه چې زموږ د هېواد یو مهندس، ښاغلي ګودار، چې د لرغونپوه پروفیسر فوشې د ماموریت مرستیال و او اوس د فرانسې د تاریخي آبداتو مشر مسوول دی، د دې بې جوړې ښار نقشه ډیزاین کړې ده. کله چې د حکومتي ودانۍ کار تر یو ځایه پوره شو، پر شاهي مانۍ کار پیل شو. شاهي مانۍ لږ څه شاته، پر یوه لوړه، د چوترهیی باغچو او قوریو په منځ کې – چې مني ورته سوربخن رنګ ورکړی - ولاړه ده. ډبرین تعمیر، ساده جوړښت، مانۍ په خپلو شاوخوا سلو کړکیو چې څیني یې لابندې ي، لاندې بې ساري شنه ورشو د خړو غونډیو په پسمنظر کې ښکاري. د انساني خواهشاتو د بې پایښتۍ بېلګه، چې بیا به کله د ښاپیریو شهزاده راځي او دا ویده شهزادګۍ به راویښوي. خو سره له دې هم، ښه به نه وي چې

کارونـه لـه سره پيـل شي، هغـه څه چې شـوي خونـدي شي، ځکـه چې وخـت او باد او بـاران يې ګواښـي.

د بېرتـه راتلـو پـر مهـال په يـو خوندور ځـای کـې، د غره په لمنـه کـې، د المان تر سـفارت لـږ پورتـه درېږو. دلتـه د يوې خـوارې محوطې پـه منځ کې – چـې وخت يې مرمـرو تـه سره بخنـه ځلا ورکـړې - درې قبرونـه دي. تر ټولـو لوی يې د بابـر دی. د نه ماتېدونکـو مغولـو تـر ټولـو مېړنی پاچـا، ټوله دنيـا کې و ګرزېـد خو د ابـدي خوب له پـاره يـې دا ارام او زړه‌راښـکونکی ځـای خـوښ کـړ. دی د هند په اګره کې مړ شـوی و خـو لمـسي يې، شـاه جهـان، دلتـه راوړ او د هغه له وصيت سره سـم يې تر يوې سـاده ډبـرې لانـدې د مېرمنـې ګوهرنسـا بېګـم او يـو زوی تـر منځه ښـخ کړ. لږ ښـکته د يو جومـات کوچنۍ ګومبزه د پاڼو شـاته ګرده ښـکاري.

زه بـې ارادې، هلتـه لېـږې، د ايټاليـا پـه سـان ريمـو مـو کې، د ځوان شـړل شـوي پاچـا، امان‌اللـه د ارمانونـو تصور کوم چې دا ښـکلې دښـته بـه يادوي چـې دومره مينه يـې ورسره درلـوده هڅوکـي بـه يـې په کـې نه دمـه کېږي.

پـه دې ضمـن کـې، پـه کابل کـې، په لوی جومـات کې چـې په زرګونـو خلک په کـې راټـول وو، د قـرآن تـر تلاوت وروسـته، نادرخان ، چـې دا يې د عـزت د اوج ټکی و، وينـا کوله.

هغـه پـه ولاړه خـبرې وکـړې، جومـات د لويـې ګومبـزې له پاسـه د سـپينو پټو په لوړ سر.

هغـه يـو وار بيـا د دې بريـا سـتاينه وکـړه چـې له منظمـې اردو، له وسـلو او پيسـو پرتـه، د يـو بـې پتـه غاصب پر ضـد، د يو ملـت د وطنپرسـتانه پاڅون نتيجـه وه. يو وار بيـا يـې لـه قبايلـو مننه وکړه چـې د ده مـلا يـې ورتړلـې وه او ورنه يې وغوښـتل چې د وطـن د خير لـه پـاره د يـووالي او پيوسـتون دغـه روحيه وسـاتي. بيـا يې په ډېره سـاده ژبـه خپلې پـروژې بيـان کـړې:

- دوه روحـاني مـشران کوهسـتان تـه تلـلي چـې لـه خلکو وغـواړي چې د سـقاو زوی تسـليم کـړي. تـر هغـه وختـه، زمـوږ لښـکرې کوهسـتان ته ځـي چـې د اړتيا پر مهـال مداخلـه وکـړي. زه لـه دوی څخـه په کلکـه غواړم چې هغـه چا سره بـده رويه و

نـه کـړي چـې د دوی هرکلـی کـوي خو هغـه څـوک دې په بـې رحمۍ وځپـي چې د دوي پـه مـخ کې دربـړي. زړو او وړو ته دې څه نه وايي او د ښـځو عزت دې وسـاتي.

بيا نادر قرآن پورته کړ او په ډډ غږ يې وويل:

- دا مه هېروئ چې د ښځو درناوی د سپېڅلي کتاب لارښونه ده.

خلـک راووتـل. پـر دې بيانيـه يـې تبـصرې کولـې. دا بيانيه، چـې مشران بـه يې د خپلـو قبيلـو هغـه وګـړو ته تکـراروي چـې ورسره راغلي او هغـو ته به يې رسـوي چې هلتـه پـه غرونـو، کليـو او په دښـته کې تـر کيږديو لانـدې پاتې شـوي دي.

تـول متوجـه شـوي وو چـې پاچـا اروپايـي دريـشي اغوسـتې وه خو پـر سر يې د خلافـت پګړۍ تړلـې وه.



د پاچاهۍ د اعلان پر سبا نادرخان پاچا د کابل په لوی مسجد کې خپله لومړۍ وینا کوي



د جلوس پر سبا خلک د مسجد مخې ته د پاچا په انتظار دي (عکس: کارل)



د نادر شاه د داخلېدو پر ورځ منګل جنګيالي پر سړکونو اتڼ کوي (عکس : اندرې ويوليس)

# یوولسم فصل

## د افغانستان د تاریخ په اړه څو ټکي

لومړي یرغلونه – اسلام راځي او پاتې کېږي – مهاجمین تېرېږي – د انګلستان او روسیې تر منځه – د عبدالرحمن او حبیب‌الله ملي کارنامې – یو مرموز قتل

پر هغو پېښو د پوهېدو له پاره چې په وروستیو کلونو کې په افغانستان کې تېرې شوې دي، لازمه بـه وي چې د افغانستان د تاریخ په اړه لږ مالومات ولرو. دا تاریخ اوږد دی، پېچلی دی او لومړي وختونه یې، کم له کمه د اسلام تر راتلو پورې، لا هم په تیاره کې دي.

خو له میلاده پینځه پېړۍ د مخه هېرودوت د دې هېواد په اړه خبرې کوي او د نامه مانا یې ورکوي: دا نوم له سانسکریت له «اسپه ګان» څخه راغلی چې د اس سوارانو د ټاټوبي مانا لري، افغانان په دې هنر کې برلاسي وو او لا اوس هم په کې شهرت لري. د فارسي ژبې لوی شاعر، فردوسي په مشهورو بیتونو کې د هغوی د سورلۍ مهارت او اتلواله ستایلي دي.

دوی د پارسي او سانسکرېت په پخوانیو تاریخونو کې هم یاد شوي دي چې هلته اکثره افغانستان او پارس، چې ډېر ځله یې برخلیک شریک و، سره مغالطه شوي دي. کېدای شي چې په افسانوي زمانو کې، د افغاني هندوکش د غرونو له لارې اریایان د ویدي سندرو «سپتا سندهو»، اوسني پنجاب، ته تللي وي. په همدغو غرونو او درو کې وار په وار د کوروش او داریوش ساتراپۍ او بیا د

مقدوني سکندر لښکرې هم تېرې شوې دي. د سکندر ځایناستي او د هغوی له خوا سلطنتونه درې پېړۍ په افغانستان کې پاتې شول، تر هغو چې ساکان یا هندو-سیت، چې هغوی هم غالباً د هندوکش له لوړو راکښېوتي وو د عیسوي دورې په پیل کې دلته مېشت شول.

د دوی د واک دورې شپږ پېړۍ دوام وکړ. دوی یو داسې مدنیت را منځ ته کړ چې د یوناني مدنیت پاتې شوني یې د بودایي او مزدایي عقیدو له عناصرو سره ګډ کړي وو. د زرتشت دغه مذهب په دې پخوانیو وختونو کې خورا مهم نقش ولوباوه او د چین او منګولیا د مدنیتونو او د هند او پارس د مدنیتونو تر منځ یې د وصل کړۍ جوړه کړه. بودیزم هم چې له سویلي هندوستان نه راغلی و او د جلال اباد د درې له لارې شمال کې ترابامیانه خپور شوی و، له یوناني اسطورو سره په همرنګۍ یو ځای شو. هغه خرابې شوې ودانۍ، قبرونه، مجسمې او کندنکارۍ چې په دې وروستیو کلونو کې زموږ پوهانو په هډه او پیتاوه کې راسپړلې دي د دې وخت شاهدي وايي او داسې انګېرل کېږي چې دا به د یوناني-باختري هنر تر ټولو نږه او ځانګړې بېلګې وي.

له بده مرغه دغه مدنیت د بېلابېلو تهاجمونو پر وړاندې شاته ولاړ. په تېره د رېښتینو بربرانو – هېپتالي هونانو – یرغل چې ټول رسوم یې پر بل مخ کړل؛ ور پسې د لوېدیزو ترکانو یرغل چې د باختر څنډې یې ونیولې او بیا په ټول هېواد کې خپاره شول او په اومه پېړۍ کې د عربو تر راتلو هلته پاتې شول.

***

بیا نو له اسلام سره، چې افغانانو سمدلاسه خپل کړ او تر ټولو کلک او وفادار ساتونکي یې شول، چې اوس هم دي، د افغانستان د برم دوره پیلېږي.

عربان چې راغلل دلته یې شتمن او سوکاله خلک وموندل. خلفاوو چې ورته یو مذهب او یو فرهنګ راوړي وو، له دوی څخه مطلق اطاعت و نه غوښت. افغانانو ته یې د خپلو سیالانو په سترګه وکتل. دوی چې، څمکه یې د پېړیو په اوږدو کې یرغلګرو – چې ځینې یې له شماله راغلي وو او ځینې له لوېدیځه – لاندې کړې وه او د خپل استقلال د ساتلو په خاطر د غرونو هغو ځایونو ته تللي

وو چې د چا لاس نه وررسېده، بالاخره په ارام سا واخیسته.

د غزنوي ترکانو لړۍ چې امپراتورۍ یې دوه پېړۍ دوام وکړ، هم ملي ارزښتونو ته درناوی وکړ او ویې پالل. دوی دې هېواد ته داسې پرستیژ وروباخښه چې تر هغه وخته یې ساری نه درلود: د هند شمال، ترکستان، شمالي او ختیز پارس یې ونیول. پلازمېنې، غزني، نه یوازې د مشهورو پوهنتونو او پوهانو له کبله بلکې همداراز د صنعت له اړخه او د زړه‌ورې بادسپلینه اردو په درلودلو، له ښېرازه بغداد سره سیالي کوله.

په دې وخت کې، غزنویانو خپل پایتخت لاهور ته منتقل کړ، اسلام یې د هند یوې پراخې برخې ته ورساوه چې هلته افغانستان هم یو نه انکارکېدونکی اغیز پرېښود او هم یې د خپل هنر او تمدن ځینې عناصر راخپل کړل.

له بده مرغه د محمود له مړینې سره، چې په غزنویانو کې یو ستر شخصیت دی، د ګډوډۍ او کورنیو جګړو یوه نارامه دوره پیل شوه. یو افغان مشر، محمد غوري، هڅه وکړه چې یوه نړه افغاني پاچاهي جوړه کړي. د دې پاچاهۍ عمر لنډ و او شاو خوا دېرش کاله وروسته پر دې هېواد ناورینونه راغلل او په تیارو کې یې ډوب کړ.

د افغانستان ټول تاریخ ته دغه ،د څلورلارې جغرافیایي موقعیت، چې هم د دې هېواد د قوت ټکی دی او هم یې د کمزورۍ، شکل ورکړی دی. یرغلګرو، چې د هند افسانوي شتمنیو د مقناطیس په څېر ځان ته کشول، افغانانو ته د دې وخت پرې نه ښود چې ځان تنظیم کړي او خپل دریځ ټینګ کړي. وار په وار، دهشتناک چنګېز خان (۱۲۲۱)، ورپسې ګوډ تیمور (۱۴۰۰) او بیا وروسته سلطان بابر او مغولي امپراتوري چې ، په ګډوډیو کې تر پاشل کېدو د مخه، یې دوه سوه کاله دوام وکړ، بیا د پارس مشهور نادر شاه چې هېواد یې په بې رحمۍ وځپه، د یووالي هڅې یې ورشنډې کړې او لړوډېر په کې حاکم و. هر ځل، په لړ. بري، او ډېر همت، افغانان د بهرنیانو جغ ماتوي.

د نادر شاه تر مرګ وروسته به افغانستان خپل خوبونه ریښتیا کړي؟ یو وخت ورته دا هیله پیدا کېږي. د دوی د نژاد یو مشر، احمد خان، چې د خپلو سیالانو

لـه خـوا غوره شـوی و، د خپـل ملت خپلواکـي اعلان کـړه، کندهار يـې د پلازمېنې له پـاره غـوره کـړ، په زغـرده يـې اصلاحـات را منځ ته کـړل، منظمـه اردو يې جـوړه کړه، لاهـور، خراسـان او پنجـاب يـې و نيول او افغانسـتان په لـږ وخت کې د منځنۍ اسـيا يو تـر ټولـو ځواکمن دولت شـو.

د ډېـر وخـت لـه پاره نه. احمدشـاه چـې په خپلو خلکو ډېـر گـران و او د بابا لقب يـې ورکـړی و، او مشـهورو واقعـه ليکونکـو «در دران» (د درانايانو ملغلـره) باله، ومړ. زامـن يـې او ورپسـې يې لمسي، چـې د حرمسرای مرموزو دسيسـو يو د بـل پروړاندې درولي وو، پرتـه لـه دې چـې د تخـت پر سر شـخړې وکړي، نـور يې څه نـه وو زده. له دې اختلافاتـو د هنـد نـوي ځواکمـن، برتانويـان، گټه اخـلي. دوی اوس يـوازې يو څه پـه نظـر کې لـري او هغه د دغه کلک مورچـل او دفاعي موقعيت، چې افغانسـتان دی، لانـدې کول، د ښـارونو (کابـل، جلال‌اباد، غزني) چـې په حقيقت کې د هنـد دروازې دي او پـه خـاص ډول د خيـبر درې چې د هند کيـلي ده، خپلول دي.

خـو يـو بل هېـواد هم ورته غوښـتنې لـري. روسـيه، د لوی پيټر له وخته، پر اسـيا د دوی د حاکميـت سرسـخته رقيـب دی. روسـيه هـم ورو ورو را مـخ تـه شـوې او د ترکسـتان د خانانـو ځمکـې يـې لانـدې کـړې دي. هغـه هـم غـواړي چـې ازادو اوبو تـه د رسـېدلو لـه پـاره، چې د دوی د سـمندري ځـواک او سـوداگرۍ لـه پـاره لازمې دي، پـه افغانسـتان کـې يـو ډاډمـن سـتراتيژيک موقعيـت او د يرغـل له پـاره ټينگه کلا ولـري. د خوارکـي افغانسـتان پـر خـاوره د دې دوو بـې شـانه لويـو ځواکونـو تـر منځ مقابلـه لـه يـوې پېړۍ راهيسـې روانـه ده. دا مقابلـه په۱۸۳۹ کـې پيلېـږي. انگرېزان د افغانسـتان پـر خاوره يرغـل کوي او تر غـزني پورې مخکـې ځي. درې کاله وروسـته، د روسـانو پـه لمسـه، چـې دوسـت محمد خان ته يـې، چې د هېـواد په نامـه پاچا و که څـه هـم ريښـتينی واک يـې نـه درلود، يو پـلاوی اسـتولی و، يو لـوی بغاوت وشـو او شـاتگ تـه اړ کـړل. خـو پـه ۱۸۴۳ کې بيـا راغلل، کابـل يې ونيـو او پر امير يې د ښـه گاونډيتـوب، يـا که بهـتره ووايو، د مريتوب، يـو تړون تحميل کړ. دی چـې د دوه نوي کلونـو پـه عمر مړ شـو، د دوو ځواکمنـو گاونډيو تر منځ د تلې (ښـکته پورتـه کېدو) د سياسـت بنسـټگر دی چې له هغه وخته راهيسـې يې ټولو ځايناسـتو لوبولـی دی. کله چـې برتانويـان د افغانانـو خپلواکي گواښـي دوی روسـيې ته نږدې کېږي او کله چې

روسیه په خپل وار د خپل ملاتړ بیه غواړي تر مخ اړوي. دا یوه خطرناکه لوبه ده چې گټې او تاوانونه لري خو داسې ښکاري چې تر دې دمه یې دوی له یو ناهیلي مرییتوبه ساتلي وي.

په دې پلمه چې د دوست محمد خان ځایناستی، شېرعلي خان، روسیې سره دوستانه اړیکي پالي، انگرېزانو په ۱۸۷۸-۱۸۷۹ کې یووار بیا پر افغانستان برید وکړ. له گڼو ماجراوو وروسته چې مهمه یې په کابل کې د هغوی د لوی کمیشنر، کیوناري قتل و (کیوناري یو عجیب ماجراجوی شخصیت و چې ژوند یې بېل داستان دی). انگرېزانو بالاخره وکړای شول چې د افغانستان د یووالي د بنسټگر پر لمسي، د دوی دخوښې پر امیر، عبدالرحمن، خپل شرایط ومني. ده، د ۱۸۸۳ د تړون له مخې د انگرېزانو حاکمیت ومانه او له نورو خارجي ځواکونو سره د اړیکو له جوړولو منصرف شو. هغه دا شرایط په ښه زړه نه وو منلي. په شمالي سرحدونو کې د روسي پوځونو له خوا د ځو ځله رامنځ ته شوو ستونزو او بیا وروسته د بویرانو له خوا انگرېزانو ته د وراووښتې ماتې په نتیجه کې عبدالرحمن هڅه وکړه چې په سوله‌ییزه توگه ځان له انگرېزي ښکېلاک څخه وباسي خو بریالی نه شو. برعکس، هغه وتوانېد چې هېواد په مهارت سره تنظیم کړي، پر نامنونکو قبایلي مشرانو چې تر دې وخته یې د ده حکومت ته غاړه نه وه ایښې خپل حاکمیت و مانه، دولت یې سره یو کړ او کله چې په ۱۹۰۱ کې ومړ، خپل زوی ته یې یو ارام، مرکزي دولت په میراث پرېښود چې سوداگري یې گرمه وه او د پرمختگ په تمه و.

امیر حبیب‌الله د خپل پلار کارونو ته ادامه ورکړه. هغه هم هڅه وکړه چې ځان د انگرېزانو له سلطې وباسي، نور د هند وایسرا ته مراجعه و نه کړي بلکې مخامخ د لندن د بهرنیوچارو د مرستیال سره مراوده ولري، انگلستان او نورو هېوادونو ته خپل استازي واستوي او د هغوی استازي په کابل کې ومني. ده هم د خپلو اسلافو په څېر په دې برخه کې بری و نه موند. دی هم په خپل وار، په ۱۹۰۵ کې اړ شو چې ژمنه وکړي چې له انگلستان پرته به له بل هېواد سره دیپلوماتیک اړیکي نه جوړوي.

له دې وروسته، امیر حبیب‌الله له بهرنیو چارو سره بې علاقې کېږي او یوازې

په کورنیو اصلاحاتو تمرکز کوي. د اسلامي ختیځ فکري رنسانس پر افغانستان هم اغیز وښانده، نوی لیدلوری او نوي فکرونه دلته هم راغلل. حبیب‌الله د دې خوزښت ملاتړ کوي، عصري ښوونځي جوړوي، په خاص ډول په هېواد کې د ښوونکو د روزلو له پاره یو ډول انستیتوت – حبیبیه ښوونځی – پرانیزي. هڅه کوي چې خپل پایتخت ته، چې نوې ماڼۍ او آبدې په کې جوړې شوي، د یو غربي ښار بڼه ورکړي. خپله اردو عصري کوي او اروپایي روزونکي ورته استخداموي، تجارت هڅوي، د نوو صنایعو وده تشویقوي او د اسلامي قانون پر اصلاح فکر کوي. هغه لا په خپلو پلانونو بوخت و چې نړۍ‌واله جګړه د ټکې غونډې راغله. هغه کولای شول چې له هغو بدلونونو ګټه واخلي چې دې جګړې رامنځ ته کړي وو او هغه جغ یې مات کړی وای چې هم ترې ولس او هم یې ترې مشرانو کرکه درلوده. هغه داسې څه و نه کړل، هغو ژمنو ته په کلکه، په عزت وفادار پاتې شو چې زور وربانـدې تپلې وې.

خو په ۱۹۱۸ کې حالات بدل شوي وو. روسي امپراتوري ړنګه شوې وه او په هغې ګډوډۍ کې چې له دې ړنګېدو سره را پیدا شوې وه، هېڅ کوم مستحکم ځواک نه و رامنځ ته شوی. انګستان د جنګ خواریو، په بین‌النهرین کې ماتې او په قفقاز کې – چې هغه یې شتمنیو ته سترګې نیولې وې او وتلو ته ترې اړ شوی و– اخلاقي ناکامۍ کمزوری کړی و نور یې د بل یرغل وس نه درلود. د هند او د اسیا پر خلکو د بغاوت باد رالګېدلی و. د افغانستان نخبه ګان د بې تابۍ تبې نیولي وو. هغه ازادي چې د پېړیو راهیسې د دې هېواد هیله وه، څه وخت به اعلانېږي؟ کله؟

ډار یا ژمنتیا، حبیب‌الله لا دوه زړی و. د خلکو غږ، په تېره بیا د نوي ملي مترقي ګوند په غږیو، ورو خو په قوت ویل:

- هغه زوړ دی، کمزوری دی.

د ۱۹۱۹ کال د فبروري په شلمه د بدمرغه امیر په خیمه کې - چې له خپل زوی عنایت الله او خپل ورور نصرالله سره جلال اباد ته نېږدې، د ځینو په وینا د خپل لښکر په منځ کې د ځینو نورو په وینا د ښکار په چکر تللی و – ډز وشو. کله چې خلک راغلل، هغه پر خپل کټ پروت و، په خپلو وینو کې لمبېده.

کـوم لاس پـرې گـوزار کـړی و؟ د گارد یـو افـسر، د قتل پـه تور سمدلاسـه اعدام شـو. دا بیـړه کـه څه هـم د افغاني عنعنې سره سـمه وه خـو یو څه هېښـوونکې هم وه. دا اوازه هـم خپـره شـوه چـې امان‌اللـه پـه خپلـه وواژه. خو دغـه تېټ پـوړي افسر ولې قتـل وکـړ؟ چـا هڅولـی و؟ لوی لـوی نومونه هغـه وخت واخیسـتل شـول، اوس هم اخیسـتل کېـږي. له یوې مسـخره څېړنې وروسـته د پاچـا ورور، نصرالله پـه عمري بند محکـوم شـو او لـږ وخت وروسـته پـه بند کې مړ شـو. خو د قتـل اسرار رسـماً معلوم نـه شـول. د امیـر دریـم زوی، چـې پر هغه گـران هم و، د ترقي غوښـتونکو د خوښـې کـس، امان‌اللـه نـه حیران شـو او نـه دې وحشـتناک خبر لـه لاس او پښـو وغورځاوه. پرتـه لـه دې چـې وخـت ضایـع کړي یـا د نورو ورونـو پر حق فکـر وکړي دغـه زلمي، د خلکـو پـه وینـا، لومـړی پـر پـوځ، پـه هماغه کمـپ کې چـې پلار یـې په کـې وژل شـوی و، خپلـه پاچاهـي ومنلـه او بیـا یې، په بیړه راغوښـتل شـوې، د مخـورو جرگې باندې تاییـد کړه.

هغـه تخـت یـوازې په دې شرط قبـول کړ چې پر بشـپړ خپلواک هېـواد به پاچاهي کـوي. لـه جذبـو ډک هر کلي ورتـه ځواب ووایـه. څو ورځې وروسـته یـو لنډکي، بې تشریفاتـو، لیـک د هنـد وایسرا تـه د امان‌اللـه د پاچاکېـدو او د افغانسـتان د خپلواکۍ خـبر پر یـو ځـای ورکړ.

د ښـکلي غرور نخښـه، دا حرکـت لومړۍ بې احتیاطـي وه او نـورې بې احتیاطۍ هم ورپسـې راروانې وې.

# دولسم فصل

## هغه څه چې امان‌الله یې تباه کړ

د ځوان پاچا د ملي پیاوړتیا کارونه – زړه‌ورتیا او بې احتیاطي – تله د روس خوا ته درنېږي – تروخت د مخه خطرناک اصلاحات – له اروپا څخه له راستنېدو سره شورش

امـان اللـه پاچـا اتـه ویشـت کلـن و چـې پـر تخـت کښېناسـت. منځنۍ ونـه، لږ چـاغ، هـدوړ، چسـت ، غټه زنه، سـترګې رووښـانه او خندنۍ د ښـه نیـت او د ځوانۍ انـرژي احسـاس یـې خپـراوه. هغه په یویشـت کلنۍ کـې د محمود طرزي لـه لور سره واده وکـړ. محمـود طـرزی هغه مهال د افغانسـتان یوازینی اخبـار خپروونکی و. سراج الاخبـار اونیـزه چـې پـه ۱۹۰۱ کال کـې یـې پیل کـړې وه، په ټوله مسـلمانه اسیا کې مشـهوره وه او افغانسـتان تـه یې نوي افـکار راوړل.

ځوان پاچا، له حربي ښـوونځي څخه له خلاصېدو سره سـم، دا سـتر ژرنالیسـت پـه اسـتادۍ منلـی و او بیـا یې خپـل خسر کړ. چـې قدرت ته ورسـېد، د بهرنیـو چارو وزیـر او خپـل خـاص سـلاکار یې کـړ. ایـا دا اغیز همیشـه ګټـور و؟ محمـود طرزي، چـې لـه خپل پـلار سره یې دېـرش کاله په دمشـق کې جلاوطنـي تېره کړې وه، ریښـتیا یـې هـم دومره عمـلي تجربه درلـوده لکه په تیـوري چې پوهېـده؟ د وطن لـه خلکو او حادثاتـو سره یـې تمـاس لـه منځـه نه و تللـی؟ او بیـا د تخت شـاوخوا د راټول شـوي مخلـوق په غوراوي کـې دقیق او هوښـیار و؟

پـه هـر صـورت، امان‌الله سمدلاسـه د هېواد پر ښـو درولـو چارې په خـورا فعال

ډول پيل کړي.

تر دې مهاله په افغانستان کې د قدرت واگې د پاچا په لاس کې وې چې د هېواد ټولې چارې، تر عدالت پورې – يې په خپل لاس کې ساتلې. پاچا بايد په هر څه پوهېدای او هر څه يې کولای شوای. امان‌الله په خپله له دغه درانه واک څخه ځان بې برخې کړ، عصري حکومت يې ورغاوه، کابينه، قانون جوړوونکې او تصميم نيوونکې شورا، خپلواک او مسوول محاکم يې رامنځ ته کړل. هغه خپلو وزيرانو ته د عمل ابتکار پرېښود او ځان ته يې يوازې د نظارت حق وساته.

هېواد خوار دی، صنعت او مواصلاتي لارې نه لري، کرنې او سوداگرۍ – چې پر محدودو امکاناتو چلېږي - په لسو پېړيو کې پرمختگ نه دی کړی. پاچا بهرني تخنيکران راوستل، د کابل په خوله کې يې يوه لويه «فابريکه خانه» جوړه کړه، له بهره يې ماشينونه واخيستل، د کورني صنعت د جوړو شوو ټوکرونو په اغوستلو يې خلکو ته عملي مثال ورکړ او پر درباريانو او مخورو يې د دې توليداتو کارول حتمي کړل، نوي سړکونه يې پرانيستل، يو سړک له کابله د ختيزې پولې پر لور چې پر جلال اباد تېرېده، بل شمالي پولې ته د ترکستان خواته، د کندهار او غزني لوري ته لويديځ سړک يې بيا ورغاوه. د ټولو سړکونو پرغاړه يې ونې وکرلې څکه چې د ځنگلونو پراختيا هېواد ته هغه لمده‌بل ورکوي چې اړتيا يې ده، او له دې سره د اوبو رسولو د کانالونو او لويو بندونو جوړول د سلطنت تر ټولو گټور نوښتونه وو.

امان‌الله هېواد ته بېلابېل مخابراتي-تلگرافي سټيشنونه راوړل، د ټلېفون لينونه يې راوړل، د هندوکش په وروستيو ښاخونو کې يې د پغمان د اوړي ښار جوړ کړ او له هغه ځايه يې پرېمانه پاکې اوبه کابل ته راوستلې. هر ځای کې مانۍ، دولتي ودانۍ، پارکونه او باغونه جوړ کړل، د امپراتورۍ له پاره د يو مناسب پايتخت په خاطر يې ځای غوره کړ او کار يې پرې پيل کړ. همدارازيې معارف ته، چې شايد د هغه تر ټولو ستره انديښنه وه، ښکلې وده ورکړه لومړني او ثانوي ښوونځي يو په پل پسې جوړ شول، ډېر ژر يو دارالمعلمين او يو د انجنيرۍ ښوونځی هم ايجاد شول. د غربي ژبو يو ښونځی، يو فرانسوي ښوونځی چې تر شپږسوو شاگردان لري، يو الماني ښوونځی او نور څه او څه. د افغانستان د هنر تاريخ يې هم

ځنګ تـه پرې نه ښـود، له فرانسـې سره یـې یو تړون وکـړ او د فرانسـې د لرغونپېژندنې ماموریـت تـه یـې په هېـواد کې د کیندنـو انحصاري حق ورکـړ. له دې کیندنـو لاس ته راغـلي توکـي د دواړو هېوادونـو تـر منځ وېشـل کېږي، او پـه هغه موزیم کې ایښـودل کېږي چـې نوی یـې جوړ کـړی دی.

دا سـتر کارونـه یـې، چې د یـوې پاچاهـۍ د نامه ځلولو لـه پـاره کافي دي، په نهو کلونـو کـې وکـړل. او پـه څومـره ناچیـزه امکاناتـو! هېـڅ پاچا پـه دومره شـوق د خپل هېـواد د ښـکلا، د فکـري او هـنري فرهنـګ، د مادي هوسـاینې او علمـي پرمختګ له پـاره دومـره په شـوق کار نـه دی کړی.

***

او لــه دومـره زیـار سره سره، دا دی هر څه ترې ولاړل. اوس پـه ایټالیه کې آواره دی او د بېرتـه تلو هیله یې نه شـته. د قسـمت بې‌پایښـتي او د ولسـونو بې وفایـي دا حالت شرح کولای شي؟

نـه. غـم به د امان‌الله د ښـو صفاتـو په افراط کې وي. د هغه ښـکلې شـجاعت او چټکتیـا چـې، شـاوخوا یې نه کتل او سمدلاسـه یې هغـه پلانونه عملي کـول چې د ده پـه انـد د هېـواد په ګټـه وو. کیدای شي چـې لوړ اسـتعداد یې درلود خـو هغه کوچنۍ خـو لازمـې ښـیګڼې، احتیـاط او تدبیـر، پـه کې نه و چې سـرې پـرې د خلکـو روح ته لار کـوي او د پېښـو د مخالـف بهیر وړاندوینه پـرې کولای شي.

بـې احتیاطـي یـې له انګلیسـانو څه په خـورا واضحه کرکه کې ښـه جوتـه وه. مور یـې، سراج الخواتیـن، چـې پـر ده یې د محمـود طرزي هومـره اغیز درلـود، هغه په دې کرکـه کـې لا ټینګاوه، چـې هغې په خپله هـم د خپلې مور په شـیدو کې رودلـې وه او د خپـل ژونـد پـه بنده موده کـې یې پاللـې وه. دې ته د هند د انګلیسـانو پـر ضد جګړه مقدس جهاد ښـکارېده.

ومـو لیـدل چـې چـې څرنګـه ، وروسـته له هغـې چـې هغـه د اطاعت تـړون یې مـات کړ چې افغانسـتان یـې برتانوي امپراتـورۍ سره تړلی و، امان‌اللـه تعرضي حالت غـوره کـړ او خپلې لښـکرې یـې د هند پر پولو وروسـتلې. وایي چې انګرېـزان پوهېدل چـې دی د هنـد لـه فعالینـو سره پـه اړیکـه کـې و او پـه پېښـور کـې د ده د اسـتازو پـه

تحریک د سیمه ییزو سپاهیانو پیل شوې بلوا په متې غلې کړای شوه. سره له دې هم، دا دښمني چې په ډېره زړه‌ورتیا پیل شوې او له لوړو ژورو سره مخ وې، د هېواد له پاره تر تمې پورته ښې تمامې شوې.

دوو سختو نښتو، په کوتل او ډکه کې، چې انګرېزي هوایي ځواک په کې مهم نقش ولوباوه، یرغل کوونکي په شا وتمبول او ورته ثابته یې کړه چې د پنجاب پر ولسي پاڅون – چې مشران یې انګرېزانو ونیول – ملا نه شوه تړل کېدای.

د راولپینډۍ سوله چې د ۱۹۱۹ په اګست کې لاسلیک شوه یوه بې ساري ډیپلوماتیکه بریا وه.

په ۱۹۲۱ کې دوه مهم تړونونه لاسیک شول. یو د فبرورۍ پر اته ویشتمه په مسکو کې له روسانو سره او بل د نوامبر پر دوه ویشمه په کابل کې له انګرېزانو سره چې د افغانستان خپلواکي یې تسجیل کړه او ځوان پاچا ته یې د یو خپلواک پاچا ټول امتیازات ومنل او هغه څه یې ورکړل چې له ډېرې مودې ورته لېواله و: نړۍ له ټولو هېوادونو سره د ډیپلوماتیکو اړیکو جوړولو بشپړ واک. که څه هم افغانستان هغه لږه عنعنوي سبسایډي چې انګرېزانو ورکوله له لاسه ورکړه، خو په مقابل کې یې د هند له لارې خپلې سوداګرۍ او د خپلو صادراتو له پاره ښه شرایط تر لاسه کړل.

په همدغو وختونو کې امان‌الله له دوو سترو اسلامي هېوادونو سره د نږدې دوستۍ اړیکې جوړې کړې. د افغانستان استازي، محمد ولي خان د ۱۹۲۱ په مارچ کې له مصطفی کمال سره یو دفاعي او تعرضي تړون لاسلیک کړ چې د یوې کړنلارې حیثیت یې درلود. په دې توګه دواړه هېوادونه، د دې تړون د یوې مادې له مخې «د اسیا د ټولو ولسونو د ازادۍ اصل، د ولسونو له خوا د خپل برخلیک د ټاکلو د حق پر بنسټ، ثابت بولي، او هېڅ کوم بهرنی قدرت نه شي کولای چې د دې ولسونو پر کورنیو او بهرنیو چارو کنترول یا د پرېکړې صلاحیت ولري.» هغوی پر دې هم موافقه کړې وه چې دواړه ورونه ملتونه نور یو له بله نه شي بېلېدای او د دواړو معنوي یووالی باید د یوتړون پر بنسټ په واقعي یووالي بدل شي. ترکي افسران، او د هغوی په ډله کې د انګرېزانو پېژندل شوی دښمن – جمال پاشا، کابل

تـه ولاړل چـې د افغانسـتان اردو تنظيـم کړي. افغانسـتان هغـه مهـال د برتانيـې پر ضد يـو بـلاک جـوړ کـړ چې پارس هـم لـه افغانانـو سره د هرات پـر سرحدي سـيمو خپل اختـلاف هېـر کړ او په کې شـامل شـو. يـو درېگونی اتحـاد چې ترې په الهام اخيسـتو د شـوروي اتحـاد د بهرنيـو چارو کميسـار، غوښـتل چې د مسـکو تر کنـټرول لاندې، د اسـيا د ولسـونو يـو اتحـاد جوړ کـړي او د هغه ځايناسـتی يـې کړي. دغـه درېگونی اتحاد د افغانسـتان په نوښـت جوړ شـو.

پـر دې سربېـره، يـو فـوق العـاده هيئـت د همدغـه محمـد ولي خـان پـه مشرۍ د اروپـا دوره ووهلـه او تـر امريکې پورې ولاړ چې د افغانسـتان په ګټه خـاص قراردادونه لاسـليک کـړي. پـه هـر ځای کـې د دې هيئت ښـه هرکلی وشـو.

پـه دوو، دريـو کلونـو کـې ځوان پاچـا هغه څه تر لاسـه کړل چې پـلار او نيکه يې د نيمـې پېـړۍ په اوږدو کې غوښـتل خـو نتيجه يې نه وه اخيسـتې: پـوره خپلواکي، په اسـلامي نـړۍ کـې مخکښ دريـځ او د نړۍ د ملتونـو په منځ کـې د عزت ځای.

ولـې يـې پـر همـدې اکتفـا و نـه کـړه، ولـې يـې، د برياليتـوب پـه نشـه کـې، بې احتياطـه خـبرې او پاروونکـي اقدامات وکـړل؟ آيا ضرور وه چې پـه خپل پايتخت کې يـې د يـوې شـکمنې بريا پـه ويـاړ څلی جوړکـړی وای؟ ايـا مناسـبه وه چـې د افغان-انګليـس د معاهدې د لاسـليک پر مهـال يې د ځواکمنې امپراتورۍ اسـتازي ته د ترحم او خواخـوږۍ پـه لحن داسـې خبرې کـړې وای چې د يو سـتر قدرت حاکـم به هم نه وې کـړې، او ورتـه نصيحـت وکـړي؟ د دغـې بيانيې لوسـتل عجيبه غوندې ښـکاري. د افغانسـتان پاچاګوتـې د برتانيـې حکومـت تـه وايـي چې د مسـلمانانو پـر وړاندې د هغـوی سياست ناراضـه کـړی دی او تـر څو چې دا سياسـت بـدل نه کړي، نه ښـايي چـې د هغـه پـر ملګرتيـا او ملاتړ حسـاب وکـړي. يـا دا چـې د هندوسـتان د خلکو پر وړانـدې د انګسـتان د سياسـت بدلون ته په اشـاره، د انګلسـتان اسـتازي تـه وايي چې «زمـا هيلـه او مشـوره ټکي پـه ټکي خپـل پاچا ته ورسـوه!»

د برتانـوي اسـتازولۍ مـشر پـه حيرانوونکـي نرمـۍ ورتـه وويل چـې حکومت به يـې لـه ترکيـې سره ښـه چلنـد وکـړي او هنـد به تر لسـو کالـو د مخـه د کاملـې ازادۍ څښـتن شي.

د ځوان پاچا مغرورو څرګندونو د فارين آفيس په ټپچلو مجراوو کې خطرناکې انګازې وکړې.

د «کاکه ګی» په هېواد کې خلک تر بل هر ځای ډېر د خپل مخالف زړه‌ورتيا او بريا ته په درنه سترګه ګوري. هغوي د ۱۹۲۱ په معاهده کې د خپلې سل کلنۍ ډيپلوماسۍ ماتې منلې وه. نور ترې څه غواړئ؟

***

بله خبره هم وه. شوروي روسيه، چې بې کچې هوښياره ده غوارې يې چې افغانستان «په فکري ډول د اسيا د لاندې کولو» په لار کې د زينې د يوه پاټکي په توګه و کاروي. دا هغه لويه پروژه ده، چې له ځينو ماتو سره سره، روسيه لا ورته لېواله ده. ځکه خو لومړی هېواد و چې دا نوی، بې صبره دولت يې په رسميت و پېژانده. د ۱۹۱۹ په اګست کې امان‌الله په کابل کې د ختيځ پېژندونکي عالم، براوين، په مشرۍ د روسي هيئت هرکلی وکړ. سره له دې چې د بخارا د امير سقوط (چې ځای يې يو ،ظاهراً خودجوشه، جمهوريت ونيو او امير خپل ملګري، امان‌الله ته پنا راوړه) ځينې ستونزې را پيدا کړې وې خو په ۱۹۲۱ کې د روسيې-افغانستان تړون لاسليک شو. دې تړون په خپلو موادو کې د متقابل باور او متقابلو مرسته ياونه کوله چې د افغانستان او انګلستان د تړون له وچ لحن سره يې جوت توپير درلود. روسيې په افغانستان کې پينځه قونسلګرۍ پرانيستې او افغانستان ته يې اجازه ورکړه چې پينځه د ترکستان پر پوله او اوه نورې د روسيې په خاوره کې پرانيزي. انګستان د افغانستان په خاوره کې يوازې دوه قونسلګرۍ درلودې او افغانانو ته يې په هند کې يوازې د دريو اجازه ورکړې وه. د افغانستان حکومت له هغو دوه سوه زرو سترلېنګ پونډو تېر شو چې پخوا برتانيې ورکول خو د افغانستان-روسيې د تړون د يوې اضافي مادې پر بنسټ يې د روسيې د يو مليون روبلو کلنۍ سبسايډي و منله. همدا راز يې و منل چې روسيه به ورته ټول هغه تخنيکي کارکوونکي او نور متخصصان ورکوي چې افغانستان ورته اړتيا لري. په مقابل کې افغانستان روسانو ته د کشک-هرات-کندهار-کابل د تلېګراف د کرښې جوړولو امتياز ورکړ. بالاخره، د تړون په لسمه ماده کې راغلي چې «کله چې د

دواړو عـالي عقـد کونکـو لوریـو تر منـځ دوامـداره اړیکې ټینګـې شي نو د شـوراګانو حکومـت به افغانسـتان تـه مالي ملاتـړ او نورې مرسـتې برابـروي.»

امان‌الله د شـوروي اسـتازي ته په ښکاره خپل نېک احسـاس څرګنداوه. ښـاغلی سـوریڅ د ډیپلوماسـۍ یـو سـتوری و چـې د مخلـوع امیـر لـه خوا پـر رامنځ ته شـوو ناخوالـو برلاسـی شـو او وروسـته یې د مصطفی کمال بـاور او ملګرتیا هم ترلاسـه کړه چـې تر اوسـه یې سـاتلې ده.

د سـفارت څلوېښـت غـړي، دا تـر ټولو ګڼ سـفارت دی، د شـورویانو پـه دودیزه لېوالتیـا کار کـوي، راپورونـه لیکي، یاداشـتونه اخلي. مشـاهدې کوي، سـفرونه کوي. کلـه چـې بېرتـه وطن ته ځـي، او د خپل ډیپلوماتیک بکـس د انتقال له پـاره د کاروانونو پـر لار ځـي، د لـوړو غرونو له اوسـېدونکو سره وخت تېروي، او کلـه خو، لکه څرنګه چـې د ښـار پـه زمانـه کـې د کیم پـه ناول کې لیـدل کېـږي، لار هم ورکـوي او سر یې د هنـد خاورې تـه وځـي.

کلـه چـې پاچـا د انګلسـتان الوتکې و نـه منلې او له روسـیې یې الوتکـې او عمله دواړه ومنلـې، پینځـه ویشـت ځـوان هوابازان یې مسـکو ته د سـتاژ له پاره واسـتول، او خصوصـاً، کلـه چـې د شـوروي اتحـاد د سرحدي ښـارونو، تاشـکند، ترمز، سـمرقند او د افغانسـتان د مهمـو ښـارونو تـر منـځ منظمـې اړیکې جوړ ې شـولې نـو د برتانیې اندېښـنې هم جوتې شـوې.

موریـس پېرنـو، چـې پـه ۱۹۲۵ کال کـې کابل تـه تللی و، د افغانسـتان پـه اړه یوه دقیقـه او لـه وړاندوینـو ډکه څېړنه کـړې ده چې په کې د هند د حکومت هغو اندېښـنو تـه اشـاره شـوې ده چې یو «حایل دولت» د روسـانو پـه هڅو د ترکسـتان او د هغوی د خپـل قلمـرو تـر منځه د مزل پـر یو پړاو بدل شـو. هغه پـه دې خبره تاکید کـوي چې د داسـې ګاونـډي په لاس کـې، چې مخالف کېـدای شي، د الوتکو په څېـر د خطرناکې وسـلې موجودیت، د هنـد لـه پـاره ګـواښ جـوړوي. هغـه مهـال د انګلسـتان مهمـو مطبوعاتـو دا ګـواښ پـه ډاروونکـو ادبیاتـو و غانده. هغـه دا هم وایي چې لـه قفقازه تر پامیـره او تـر هغـه ور اخـوا، د شـوروي جمهوریتونـو یـو زنځیـر د مسـکو حکومت ته اجـازه ورکـوي چـې پـه ګاونډیو هېوادونـو کې نه لیـدل کېدونکـي او مدهش عملیات

وکړي. پر دې سربېره د روسيې تجارت به له داسې يوې لارې چې يو سره تر بل سره تر لاس لاندې حکومتونو کې تېرېږي ډېره گټه واخلي. دا هغه موخه وه چې د سلو کالو را په دې خوا د انگلستان حکومت په ډېره لېوالتيا، خو پرته له بري، تعقيب کړې وه.

پرته له شکه چې امان‌الله شاه، چې له يو جغ يې ځان خلاص کړی و، هېڅ علاقه نه درلوده چې بل جغ پر غاړه کړي او په داسې حال کې چې د لندن د ارادو پر وړاندې ودرېد، د مسکو ارادې ومنې. هغه به د دې دواړو گاونډيو ځواکونو، زمري او خرس – چې هر يو د ده خوړلو ته تيار و - په رقابت کې د ځان له پاره د دوی له پراخې اشتها د نجات وسيله لټوله.

خو يا بې احتياطي وه او يا ناپوهي، هغه داسې ښکاره کړه چې گواکې انتخاب کوي او د خپلو ختيځوالو نيکونو له عنعنوي بې طرفۍ څخه يې فاصله واخيسته. ايا انگرېزانو کولای شول چې په ښه زړه دا ومني چې يو ارزښتناک نفوذ يې له لاسه ورکړ او اوس د يوې دښمنې امپراتورۍ د پرمختگ شاهدان و اوسي؟ آيا هغوی ته به سخته نه وه چې په داسې وخت کې چې په کور دننه ستونزې راولاړېدې دوی دې غلي ناست نندارچيان وي؟

***

دا ستونزې مرگونې وې. ځوان پاچا د قبايلو د گډوډۍ حالت ته سم نه وو کتلي چې د ده حاکميت ته يې د غاړې اېښودلو نيت نه درلود. د هغوی د ملي يو والي نشتوالی، د ناپوهو، قدرت غوښتونکو ملايانو له خوا پالل شوی افراطيت، د خپلو مترقي او اصلاحي سياستونو د مخالفو عناصرو شتون يې سم نه وو ارزولی. سترگې يې په هدف کې ښخې کړې وې او پر مخ روان و. ولس يې چې تر هغه ډېر ورو و، لومړی يې د هغه پر پله په تگ کې سا وسوزېده، بيا يې مقاومت بيل کړ او آخر ورته نېغ شو. همدغه د فاجعې علت دی.

لومړۍ صحنه په ۱۹۲۴ کې، په سوېل ختيځ کې د منگلو او ځدراڼو سخت بغاوت و. امان‌الله، لومړی د مهربانۍ له مخې او بيا په دې خاطر چې د رواجونو د وحشت علت ورته همدا ښکارېده، کوښښ وکړ چې د افغانستان د ښځو وضعيت

سم کړي. هغه لومړی د ښځو پر تعدد برید وکړ او په خپله یې هم د پراخه حرمسرای امتیاز ته شا کړه چې د ده په باور د ختیځ د دربارونو د ستونزو، بې پایه دسیسو او بدمرغیو اصلي لامل و. بیا یې پېغلو نجونو ته حق ورکړ چې خپل میړونه په خپله غوره کړي. د سوېل ملایانو په یو غږ وویل: «دا کفر دی!» هغوی کلي په کلي وگرزېدل، په یو لاس کې به یې قرآن نیولی و او په بل لاس کې به یې د نوي قانون متن. هغوی به مسلمانانو ته ویل چې باید یو غوره کړي. ځواب ډېر و نه ځنډېد. قبایلو وسلې پورته کړې، د شمال په لور وخوزېدل، او یو کال وخت یې ونیو چې تر جنگونو، لوټمار او اعدامونو وروسته شورش غلی شي. هغه پیسې چې دومره اوږد مقاومت یې شونی کړ؟ نا مالومه. هوښیارو شاهدانو دې ټکي ته اشاره کوله چې هغه دوه سوه زره سټرلېنگ پونډه چې پخوا به انگرېزانو افغانستان ته ورکول، د هند له بودجې نه وو ایستل شوي. هغه پیسې کومو لاسو ته تلې؟

موریس پېرنو چې کابل ته راورسېد له دې جنگه د راستنو شویو بریالیو عسکرو غنیمتونه یې وکتل او د باغیانو ټوپکونه او ماشینداري یې ولیدې. هغه همدومره وایي چې «د دې وسلو او مهماتو منشاء او د راتلو ځای ډېر جوت ښکاري. کم له کمه هغه چاته چې د انگرېزي ټکي لوستی شي.»

خو پاچا پر دغه لومړي اخطار غوږونه کاڼه کړل، خپلې هڅې او اصلاحات یې دوه چنده کړل. هغه یوه جرگه راوغوښته چې د نجونو د ښونځیو را منځ ته کېدل یې تصویب کړل. دا د اعتراضونو یو بل دلیل و. ورپسې یې یو لړ نور اقدامات وکړل چې یو تر بل ډېر زړه‌ور او د خلکو د خوښې خلاف وو: شریعت، هغه مذهبي قانون چې د قرآن پر بنسټ جوړ شوی او قاضیان یې، شرایطو ته په کتو، په خپله خوښه تعبیروي لغو کړ او پر ځای یې لیکلی قانون چې جزاگانې یې ټاکلې نافذ کړ، هغه له وکیلانو وغوښتل چې خپل عنعنوي لباس پرېږدي، د لیمڅې اوږده خولۍ او زموږ د پخوانیو سیاستوالو په شان چپنې واغوندي. هغه څوک چې اروپایي جامې یې نه اغوستې، هغوی یې د دارالامان پر سړک له تېرېدو منع کړل، ښځو ته یې امر وکړ چې لوڅ مخ راووځي، او د ښځو د تعدد پر مسئله یې لا ټینگار وکړ، و یې ویل چې د دولت د مامورینو له پاره دا کار د تعزیر موجب دی. دا یې د رسومو په برخه کې؟

هغـه همـداراز د دفـترداری پـر کلا برید وکړ. رشـوت یې - چې پـه دولت کې عام رواج و، سـوداګرو هـم منلـی و او پـه خپلـه بودجـه کـې یـې ورته پیسـې بېلولـې - بند کـړ. لـه وظیفې مخکـې او وروسـته، د دولت د مامورینو د شـتمنیو پـه اړه یې د تحقیق اعـلان وکړ.

ما ته یو چا وویل:

- د خـبرو پـر ځـای پـه کار وه چې یو څو کسـه یې بالفعـل نیـولي وای او ځای پر ځـای یـې ځوړنـد کړي وای. افغانان په دغسـې کارونو ښـه پوهـول کېدای شي.

یـو وار چـې یـې یو منظـم پارلمـان جوړ کـړ او د انګلسـتان پـه څېر یـې د کابینې مـشر وټاکـه، یوناڅاپـه یـې عسـکري خدمـت اعـلان کـړ چـې د مالیاتو پرمـټ- چې ډېـره برخـه یـې د دهقانانو د ځمکـې مالیات وو – تمویلېـده. (له ډېر وختـه باید پاچا د داسـې یـو ځواکمن پـوځ د جوړولو تابیـا نیولې وای چـې ورته وفـادار وي. دا هغه څه و چـې پـه حسـاس وخت کـې یې کمبود احسـاس شـو.)

خـو تـر ټولو سـتر مقاومـت د افراطي مسـلمانانو و. که څـه هم پاچا د اسـلام ټول ظاهـري شـعایر پـر ځای کول، خـو هغه پوهېـده چې یو شـمېر ملایان په خـاص ډول د پرمختـګ سره دښـمني لـري او پـه خـورا بـې احتیاطی یې هغـه ډېر خولـه‌ور بندیان کړل.

پـر دې بانـدې چـې هغه لګښـتونه هـم ور اضافه شي چـې د نوي ښـار پرجوړولو کېـدل، او ډېـرو تـه له حـده زیـات ښـکارېدل، د اعتراضونو یوه ښـکلې مجموعه ترې جوړېږي.

نارضایتـی پـه چوپتیـا کـې پراخېدې، کېـدای شي چې نـا څرګندو لاسـونو به هم ورسره مرسـته کولـه. پـه همدغو وختونـو کې و، چې دروغ یا ریښـتیا، د هندوسـتان پر پولـه د هغـه مرمـوز شـخصیت د حضور خـبر راغی چـې په ټولـو ختیځـو جنجالونو کـې، لکـه پېـری، راڅرګندېـږي: ډګـروال لارنس! وایي چې د شـا پـه نامه د یو سـاده عسـکر پـه جامـه کـې یـې ځان پـټ کـړی و. کـه ریښـتیا نـه وي... خـو بیا هـم هغه مهـال چـې امان‌اللـه او ملکـه د اروپا پر شپږمیاشـتینی پرتمینې دورې وتل، افغانسـتان ښـه ارام ښکارېده.

پاچـا لـه هغو گواښـونو چـې واک ته يې متوجـه وو، تـر دې حده بې خـبره و؟ يو خـبره چـې پـه دې وروسـتيو کـې څرگنده شـوې سـړي ته شـک پيـدا کـوي. کله چې اروپـا تـه تـه نـو لـه ځـان سره يې نـه يـوازې د ملکـې ثريـا گانې يـوړې - چـې دولس مليونـه ډالـره ارزول شـوې وې - بلکـې پينځه ويشـت مليونـه ډالره نغـدې د سرو زرو سـکې يـې هم ځان سره اخيسـتې وې. هغه دا شـييان بېرته له ځـان سره را نه وړل. ويل کېږي چـې گانـې يې د برليـن د يو بانک په سـيفونو کې خونـدي کړې او پيسـې يې د څـو اروپايـي بانکونـو تر مېنځه ووېشـلې. دا هم ويـل کېږي چې هغه لـوازم يې چې د سـفر پـر مهـال پېرلي وو، ټـول يې په پـور اخيسـتي وو او د راتلـو پر مهال يـې پورونه نـه وو ادا کـړي. اوس يې چې، تر فاجعې وروسـته، پر خپلو شـتمنيو شـل مليونه ډالره نـور هـم ور اضافه کـړي، د خپلې دورې د وخت پـوروړي د افغانسـتان حکومت ته را اسـتوي. خو خـبره لا دلته نه ده رسـېدلې.

يـو شـمېر هغـه سـړي چـې امان‌الله پـرې بـاور کـړی و، د هغه لـه غيابتـه يې گټه واخيسـته، پـرې يـې تورونـه ولگـول او خيانـت يـې ورسره وکـړ؟ دا هغه څـه دي چې ويـل کېږي. يـا دا چې د سـفر نشـې له ځـوان پاچا دا هېر کـړل چې ملت يـې پر کومه روحيـه و؟ ايـا پـر خپـل واک تېروتـی و او هڅه يـې کوله چې تـر پايه د خپل اسـتاد او مـوډل، مصطفـی کـمال پيښـې وکـړي؟ واقعيـت دا دی چـې لـه راتگ سره سـم يې د عامـه افکارو پـه ننگولو پيـل وکړ.

پـه پغـمان کې راغونډې شـوې لويـې جرگې ته يې خپله ښـځه په ښـکلو پاريسي جامـو کـې ښـکاره کـړه. د نـه منلو خـبره، د ملکې مخ لوڅ و او ښـکلې موسـکا يې پر شـونډو وه. همدومـره يې وويل:

- ملکه

او څـو ورځـې وروسـته يې په خپله، شـاوخوا شـل نجونـې د هند لـه لارې ترکيې ته واسـتولې چـې هلته د نرسـنگ او معلمۍ زده‌کـړې و کړي.

دا نـو تـر حـده تېره وه. غبرگ خبر، چـې د ملايانو يو طرفه تبصرو او شـايد، څوک څـه خـبر دي، ماهرانـه تبليغاتـو ، زهرجـن کړی و قبيلـه په قبيلـه خپور شـو. ناپېژندلو لاسـونو د ملکـې هغـه عکسـونه خپـرول چـې د ارت گرېـوان کميس يې اغوسـتی په

محفلونـو کې برخـه اخلي.

هر خوا همدا يو غږ اورېدل کېږي:

- زمـوږ نجونـې خرابـوي! د اروپايانـو عياشـۍ ورزده کـوي! خپلـه ښـځه يـې په څومـره بـې حيايۍ، بربنـډه، اروپايانو ته وښـودله! ملايان بنديانوي!زموږ پيسـې د دين سره پـر مخالفـو شـيطاني شـيانو - موټرو، الوتکـو - لگـوي! کافر دی!

او دغـه دی چـې د جهـاد غږ پورته شـو. پـه پټه ورسره هغـه لوړپـوړي مامورين او ان وزيـران هـم يـو ځـای شـول چـې خپلـې گټـې او د غـلا لارې چـارې يې پـه خطر کـې ليدې.

پـه داسـې حـال کې چې په جـلال اباد کـې - دا مه هېـروئ چې جلال ابـاد د هند پر پوله پروت دی - د ۱۹۲۸ د نوامبر د پينځلسـمې شـاوخوا شـينوارو پاڅون وکړ، يو بـل قـوم، چـې د شـاهي پـوځ او کابل تر منځـه واقـع و پر پايتخـت د بريد تابيـا نيوله. توطئه او خيانت، د ختيځ دوه سـتر ناسـورونه، سره لاس ورکوي، په ډول ډول دسيسـو کـې داسـې خلـک سره يوځـای کـوي چې له يو بـل کرکه لري. هـر يو بېل بېـل او ټول يـو ځـای، فقـط يوه خـبره کوي. پر ځـوان او سـخاوتمند پاچا چـې خپل هېـواد ته يې خپلواکـي راوړه، عزت يـې راوړ ، بريد کول.

غمجنه خو منطقي بې وفايي!

پـه دې شرايطـو کې وو چې د دسـمبر پر څوارلسـمه د تياتر د ننـدارې دا لوبغاړی. دا خوشـطبعه سپاهي، چـې نـه يـې زړه‌ورتيا کې کمی شـته او نه په شـکل او شـمايل کـې، د يـوې حيرانوونکـې ماجـرا پـه تـرڅ کـې اته مياشـتې د يو سـتر دولـت پر تخت کښېناسـت: بچـۀ سـقاو - د سـقاو زوی - د حبيب‌اللـه تـر نامـه لانـدې د افغانسـتان پاچا.



حبيب‌الله او ځوان ورور يې يو رسم ګذشت ته ځي



د حبيب‌الله عکس د خپلواکۍ په جشن کې اخيستل شوی



د یو سلطنت خاتمه

د حبیب‌الله او د هغه د وزیرانو عکس یو افغان د هغوی تر اعدام درې ورځې د مخه اخیستی

# دیارلسم فصل

## د سقاو د زوی حیرانوونکې ماجرا

یو افغان ټوپکوال چې غل شو – د تېښتې ډراماييي صحنه – امان‌الله سره خیانت وشو، کابل یې پرېښود، د غله پاچا خوشاله راتګ

حبیب‌الله ریښتیا هم د سقاو زوی و او که دا سقاو یې د مور دویم مېړه و؟ یا هم، لکه ځینې چې وایي، مشهور غله ایمان‌الدین، چې د لومړي حبیب‌الله په پاچاهۍ کې اعدام شو، زېږولی دی؟ د تاریخ دا ټکی په تیاره کې دی خو څه توپیر کوي؟ هغه څه چې په باور ویل کېدای شي دا دي چې دی سپاهي و.

دی د ممتازو عسکرو په هغه کنډک کې و چې ترکي افسرانو روزنه ورکوله او د امان‌الله نیت دا و چې دوی به د افغانستان د اردو کدرونه وي. ویل کېږي چې په ۱۹۲۴ کې یې د منګلو او ځدرانو د ځپلو په جګړه کې ونډه درلوده.

دی یو نخښه ویشتونکی و. په دې هېواد کې چې پاچاهي د ټوپک ده، دی د غورو غوره بلل کېده. له ګیوم تېل څخه به یې هم میدان ګټلی وای خو ده له منو سره سروکار نه درلود. جګړه، لاس اچول، رسوايي جوړول، کمین نیول یې ورځنۍ چاره وه. خوشطبعه سړی و، خندا او ګوزارونه یې دواړه خوښېدل، نه یې په ښه خوراک صرفه کوله او نه یې د خپل ګرزنده حرم پر ښکلو نجونو. یوه افغاني ټوپکواله بلا وه.

یوه شپه چې د خپل استوګنځي پرلور روان و، پر درې تنو غلو ورپېښ شو چې غوښتل یې ټوپک ترې واخلي. ویلو ته یې حاجت نه شته، درې واړه یې ووژل او

وسلې یې تړې یوړې. تر دې ځایه خو هېڅ خبره نه وه خو هغه خپلو مشرانو ته د ټوپکونو له سپارلو ډډه وکړه. شاید ډېر به په ناحقه هم نه و، خو زندان ته واچول شو. له زندانه وتښتېد او له ډېر قهره غرونو ته وخاته. د خپل گران کوهستان غرونو ته. شاید سیرانو او دارتانیانو به هم همداسې کړي وو.

خو ژوند کول هم په کار وو. پرته له ټوپکه یې بله وسیله نه پېژنده او له جگړې پرته یې بل څه نه وو زده نو د داړه‌مارو مشر شو. او دې مسلک ته په افغانستان کې ډېر په بده سترگه هم نه کتل کېږي. مشهور نادرشاه چې د پارس، بین‌النهرین او ډیلي فاتح و، هغه هم د داړه‌مار په توگه پیل کړی و.

په لږ وخت کې یې یو ډله برابره کړه، زړه‌ور او بې پروا ملگري یې پیدا کړل چې وروسته یې وزیران او د دولت اراکین شول. یو په کې هغه د انگلستان د سفارت پخوانی باغوان، پردل و چې مارشال شو او پای کې د کابل په بازار کې له پښو راځوړند شو. بل یې ملک معصوم و چې په روح او تن د خپل بادار خدمت کې و او دریم یې سید حسین و چې د جنگ وزیر یعنی صدراعظم شو. سید حسین وړوکی سړی نه و. د پیغمبر لمسی و چې د غچ اخیستلو له پاره داړه‌مار شوی و. هغه نجلۍ چې دده په نامه وه، پلار یې د کابل یو شتمن سوداگر ته ورواده کړه. دا د نه بخښلو نادوده وه، نو سید حسین ناوې، د هغې پلار او سوداگر درې‌واړه ووژل او بیا په غره کې د سقاو له زوی سره یوځای شو.

دې کسانو ښه په ایمانداری خپل کاروبار کاوه! خلک یې لوټول، کاروانونه یې لوټل، کورونه یې وهل او کله کله یې وژنې هم کولې. سپین سترگي یې تر دې حده ورسوله چې پر پغمان یې هم داړه وغورځوله او د دولت یو لوړپوړی کس یې وواژه. خو تر ټولو لویې کارنامې او د خوښې کار یې د دولت د خزانو او د مالیاتو لوټل وو.

د سقاو زوی ښه سخي هم و، په اسانه لاس ته ورغلې پیسې یې پر خوارانو په پراخ مټ ویشلې. کله به چې کوم لیرې پراته کلي ته راغی، نو دا به د مزو او چړچو موقع وه. او چې بېرته به تړې ته نو خپلو مېلمه پالو ته به یې غټ غټ سوغاتونه پرېښودل. ځکه خو یې په خپل ولایت کې نوم گټلی و. زړه‌ور داړه مار،

د افسانو عیار، وفادار ملګری، د خوارانو مدافع، د بې عدالتیو سموونکی. هر چا ورسره تر خپل وسه مرسته کوله او د پلټنو پر مهال یې پرې پرده اچوله. ځواک یې ورځ په ورځ ډېرېده او نوم یې ورځ په ورځ خپرېده. تر انقلاب څو میاشتې د مخه د سقاو زوی د کوهستان اتل ګڼل کېده.

په دې ضمن کې امان‌الله له زرو جنجالونه سره لاس او ګرېوان و، چې د ختیځ د قبایلو پاڅون یې یوه مهمه برخه وه. په دې وخت کې د سقاو له زوی سره دا فکر و چې تخت ونیسي، یا چا ورته دا لارښونه کړې وه؟ هغه څه چې تقریباً ثابت دي او په هر صورت منطقي هم دي، دا دي چې ځینو شخصیتونو او ګڼو ملایانو، چې له پاچا څخه خوابدي وو، د دارهمارو د مشر د ارادو ملاتړ کاوه. هغوی فکر کاوه چې «دا سړی ګنکی، یوه ښه وسیله ده، د ده په مرسته به موږ پر امان‌الله خپله خبره منو!»

د سقاو د زوی پر ضد عملیات یو له بل پسې ناکامېدل. که کله به یې کوم ملګری ونیول شو، په مرموز ډول به بېرته خوشې شو.

د دسمبر پر څوارلسم، په داسې حال کې چې حکومت هغه پاڅون وارخطا کړی و چې د کابل او شاهي اردو تر منځ پرتو سیمو کې پیل شوی و او کومکي ځواکونو ته په تمه و، د سقاو زوی او سید حسین د ښار دروازو ته راورسېدل. ورسره څو زره بې ډوله او بې نظمه غله هم وو چې چا سره ټوپکونه وو، چا سره نېزې وې، چا سره تبرونه وو، چا سره چړې وې. دوی جبه خانه ونیوله، او د پایتخت او شاوخوا کلیو په حاکمو سیمو کې یې دوه درې کلاوې هم ونیولې.

له څو ساعته ګډوډۍ وروسته مقاومت تنظیم شو. ښاریانو او سوداګرو ټوپکونه راواخیستل، شاهي ګارد له ارګ څخه راووت، هغه یو موټی عسکر چې جلال اباد ته نه وو تللي سره راټول شول، د ارګ توپونه و غرمبېدل او سخته، توده جګړه هر لور ته پیل شوه. دې جګړې څوورځې دوام وکړ. یرغل کمزوری شو. د دسمبر پر درویشتم د انګلستان سفارت چې د یاغیانو تر واک لاندې سیمه کې و ازاد شو، نور پرې هغه ګولۍ نه رالوېدلې چې مخامخ یوه لوړه یې په نخښه کوله خو شاهي توپونو ډېرې لنډې وېشتلې. له نېکه مرغه پرسونل ته ضرر نه و رسېدلی

حتی داړه مارو هم ورته څه نه وو ویلي، ان چې لارۍ، موټر، اسان او نور غنیمتونه یې هم، چې په مخ کې یې پراته وو، له ځان سره نه وو وړي.

دا خبره هم رېښتیا ده چې د سقاو زوی ټپې شوی و. د ۲۴ او ۲۵ دسمبر تر منځ شپه کې د هغه لښکرې، په هماغه چټکۍ چې راغلې وې، خپلو اصلي غرونه ته بېرته ولاړې.

یو فرانسوی، ښاغلی ریتر، چې د کرنې د ښوونځي استاد و او د فبروري په میاشت له افغان پلازمېنې بېرته راګرزېدلی و د صحنې عیني شاهد و په خورا جالب ډول کیسه کوي:

«په دې څو ورځو کې ټول اقتصادي، اداري ژوند داسې و لکه ځوړند چې وي. سوداګرو په بیړه خپل دوکانونه خوندي ځای ته چلولي وو او دولتي مامورینو اداري تړلې وې، وسلې یې راخیستې وې. دا هم یو حقیقت دی چې په دوی کې هېڅ یو د تاوده جنګ میدان ته ولاړ نه شو، هر چا به د ښار په کوڅو کې، وسله په لاس، د کارتوسو ګردنۍ پر غاړه، چکر واهه او ځان به یې ښوده. طبعاً رسمي اعلامیې هم خپرېدلې چې ډېره خوشبیني یې ښرګندوله. دا اعلامیې به له الوتکو پر ښار شیندل کېدلې خو چا پرې چندان باور نه کاوه. خلکو غوره ګڼله چې د غونډیو سره ته د جګړې د تماشې له پاره وخېژي. کله کله به په هغو ګولیو هم لګېدل چې د دوی له پاره نه وې. خو هغه څه چې په رسمي اعلامیو کې نه ویل کېدل هغه دا وو چې په لومړیو ورځو کې نیول شوي بندیان اکثره ووژل شول او سرونه یې په پینځه روپۍ (تقریباً شل فرانکه) له عسکرو اخیستل کېدل. جسدونه به په کوڅو کې غورځول کېدل چې سپیو به پرې مزې کولې او له سرونو به څلي جوړېدل. لا داسې هم لیدل شوي چې ځینې شپې به موټرسایکلو د سرپرېکړو مړو جسدونه له پښو کشول. زه دلته هغه څه نه وایم چې په خپله مې لیدلي ځکه چې هر څه مې په خپل نه دي کنټرول کړي.»

رېښتیا هم، هماغسې چې په مسکو او تاشکند کې ویل کېدل، د افغانستان کورنۍ جګړه د سات تېرۍ ځای نه و.

بیا هم، شاوخوا پینځلس ورځې سا اخیستل کېده. یوه لویه برلین-ویکر الوتکه

لـه هنـده راغلـه، د کابل پـه هوايي ډګر کې کښېناسـته، د انګلسـتان د سـفارت مېرمنې يـې، چـې لا وېـره يې نـه وه ختمه، پورتـه کړلې. اروپايانـو، چې له مدني نـړۍ سره يې تمـاس بېخـي قطع شـوی و، د دې الوتکې داسـې هر کلـی وکړ لکه د نوح په کېښـتۍ کـې د کوتـرې. نـورې الوتکې هـم راغلـې. کارونـه ورو ورو، په خورا احتيـاط، له سره پيل شـول، دفترونه، دوکانونه، ښـوونځي بېرته پرانسـتل شول.

خـو پـه دې جريـان کـې خبر راغـی چـې د سـقاو زوی، د پايتخـت شـمال ته، د جبـل الـسراج کلا نيولـې ده، هلتـه يې پرېمانه وسـلې او مهـمات مونـدلي دي، پلويان يـې لـه هـرې خـوا راځـي لـه لښـکرو سره يـې يوځـای کېـږي. پـه دربـار کـې، چې د توطئـو او دروغجنـو خبرونـو محراق دی، انديښـنې پسـې زياتېږي. له داړه مـار سره به مذاکـره ممکنـه نـه وی؟ ويـل کېږي چـې امان‌اللـه ورته د کوهسـتان کمپ تـه، د کابل والي وراسـتولی و چـې پوخـلا يـې کـړي، ورسره يـې د پيسـو ژمنـه کـړې وه. والي لا خپلـې خـبرې پوره نه وې خلاصـې کړې چې د سـقاو زوی تليفون پورته کـړ، ارګ يې وغوښـت او پـه ارګ کـې يـې په خپلـه امان‌اللـه وغوښـت. ور ته يـې وويل:

- زه والي يم. د سقاو زوی مې نيولی، څه ورسره وکړو؟

له مقابل لوري د خوشالۍ يو ناره واورېدل شوه او بيا غږ راغی:

- و يې وژنئ او مړی يې کابل ته راوړئ.

د سقاو زوی ورته په ځواب کې وويل:

- سـخت وارخطـا يـې! زه غـواړم چـې په خپلـه در تـه، شـخصاً، ژونـدی ژاړنده، خپـل خـبر دروړم. ډېـر ژر بـه لـه خيـره سره ګورو.

نـور د داړه مـارو مـشر نـه و. دا سـړی اوس د پوځ د مـشرۍ مقام ته رسـېدلی و. د پـوځ مـشر، د ګونـد مشر، مذهبـي مشر. لښـکرې يې درلـودې، وسـلې او مهمات يې درلـودل. پـر دې سربېـره يـې يو اخلاقي پرسـتيژ هـم درلود چـې ورځ پـه ورځ زياتېده. اسـتازي يـې هـره خـوا تلـل او هر ځـای يې ويـل چـې د سـقاو زوی د قـرآن د دفاع په خاطـر لـه امان‌اللـه سره پـه جنـګ دی ځکه چـې امان‌اللـه قرآن تـه کم کتـلي، درناوی يـې ورتـه نه دی کـړی. د قبايلو په نظر، چـې د خاصو منافعو په خدمـت کې خوله‌ورو

ملایانو په شـور راوسـتي وو، د سـقاو زوی یو مجاهد و او د اسـلام پر اتل بدل شـوی و.

پاچـا بیـا د خپلـو اطرافیانـو لـه خـوا، له هـر لوري، لـه خیانتونـو سره مـخ و، چې باغـي تـه یـې ټـول خبرونـه رسـول او حتـی دا یـې هـم ورتـه ویل چـې کـوم وخت به کابـل تـه د راننوتلـو لـه پاره مناسـب وي. د یـوې شـړېدلې اردو پاتې شـونو، چې تنخا سـمه نه وررسـېده، کافي خواړه یې نه درلودل، بې دسـپلیني او لټي په کې خپره شـوې وه، پـه مشـکله د هغـه ملا ورتړلای شـوه.

د جنـوري پـر دیارلسـمه، د شپې، د واورې لـه توپانـه پـه اسـتفاده، د سـقاو زوی او لښـکر یـې کابـل تـه راننوتـل. د شـمال خـوا تـه دفاعـي کلا او کمـپ یـې ونیـول او پرتـه لـه کـوم مقاومتـه یـې هغـه کلي اشـغال کـړل چـې اوسـېدونکو یې ورته د اسـلام د سـاتونکو په سـترګه کتل. سـهار د انګلسـتان د سـفارت تر دروازو راورسـېدل. دلتـه یوه شـدیده جګړه ونښـته چې څلېرویشـت سـاعته یـې دوام وکړ. امان‌اللـه هغـه مهـال پـوه شـو چـې کیسـه ورانـه ده. د خپلـو اطرافیانـو، کورنۍ او دربارىانـو یـې ومنـل. هغوی ورتـه له یوې میاشـتې راهیسـې همدا مشـوره ورکوله. هغـه غلطـي یـې وکـړه چې وروسـته پـرې ټولـو ملامتـاوه. لـه کابلـه ووت او خپل ورور عنایـت اللـه یـې د ځایناسـتي پـه توګـه پرېښـود. د جنـوري پـر څوارلسـمه ، پـه یـو خـر او سـاړه سـهار کـې، لـه دوه درې ملګـرو سره پـه موټـر کـې، چـې پـه خپلـه یـې شـټرنګ تـه ناسـت و، د کندهـار پـر لـور روان شـو. د لارې لـه خطرونو سره سره، چـې لـه غلـو ډکـه وه او هـر یـو کولای شـول چـې سر یې راوړي او ښـه انعـام تـر لاسـه کـړي، روغ رمټ کندهـار ته ورسـېد. هلته یـې ورته مـور، مېرمن او ماشـومان پـه تمـه وو. مخکې له دې چـې بېخـي ولاړ شي، درې میاشـتې یې هلته په اندېښـنو کـې تېـرې کړې.

پـه کابـل کـې د عنایـت اللـه رول یـو څـه مرمـوز غونـدې و. ورور یې پـه متې له کابلـه وتلـی و چـې ده د دربـار لړ و ډېر خاین لوړ شـخصیتونه او ملایـان خپل حضور تـه ومنـل. د سـقاو زوی دا خـبره دومـره تکـرار کـړې وه چې یـوازې د اسـلام د دفاع په خاطـر یـې وسـله پورتـه کـړې، چـې د امان‌اللـه لـه تلـو سره، بې خـبرو خلکو داسـې

وانګېرلــه چــې ګواکــې جهاد ختم شــو.

د جنـګ فاتـح تـه پـه يـو موټر کـې چې سـپين بيرغ پـرې لـک شـوی و، دوه درې تنـه ملايـان واسـتول شـول چې د هـزاره ګانو لـوی مـلا - چـې د «کفري عقايـدو» پر ورانـدې يـې دومـره مقاومت کـړی و چې څـو واره زنـدان ته اچول شـوی و لـه زندانه را و ايسـتل شـو او پـه سـفير بدل شـو – هـم په کـې و.. په لار کـې موټـر د امان‌الله له لښـکرو سره مـخ شـو. ريښـتيني وو او کـه د ياغيانو سره ملـه وو، خو ملايانـو پوځيانو تـه وويـل چـې جنګ ختـم شـوی دی او هغوی دې کابـل ته ولاړ شي. عسـکر هم بل وار سـت تـه منتظر نه شـول.

د ملايانـو سـفيرانو او هوښـيار داړه مار تـر منځه څه وويل شـول، هېڅوک به ترې هېڅکلـه خـبر نـه شي. نتيجـه يې يـوه غټه لوبه شـو. ګـرد وهلی، رتـاړې پر غـاړه خو بادسـپلينه لښـکر ناڅاپـه بې وسـلې شـوي، ګونګ کابـل ته راننـه واته. د بريـا چغو او هوايـي ډزو بدرګـه کاوه. د دې لښـکر پـه سر کـې پـر يو قوي اس سـپور، يـو وړوکی، تنـهور سـړی چـې پـه غوښـو پـټ و، غـټ د مغولو په شـان مـخ يـې درلـود، چلبازې سـترګې يـې تنګـې تنګـې وې، روان و. دا د سـقاو زوی و چـې د هغه څـه له کبله چې کـړي يـې وو، تر خوشـاله هم خوشـاله و.

هماغـو ملايانـو چـې تېـره ورځ يـې عنايـت اللـه پـر تخـت کښـېنولی و، پـه عام محـضر کـې ګټونکـي تـه وويل:

- د کافر دا ورور، چې د الله هم نه دی خوښ، وشړه او په خپله پاچا شه.

هغـوی نيـت درلـود چـې د دغـه وحشي په نامـه به پـه خپلـه پاچاهي چلـوي، او خـدای تـه يـې شـکرونه ايسـتل. انډيوال هـم، په خنـدا سـترګک وواهه:

- واچوئ، پنجه!

الله ته يې سجده وکړه. په دې ډول يې د مذهبي مشرانو بيعت تر لاسه کړ.

بـې عسـکرو، بې وسـلې او پرتـه له ملايانـو، عنايت الله څـه کولای شـول؟ د اوه لسـم پر سـهار تسـليم شـو او يوې انګرېزي الوتکې، دی او کورنۍ يې هندوسـتان کې کښېنولو ايستل.

پـر سـبا يـې، نېکمرغه غل، شـاهي مانۍ تـه ننـوت او د حبيب‌الله تـر نامه لاندې د اميرانـو پر تاريخي تخت کښېناسـت.

ځـو ورځـې د مخـه يـې، د دې لـه پـاره چـې انديښـنه يـې ورکـه شي او لـه خپلې مـاضي څخـه راووځـي، خپلـې ښـځې او بچـي يـې وژلي وو. دا هغه داسـتان و چې هغـه وخـت پـر خولو ګرزېـده. نور بيـا وايي چـې دا کار د هغه ملګري، سـيد حسـين کړی و.

# څوارلسم فصل

## د حبیب‌الله پاچاهي څه وه؟

د خیله¬خندني تاجدار سات تېرې - امان‌الله افغانستان پرېږدي، نادرخان صحنې ته راځي - د خپلواکۍ جشنونه، د تراژیدي-کمیدي ماجرا اوج

---

ښه نو دغه دی د سقاو زوی، تاج یې پر سر، د پاچاهۍ سور شال یې پر اوږه، ځي راځي، خپل وزیران ټپل وهي، په دوارو لاسو د پیسو صندوقونه تشوي، خپلو پخوانیو ملګرو باندې منصبونه، ماڼۍ، د روپیو کڅوړې، مقامونه او وظیفې وېشي.

باید اعتراف وشي چې د خپلې پاچاهۍ په پیل کې یې خپل قدرت بې افراطه تعمیلاوه، لښکر یې، لکه یوه منظمه مدني اردو، په دسپلین برابر و. په کابل کې چور او تالان منع شوي وو او که چا به چور کاوه سزا یې اعدام وه، دوکاندارانو ته ډاډ ورکړ شو چې هېڅ ګواښ ورته متوجه نه دی او د دوکانونو پرانیستلو ته راوبلل شول. غل پاچا، د امان‌الله د کورنۍ له ځینو غړو سره چې په پایتخت کې پاتې شوي وو دومره عیارانه برخورد وکړ چې د ختیځ پاچایان، هغه هم چې له شاهي نسله وو، ورسره عادي نه وو.

وروسته، کله یې چې تخت و لړزېده، دخپلې پاچاهۍ د ټینګولو له پاره یې علني اعدامونو او ښځو وژنو ته مخه کړه. په ارګ کې موندل شوي هغه مړي چې وپېژندل شول او د بدن هغه ټوټې چې بې نومه پاتې شوې، د هغه پر ضد هغه درانه شهادتونه وو چې د ده بده خاتمه یې توجیه کوله.

خو د خپل عزت په دې لومړيو ورځو کې د سخاوت خوښيو کې ډوب و. خوش‌طبعي يې درلوده. هغه مهال به يې ډېر خندلي وي چې د امان‌الله وزيرانو، درباريانو، خپلوانو او حتی يوه ورور ورته يوه اعلاميه راوړه چې په کې يې خپل پخوانی بادار عزل کړی و او په ډېره خوشالۍ يې غازي حبيب‌الله ته هرکلی وايه.

خو هغه په دې خوشامندو نه غولېده. لومړی کار يې چې وکړ له کوهدامن او کوهستان څخه يې يو لس زره کسيزه پوځ استخدام کړ. په جلال اباد کې د امان‌الله يو اخښی و، شاغاسي - يانې د کورنيو چارو وزير – علي‌احمد جان چې د شاهي پوځ يوه برخه ورسره وه، غلط فکر ورته پيدا شو او ځان يې پاچا اعلان کړ. د سيمې قبايلو، شينوارو، چې امان‌الله او د هغه کورنۍ يې نه خوښېدله، ورته ژر ثابته کړه چې دې ټوکې يې خوند نه و ورکړی. له ټاکل کېدو سره سم راوپرځول شو. علي‌احمدجان لومړی پېښور ته وتښتېد او له هغه ځايه کندهار ته، خپل اخښي ته ورغی.

***

د مارچ په مياشت کې حبيب‌الله ځينې قبيلې ماتې کړې وې، لکه تګاويان، نورې يې رضا کړې وې خو بيا هم له دريو سترو دښمنو ځواکونو سره مخ و: هزاره ګان، چې د هېواد ټوله هغه برخه يې تر پوښښ لاندې وه چې له هرات څخه تر کندهاره پرته ده او د جولای تر مياشتې پورې امان‌الله ته وفادار پاتې شو. بل نادرخان و چې، لکه مخکې مو چې وليدل، له خپلو دوو ورونو سره يې په جنوبي کې عمليات کول او بالاخره امان‌الله په کندهار کې.

امان‌الله، چې د واورو فصل يې مخه ډب کړې وه، له فرصته استفاده وکړه د پسرلي جګړې ته يې تياري ونيوله. پر ځان يې د خلکو راټولولو له پاره له يو چل څخه هم کار واخيست، ژمنه يې ورسره وکړه چې خرقه شريفه به، چې افغانان يې سخت درناوی کوي، ورته ښکاره کړي. د پيغمبر خرقه، په دوه سوو کالو کې ايله دوه يا درې واره خلکو ته ښکاره شوې. باور دا دی چې يوازې يو متقي سړی کولای شي چې هغه صندوق پرانيزي چې خرقه په کې خوندي ده.

تر شپېتو زرو زيات خلک د کندهار دروازو ته راغلي وو چې دا معجزه ووينې.

امان‌الله تر دوه ساعته خواریو وروسته وکړای شول چې صندوق پرانیزي او خرقه هیجاني شوي مخلوق ته ښکاره کړي. معجزې د یو وخت له پاره خپل اثر وښانده.

د می تر میاشتې، هغه بریالی شو چې کافي ځواکونه راټول کړي، حرکت یې وکړ، غزنی یې اشغال کړ او د غزني او کابل تر منځ ځینې ستراتیژیک مواضع یې هم ونیول.

خو د غاصب له خوا په ډکو لپو وېشل شوو پیسو او د ملایانو تبلیغاتو خپل کار وکړ. مور مخکې ورته اشاره وکړه چې ځنګه د سلېمان خېلو قوم د پاچا د لښکرو تر شا بغاوت وکړ او هغه یې اړ کړ چې بېرته کندهار ته ستون شي. هلته یو څه موده پاتې شو. خو ګواښ هره خوا و، د بزدلۍ او خیانت فضا، چې د ماتو شوو پاچاهانو شاوخوا جوړېږي، زړه ماتی کړ، د می په میاشت کې یې خپل بې وفا هېواد پرېښود او هند ته یې پناه یوړه.

څه موده وروسته له هغه ځایه په مات زړه اروپا ته ولاړ. ملکه ثریا، چې د تراژیدۍ په اوج کې یې ماشوم وزېږاوه، په تسکره کې تر کېښتۍ پورې یوړل شوه. هغې کوچنۍ ډلې، چې د زحمتونو تر پایه ورسره مله وه، ولیدل چې ځنګه د هغه بې حرکته سیوری ورو ورو له نظره پناکېده.

په همدې جریان کې، غلام نبي، په مسکو کې د افغانستان مخکینی سفیر، مزار شریف ته، چې په افغاني ترکستان کې پروت د سنیانو یو سپېڅلی ښار دی، راورسېد: ښار یې و نیو او یو تهاجم یې پیل کړ. په کابل کې خپرېدونکې اخبار، حبیب الاسلام د دې تهاجم خبر خپور کړ او ادعا یې وکړه چې ناپېژندل شوو الوتکو پر ځینو کلیو، چې نومونه یې اخیستل شوي وو، بمباري کړې ده. په سبا یې همدغه اخبار دا خبرونه رد کړل. غلام نبي بریالی روان و خو چې د خپل مشر له تلو خبر شو، ځای یې پرېښود او د شوروي اتحاد له لارې اروپا ته ولاړ.

مقاومت ډېر ناوخته راورسېد او نور هغه وخت تېر و چې امان‌الله دې د افغانانو پر عامه افکارو ومنل شي. په شوروي اتحاد کې یوه افسانه په خپرېدو وه: نوی پاچا د ولس له متنه راپاڅېدلی او پر خپل دغه اصل ویاړي، له خلکو څخه ملاتړ کوي. نه تعلیم لري او نه تجربه، نو ممکنه وه چې په اسانه تر نفوذ لاندې راشي. استازي او پلویان یې په دوامداره توګه د ترکمنستان له پولې اووښتل، را

اووښتل. لـه بـل لوري، د يـو نامـنلي پاچا پـه موجوديت کې، په داسې يو هېـواد کې چې سره وېشـل شـوی، په ګـډوډۍ کې ښـکېل دی، پروپاګنده او کـه د انقلاب نظريه نـه وي، کـم له کمـه د خودمختـارۍ فکرونـه ګونډې په اسـانه نـه خپرېږي؟

کله چې د اروپايي هېوادونو استازي او دلته مېشت وګړي په شاوخوا دولسو برتانوي الوتکو کې له افغانستانه و ايستل شول نو يوازې د دېرشو تنو په حدودو کې بهرنيان پاتې شول: د ترکيې وزير مختار او درې څلور مامورين يې، د فارس شارژدافېر ښاغلی حاجب او پرسونل يې، اوه تنه المانيان، درې فرانسويان ( ښاغلی ژيرار، مېرمن او زوی يې). خو د روسيې سفارت څوارلس غړي ساتلي وو چې يو په کې يو تجربه کار شارژدافېر و چې پرته له دې چې د چا توجه جلب کړې، شيان او خلک يې څارل.

برعکـس، هېـڅ کـوم ايټالـوی او هېـڅ کـوم برتانوی نـه وو پاتـې. د هند تـر پولې وراخـوا، برتانويانـو ظاهـراً ځان بې طرفه ښـوده خو هـر څه يې تر نظر لانـدې وو. پرته له شـکه، د امان‌الله سـقوط هغه څه نـه وو چې دوی پرې ناخـوښ وي، خو ورسره يې ضديـت هـم نه درلود. په انګرېـزي مطبوعاتو کـې د امان‌الله په اړه يـو ډول خواخوږي هـم ليـدل کېده. هغوی نه شـوای کولای چې د سـقاو لـه زوی سره ځـان بدنامه کړي. آيـا لازمـه ده چـې دا هـم اضافـه کړو چـې د فاريـن آفېس له رسـمي پاليسـۍ سره سره چـې يـو ارام افغانسـتان يـې غوښـته، برتانـوي امپراتـورۍ له هغو شـخړو تشـويش نه درلـود چـې ډېر ځلـه يې د هغـې نفوذ تاميـن کړی و.

***

پـه زور، پـه چـل، د ځينـو پـه بزدلـۍ، د نـورو پـه سياسي محاسبو، حبيب‌الله د افغانسـتان واکمن و.

لنـډ مهالـی واکمن، ځکـه چې دا هېـواد چې د اشرافيـت اوږد تاريخ لـري، دې ته حـاضر نـه و چـې د يو نوم ورکي عسـکر مـشري ومني ، چې نه يې نسـب درلـود او نه يـې روابـط،. افغـان مشران، چـې د اشرافيت نماينده ګـي يې کوله ورو ورو ښـورېدل. قبيلـوي روحيـه هـم فعالـه وه. اپريـدي، منګل، وزيـر او پـه خـاص ډول دراني، چې د افغانسـتان د سپېڅلې وينـې نماينده ګـي يې کوله، د يـو تاجيک په اطاعـت، چې قوم يـې هېڅکلـه هېواد تـه کوم پاچـا نه و ورکـړی، شرمېدل.

لـه بـل لـوري د هند مسـلمان مذهبي مـشران د افغانسـتان لـه چلبـازو او بې فکره ملايانـو خپـه وو. يـو غل او يـو قاتل چې ځان ته د اسـلام اتل وايي؟ دا نـو د شرم خبره ده! هغـوی ډېـر ژر لـه نادرخان څخه ملاتـړ اعلان کړ.

پـه دې ضمـن کـې حبيب‌اللـه لگيـا و د پېغمـبر پـه نامه يې خـبرې کولـې، د هغه جامـه يـې اغوسـته. د پاچاهۍ لومـړۍ اعلاميه يـې، د امان‌اللـه د لامذهبۍ تـر يادولو وروسـته، پـه دې ټکو ختمه شـوې وه:

«لـوی متعـال ذات دوو تنـو زړه‌ورو ځوانانـو تـه خپلـه مرسـته ورپه برخـه کړه. يو حبيب‌اللـه، د رسـول اللـه د ديـن خـادم او بـل حسـين خان چـې اوس د بهرنيـو چارو وزيـر دی. دوی د ايـمان پـه زور وکـړای شـول امان‌اللـه مـات کـړي. لومـړي تـه پـه مکافـات کـې د خپلـواک افغانسـتان تخت ورسـېد، موږ د هغه د سـلطنت د سـوکالۍ دعا کـوو.»

هـلهور، بـبره ږيـره، هم يـې اروا تـوره او هم يې څېـره، «زړه‌ور او پرهېـزگاره زلمی» لومـړی د هېـواد پر چارو داسـې راخوشـې شـو لکه پيل چـې د چيني لوښـو دوکان ته ننوځـي. ښـوونځي يـې وتـړل، ټول هغـه کارونه چـې امان‌الله پيـل کـړي وو، هغه يې ودرول، د ځينـو واټونـو پـر غاړه يې څو سـوه کلنې ونې چپه کـړې، د خلکو گلاب يې لـه بېخـه راوايسـتل او څرنگه چې پوهېـده چې ماجرا يـې کېدای شي ډېره لنـډه وي، د دولـت لـه خزانـې يې په لپو لپو پيسـې ايسـتلې، موزيـم ، ماڼۍ او هغه آبـدات چې څه ارزښـت يـې درلـوده، لوټ کـړل او په پټو لارو يې وايسـتل.

بيـا يـې يـوه غټـه اشتباه وکـړه. د مـی په مياشـت کـې، کلـه چـې امان‌اللـه ولاړ، اخښـي يـې، علي‌احمـد جـان، بيـا خپلـه کړنـه تکـرار کـړه، بيـا يـې ځـان پاچا کـړ او بريايـې هـم د تېـر ځل په څېـر وه. د غلجيو له خوا مات شـو، ولوټل شـو او حبيب‌الله تـه راوسـتل شـو. هغـه تـرې وغوښـتل چـې بيعـت ورته وکـړي. په غـرور يـې ځواب ورکړ:

هېڅکله به دې د خپل پاچا په حيث و نه منم. و مې وژنه!

د ښـار د يـوې کلا څنگ تـه توپ پـورې وتړل شـو، په تـوپ والوزول شـو. د دې خـبرې کولـو تـه حاجـت هم نه شـته چې پـه مېړانه مړ شـو.

هغه ډېر دوستان درلودل. د هغه اعدام، او ورپسې د ګڼو نورو مخورو او معتبرو کسانو په توپ الوزولو، ټوټې ټوټې کولو او پر موږيو کښېنولو د خلکو کرکه راوپاروله.

حبيب‌الله ورته متوجه شو. که څه هم بې سواده و، خو ناپوهه نه و. يو ډول سياسي فکر يې هم درلود چې که خدای غوښتي وای پخپله شو. فکر يې وکړ او د مېتود د بدلولو پرېکړه يې وکړه. ډېر ژر يې يو منظم حکومت جوړ کړ او د امان‌الله په نېږدې کسانو او حتی کورنۍ کې يې ځان ته مشاورين پيدا کړل. بيا يې هڅه وکړه چې بهرنيو قدرتونو سره اړيکې ټينګې کړي. د خپلواکۍ جشن چې د ۱۹۲۹ د اګست په پای کې تجليل شو دا فرصت برابر کړ.

ډېر ښکلي، خوندور مراسم وو. د افغانستان د دولت د لوړو مقاماتو او د ولاياتو د واليانو په حضور کې اجرا شول. د دارالامان د سړک شاوخوا چمنونو کې خېمې درول شوې وې. د کورديپلوماتيک څو تنه غړي، او کابل مېشتي اروپايان هم ورته رابلل شوي وو.

پاچا، چې سينه يې د مراسمو په يوه ښکلي واسکټ کې چې سپين ګرېوان يې درلود، خو نکټايي ورسره نه وه، نغښتې وه. يوه بيانيه يې ورکړه چې نه يې په مهارت کې کمی و او نه په شوکت کې. و يې ويل چې د افغانستان خپلواکي به، په هره بيه چې وي، ساتي خو له نورو قدرتونو سره ډېر وښو اړيکو پاللو ته چمتو دی. د خپل حکومت پر پروژو يې خبرې وکړې. و يې ويل چې ډېر ژر به ښوونځي پرانيزي او د شوو او راتلونکو اصلاحاتو مخه به و نه نيسي خو په دې شرط چې دا اصلاحات د اسلام اساساتو ته، چې د ده د عمل يوازينی لارښود و، زيان و نه رسوي.

کله يې چې خپل د پاچا وظايف ترسره کړل، په ډېره ساده ګۍ او ښه زړه يې په خوشاليو کې ونډه واخيسته. ورور يې، حميدالله، له خپل لوري تر يوې خيمې لاندې مېلمانه پالل. حميدالله يو ښکلی هلک و، لږ ښځونک غوندې، کره وره يې منظم و، وېښته يې غوړ کړي وو. هغه مخکې له دې چې مارشال او د پاچا مرستيال شي، د موټر کلينر او ګډېدونکی (رقاص) و. هغه د دې وروستۍ وظيفې له پاره يو

څه طبیعي ورتیا هم درلوده، دریشي ورسره ښه ښکارېده او د احترام وړاندې کول یې ښه زده وو. په اخر کې یې ځان یو څه خوشې کړ، د کورنیو چارو وزیر ته، چې خوله یې په چاپلوسۍ وازه نیولې وه، د کېک ټوټې وراچولې او اخر یې مجبور کړ چې په خاپوړو وګرزي. د پاچا پلار، یو ساده غونډې سپین ږیری، ډېر مینه ناک، چې د کوهستان د بزګرانو جامې یې په تن وې، پلتۍ وهلې وې، لاسونه یې یو پر بل ایښي وو او د خپل زوی ذات نخرو ته یې په فیلسوفانه انداز کتل.

مېلمنو په دوه برخو کې یو تاریخي ننداره هم و کتله: څنګه اسلام اسپانیه و نیوله او څنګه یې له لاسه ورکړه. ننداره په زړه پورې وه. د لوبولو طرز یې تر ډېره غیر مترقبه و. هغو لوبغاړو چې اسپانویان یې تمثیلول، د شاهي سازیانو سرې کورتۍ اغوستې وې او زړې انګرېزي نظامي خولۍ یې په سر کړې وې. د جګړې په جریان کې د پیغمبر خدمتګارانو په خپلو اوسپنیزو تورو، کونکیستادوران (اسپانوی عسکر) داسې د زړه له اخلاصه ووهل چې ډېر یې هملته ولوېدل. پاچا په لومړي کتار کې ناست و، خندل یې، لاسونه یې پړکول او کله کله به د یوې تبصرې له پاره ودرېد.کله یې چې بوعبدل ولید چې په خپله له ښځو سره بوخت و او وزیرانو یې جېبونه ډکول، پاچا وویل:

- دا پاچا ګورئ؟ یو پاچا همداسې د خپل مملکت چارې سمبالوي؟ هغه باید خپل وزیران او خپلې ښځې په دار ځړولي وای.

یو ځوان هلک د پردې تر پورته کېدو د مخه د صحنې کیسه بیانوله. حبیب‌الله له چکچکو سره وویل:

- آفرین! افرین! اورئ؟ دا ځوان تعلیم لري کنه. تعلیم ډېر ښه شی دی، ضرور دی. له همدې خاطره غواړم چې ښوونځي بېرته پرانیزم.

بیا د خپل رضایت د اپلتو په لړ کې د اروپایي مېلمنو لاس ونیو، اوښکې یې په سترګو کې رغړېدې:

- تاسې مې د سترګو تور یاست.

بېچاره حبیب‌الله. همدا جشن یې د قدرت د اوج ورځې وې. تقدیر له نادرخان

سره پـر لاره و. هغـه د خپـل قـوم پـه بـې خیاله تسـلیم پذیرۍ ورته سـترګې پـه لاره و. قماریـې وهلـی و، بایللـی یـې و. اوس یـې وخـت و چې تـاوان ورکړي. په وروسـتیو وختونوکـې به یـې ویل:

- زه غل وم، پاچا شوم. اوس که مړ شم پروا نه کوي.

خـو ویـل کېـږي چـې لـه ارګ څخـه د وتلو پر مهـال یې پـه خپل لاس خپـل بوډا پـلار وواژه چـې د دښـمن لاس تـه ور نه شي.

هغـه د کورنۍ په ارزښـت پوهېده. د دښـمن ښـځې او ماشـومان یې و نـه وژل. په کار وو چې د دې نارینتوب حسـاب ورسره شـوی وای.



له کيڼې خوا ښۍ خوا ته فيض محمد خان د بهرنيو چارو وزير، اندرې ويوليس،
جلالتماب شاه‌ولي‌خان د نادر پاچا ورور



نادرخان پاچا، ورور یې او مېرمن ویولیس (عکس کارل)

# پینځلسم فصل

## د افغانستان له پاچا نادرخان سره مرکه

د افغاني روح او رواج او د فرانسوي تعلیم او فرهنگ درلودونکی پاچا – د رسوم د درناوي او د پرمختگ د فکر تر منځه – د خلافت موضوع

---

په دې جنگ ځپلي هېواد کې، په دې گډوډ شوي ښار کې چې د مواصلاتو امکانات یې نه درلودل، چې تېلېگراف په کې ایله فعال شوی و، چې تجارت په کې په ټپه ولاړ و، چې خواړه په کې نه وو، زړغمونه د پاچا پر زړه پراته وو.

سره له دې هم، د اکتوبر پر اتلسمه، تر پاچا کېدو دوه ورځې وروسته یې و منل چې د «کوچنې پاریسي» له استازې سره، چې په کابل کې د نړۍ د مطبوعاتو یوازینی استازی وه، مرکه وکړي.

مرکه په یوه شاهي ماڼۍ، دلکشا، کې وه چې تکه سپینه، د لوړو ستنو له برنډې سره، د ښکلو چمنونو په یو پارک کې چې لارې یې د ونو د ښاخونو پرله نغښتو څېرو پوښلې وې، ولاړه وه. په دروازه کې د عادي وحشي بیروبار پر ځای، په یونفورم کې محافظین، چې د منگلو اوسپنیزه څېره یې درلوده، په منظم کتار کې، وسله پر پښو ولاړ وو. په چمن کې یوه ډله نور عسکر د پښو پر سر ناست وو، سندرې یې ویلې، سپینو د زر گلي د گلانو زومبکونه یې پر غوږو راځړولي وو او سینې یې داسې ښورولې لکه نشه چې وي.

هغه لوی سالون چې د بهرنیو چارو مهربانه وزیر، فیض محمد، زموږ هر کلی

وکړ، د انګرېزي، بې خونده سټايل په مېزونو او څوکيو، چې په بيړه راوړل شوي وو، سمبال و. دېوالونه خيرن وو، ښيښې ماتې وې او دروازې په سپين لرګي ترميم شوې وې.

فيض محمد خان، په يو څه ناخوښۍ، وويل:

- د سقاو د زوی سپاهيان چې ارګ ته راننوتل دا ماڼۍ يې لوټ کړه، اوس چې قبايل راغلل او دا نامناسبه حالت يې وليد، په غوسه شول او په خپله يې هم هر څه مات کړل. زه د همدردۍ په ښودلو دغه د خجالت سره مله توضيح منم.

وزير لاسونه اسمان ته پورته کړل، را ته يې وويل:

- آه، تاسې د توپان په منځ کې راغلئ.

يوازې څوشېبې وروسته بهر د موټر غږ شو، په لنډو ټکو کې نظامي قوماندې ورکړل شوې، د بوټانو او د ټوپک د قونداغونو ټکا شوه. نادرخان راغی. پر وخت راتګ د شاهانو ادب دی.

ورور يې، شاولي‌خان، تر شا روان و. نادرخان د سالون له بل سره په ورو قدمونو راننوت. زه کافي وخت لرم چې لوړ قد، مناسب خو نازک اندام او د ګرزېدو شان يې په دقت سره تر نظر وباسم.

يوه خره، لږه وخت وهلې دريشي يې پر تن وه چې زموږ د هېواد ښه سټايل يې رايادوه. د لباس ټول جزييات يې د يو ښه، ساده ذوق ښکارندوی وو: نکټايي يې توربخن رنګ درلود، ستن په کې نه وه ټومبل شوې، د کميس غاړه يې نرمه وه، ښکلي لاسونه، په ګوتو کې يې ګوتمۍ نه وې. د شرقي پاچاهانو له زرق وبرقه ډک جلال، هيڅ هم په کې نه وو.

کله په فرانسوي، کله په انګليسي، په دې خبره يې خپګان ښکاره کړ چې زه يه داسې بدو شرايطو کې له افغانستان سره مخ شوم. و يې ويل:

- زموږ قبيلې له بده مرغه د روښانتيا تر حده نه دي رسېدلي او سرکال چې زموږ هېواد په بدو لاسونو کې و، ترې لږ نور هم ليرې شوې. څومره وخت به لګي، او څومره ماهر لاسونه به په کار وي چې دا مادي او معنوي تخريبات بيا له

سره ورغـول شي؟

- اوس خو ملت ستاسې لاسونو ته ځان سپارلی

یـوه غمجنه موسـکا پر ښـکلې د برونـزو په رنګ ځېـره باندې ځغـلي. د عینکو تر شـا نظـر لېرې او اندېښـمن ښـکاري. رېـره یې، ویـل کېږي چـې په دې وروسـتیو کې سـپینه شـوې. دوه ګونځې یـې پر خوارو اننګیو کرښـې جـوړوي. او زه د کړاوونو هغو اوږدو میاشـتو تـه فکـر وړې یـم چـې دې پـه نزاکتونو پوه سـړي، چې د غربي رسـومو لـه نرمیـو، د پوهـو خلکو له ناستې ولاړې سره روږدی دی، د بربـري قبایلو د افراطیت او وچ فکـر سره پـه اوسـېدلو کـې زغمـلي دي. هغـه د خپـل ژونـد پـه اوږدو کـې یـو پـه بـل پسـې د ویاړونـو نشـه، د تبعیـد او د مشرانـو د بـې مهرۍ ترخـه، ملي بریـا او د خلکـو هرکلـی تجربه کـړل. ده د ترټولو لـوړ واک شـوق درلود خو په خـورا دقیق ډول سـتونزې او ننګونې ارزولای شي.

پـه غـږ کې یـې د یـو دردوونکي صداقت نخښـې ښـکاري. دا ځل یـې، لکه ځان سره چـې لګیـا وي، په فـارسي وویل:

- زه خپـل هېـواد تـه پـه دې نیـت نه یـم راغلی چې پر تخـت کښـېنم، د دې له پاره راغلـم چـې لـه ډېـرې شرموونکـې غلامۍ یـې وژغـورم. د خپلې روغتیا لـه امله مې نـه غوښـتل چـې د سـلطنت درونـد بار پـر غـاړه واخلم. مـا دا خبره کـړې ده. پـه وارو وارو مـې کـړې ده، خـو خلکـو پـه یـوه غـږ را تـه وویل : «مـوږ پرته لـه تا بـل څوک نه غـواړو». زمـوږ علـماوو را تـه وویل چې ته دلتـه ضرور یـې. کوردیپلوماتیک هم همدا غوښـتنه کولـه، د بهرنیـو د امنیت په نامـه. نو...

په یو حرکت یې خپله خبره لنډه کړه. بیا یې په زړه بوږنوونکي لحن وویل:

- زه همدومره غواړم چې د خپلې وظیفې د ترسره کولو سبک ولرم.

یـو شـېبه پـه اندېښـمنو خیالونو کې ډوب شـو. خو چـې خبرې یې پیـل کړې، غږ یې خپـل ډاډ بېرته پیـدا کړی و:

- کار درونـد دی. مـوږ بایـد لومړی په خپـل کور کې نظم راولـو، کنډوالې ورغوو، د افغانسـتان خپلواکـي پـه کلکـه وسـاتو. تـر دې وروسـته، پرتـه لـه دې چې زمـوږ له

رسومو او عنعناتو سره ټکر را منځ ته شي، خپل خلک د فکري او مادي ترقۍ لارې ته برابر کړو. زه غواړم چې هر څومره ژر چې کېدای شي، ښوونځي بېرته پرانيزم ځکه چې پرته له تعليمه زموږ هېواد يو ګام هم پر مخ نه شي تلای. د الماني ښوونځي پرانستل او په تېره بيا د فرانسوي ښوونځي پرانستل چې ډېر مينه وال لري، تر دې چې څو واره يې د لويولو له پاره اقدام وشو او استادان يې شاګردانو ته ډېر محترم دي.

دا هر څه طبيعي او اسانه ښکاري، خو د هېواد مشرانو ته ډېر جرأت په کار دی چې دا ښوونځي له سره پرانيزي ځکه چې د هغوی پر ضد، د خارجيانو د ناوړه تعليم، پر ضد وو چې ملايانو ډېر تبليغ وکړ. د نجونو د تعليم په اړه، چې د امان‌الله د سقوط عمده لامل و، زه اصلاً د خبرو جرأت هم نه کوم خو پوهېږم چې پاچا يې په جدي ډول په فکر کې دی.

- موږ بايد سړکونه هم جوړ کړو. او هغه سړکونه پسې وغځوو چې مخکې جوړ شوي دي. ځکه چې سړکونه د تبادلې او سوداګرۍ سره مرسته کوي او زموږ هېواد له دې لوري ډېر وروسته پاتې دی. د دې ويلو ته به حاجت نه وي چې خلک يې، خصوصاً په جنوب کې، په اهميت نه پوهېږي. د رېل د پټليو په اړه هم فکر کېدای شي. موږ بايد خپلو اقتصادي زېرمو ته د ارزښت ورکولو په برخه کې هم کار وکړو، هغه صنعتونه چې تيار شته، هغه پياوړي او پراخه کړو، نوي صنعتونه ايجاد کړو. د دې پروګرام د تطبيق له پاره زه د بهرنيو قدرتونو پر مرسته او همدردۍ حساب کوم. زه غواړم چې له هغوی سره نېږدې اړيکي ټينګ کړم. زه خصوصاً پر فرانسې ډېر حساب کوم...

پاچا د دې نوم په اخيستلو يو شېبه غلی شو. دا نوم يې تقريباً د مينې په انداز کې واخيست. او دا ځل يې پر عزتمن مخ يوازې رڼا ځلېده.

- دا درته نه شم ويلای چې دا هېواد ما ته څومره ګران دی. زما دويم وطن دی. ما مې هلته د ژوند تر ټولو ښه کلونه تېر کړي دي. زه هلته ډېر ګران ملګري لرم او کله چې ناروغ وم ټولو راسره دومره مهرباني کړې چې ما مې خپل دردونه هېر کړي. زه هيله لرم چې زموږ د دواړو هېوادونو تر منځ فکري همکاري به، چې

شاه امان‌الله رامنځ ته کړې وه، هماغسې دوام وکړي او لا به پراخه شي. هغه هم ستاسې هېواد ته د نړۍ د يو فکري قوت په سترګه کتل. زه به هڅه وکړم چې دا همکاري نه يوازې د لرغون پېژندنې په برخه کې، چې دومره ښه نتيجه يې ورکړې، او د ښوونځيو په برخه کې دوام وکړي بلکې نورو علمي بنسټونو ته به يې هم و غځوم.

فرانسه کولای شي موږ ته استادان، انجينيران، د بېلابېلو برخو تخنيکران راواستوي چې له موږ سره زموږ د شتمنيو په ارزښتمنولو کې مرسته وکړي. پخوا راته ځينو ملګرو د مالي چارو په برخه کې ښې مشورې راکړې دي. زه به د خپلو مالي چارو د بيا رغولو له پاره د هغوی تجربې ته مراجعه وکړم. اوس مو مالي چارې له ګواښ سره مخ دي، زموږ ملي خزانه په دې وروستيو وختونو کې ډېره کارېدلې ده، او لوټل شوې ده. خو زموږ هېواد غني دی او ډېر ژر به پر پښو ودرېږي.

په دې وخت کې يو موټر د ماڼۍ مخې ته درېږي. فيض محمد خان را ته اشاره کوي. زه پاڅېږم. پاچا بيا هم راڅخه مننه کوي چې د خطر پر مهال يې هېواد ته راغلم او بلنه راکوي چې په ښو وختونو کې بيا راشم. وايي:

- هيله لرم چې هغه وخت درته وښايم چې هېواد مو څومره بدل شوی.

پر مخ يې له سره يو ډول له درنښته ډکه انديښنه ښکاري. پر خوله يې موسکا ده او د درناوي په يو وروستۍ اشاره لېرې کېږي. سر يې ټيټ نيولی، قدم يې ټينګ دی.

يوه شېبه وروسته، د صحنې يو شاهد چې د افغانستان او د مسلمانۍ له خبرو ښه خبر دی را ته وويل:

- پوهېږې چې ممکنه ده همدا اوس دې له راتلونکي خليفه سره خبرې کړې وي. کم له کمه اوازې شته.

- د څه پر اساس؟

- شاه نادر ټول شرايط پوره کوي: ريښتينې او جوته تقوی، بې داغه ماضي، د ټولو مومنانو درناوی. هغه له شاهي کورنۍ سره تړلی دی، د يو خپلواک مسلمان

هېواد واکمن دی، ویل کېږي چې د هند د شتمنو مسلمانانو کاندید هم دی، هغوی ورسره تخت ته د رسېدو په چاره کې مالي مرسته کړې. او تاسې پوهېږئ چې هغوی تل د خلافت د بیا احیا کولو پلویان دي او داسې یو خلیفه غواړي چې یوازې روحاني مشر نه وي بلکې یو ځواکمن پاچا هم وي.

یوازې د هند مسلمانان نه دي چې د خلافت له پاره کاندید وړاندې کوي. انګرېزانو هڅه وکړه چې د استانبول د عثماني خلیفه پر ځای د مکې یو هاشمي خلیفه راولي چې د حجاز د پخواني پاچا، حسین، له کورنۍ وي. عبدالله یا فیصل.

دا خوب او د عربو د یوې لویې امپراتورۍ خوب اوبو یوړ.

- ښه، کېدای شي، خو تر هغې وروسته یې ګوندې په فواد پاچا فکر نه وو کړی؟

- ډېر امکان لري چې اوس یې هغه هم هېر کړی وي. په هر صورت مصر لا خپلواک هېواد نه دی.

- او پارس؟ هغه خو خپلواک دی!

- هو، خو اول خو پارس شیعه مسلمان هېواد دی. دویم رضا خان په ډېرو دلایلو د خلافت شرایط نه پوره کوي. نه، که مسلمان مشران وغواړي چې خلافت بیا احیا کړي نادرخان یوازینی ممکن کاندید دی. خو یو ټکي ته موپام وي، زه ګومان نه کوم چې هغه به د روحاني مشر د مقام منلو ته حاضر شي، ځکه چې دا به یې پر اوږو یو بل بار وي. خو په هر صورت، نور د هغه پر ځای ورته لېواله دي.

زما په یاد دي چې موریس پېرنو چې افغانستان ته سفر وکړ، د خلافت د موضوع په اړه یې د امان‌الله نوم یاد کړی و. د بهرنیو چارو وزیر ته یې ویلي وو چې «ما څو واره په مصر او په هند کې، د مسلمانانو په حلقو کې، د امیر نوم د یو مناسب کاندید په توګه اورېدلی دی».

محمود طرزي د دې احتمال سخت مخالفت وکړ. د هغه په فکر اوس د مذهبي اختلافونو او اندېښنو وخت نه و. هغه ویلي وو: «سمه ده چې موږ په خپله

مسلمانۍ ویاړو او اجازه بـه ور نـه کړو چـې د اسـلام حیثیت تـه تـاوان ورسي، خو مـوږ د یـو بـل هدف پـه لټه کې یـو. موږ غواړو چـې ژوند وکـړو، ځواکمن و اوسـو او افغانسـتان پـه یـو مدرن دولت بـدل کړو. موږ له لاسـه تلـلي وختونه جبرانـول غواړو»

دا هـم ریښـتیا ده چـې امان‌اللـه، کـه څه هـم د مذهب ټـول ظاهري مراسـم یې پر ځـای کـول، لـه زړه، د نادرخـان غوندې ریښـتینی مسـلمان نـه و. دی د جزمـي دریځ او د مذهبـي افراطیـت مخالـف دی چـې په پخوانیـو وختونو کې یې ډېر وخت شـیعه ګان او سـنیان یـو د بـل پـر وړانـدې درولي وو او پـر هر چا بـه چې د کفر تـور ولګېد، زیاتـی به ورسره کېده. د اسـلام د اکثرو روښـانه مشرانوغوندې، هغـه هم یو زغمونکی مذهـب غـواړي، چـې د نـوي عصر لـه فکرونـو سره جـوړ وي، د معـاصرو علومو او غـربي فرهنـګ تدریـس و منـي او تشـویق یې کـړي. خـو لـه دې سره، هغه بیـا هم یو متقـي مسـلما دی چـې پـر خپلو رسـومو او د خپل مذهـب پر شـعایرو ټینګ دی.

خـو هـر وار مـې چـې د شـاهي کورنـۍ او د پاچـا نېـږدې حلقـو پـه مـخ کـې د خلافـت خـبره یـاده کـړې لـه اعتراضونـو سره مـخ شـوې یـم:

- کـه دا وهـم منـو چـې څـوک یـې وغـواړي، نادرخـان د خلافـت مسـوولیت نه منـي. د پاچـا وظیفـه هم ورتـه کافي ګرانه او کافي جنجـالي ده چې ټولـه پوهه او عقل یـې بوخـت کـړي. او تاسـې پوهېږئ چـې افغانسـتان ډېر شـیعه ګان لـري، خصوصاً د هـرات شـاوخوا سیمو کـې، چـې ممکـن د یو سـني خلیفـه د قـدرت منلو تـه غاړه کښـې نـهږدي او د بغـاوت فرصت پیدا کړي. او بیا تاسـې ریښـتیا هم فکـر کوئ چې خلافـت ضرور دی او اسـلام یـې غواړي؟

زه هېـڅ فکـر نـه کـوم. زه همدومـره پوهېـږم چـې نادرخان سر له اوسـه په سـترو کـې سـتر دی لا کـه د ټولـې اسـلامي نـړۍ تر ټولو سـتر هـم وبلـل شي، بـې ځایه به نه وي.

فرانسـه د یـو اسـلامي قدرت پـه توګه، د هغـه په وجود کې یو ارزښـتناک دوسـت لري.

# شپاړسم فصل

## د حبیب‌الله بده خاتمه

د دروغو خبر – بیچاره لېوه په دام کې نښتی – پاچا بخښل کوی، قبایل عدالت پلی کوی – له کابله تګ : پر هندوکش د واورې توپان

---

په ورپسې څو ورځو کې، پر هغو لارو چې کوهستان ته تللې وې له دوو خواوو ډلې ډلې خلک روان وو. له یوې خوا د نادرخان لښکرې ټولې ټولی وړاندې تلې. په هغوی کې داسې بوډاګان هم وو چې د کجیرانو په څېر وچې څېرې یې درلودې، ږیرې یې تکې سرې وې. په څنګ کې یې زلمکیان روان وو چې د غوړو په څېر ځلاندې سترګې یې درلودې، څېرې یې د نجونو وې، تر غاښونو په وسلو سمبال وو، سرسخته، پر یو سواره، بیرغ په لاس مشر او یا د سپینو جامو پر یوسپېڅلي روحاني مشر راټول وو. له بلې خوا بیا هغه عسکر وو چې له غرونو بېرته راکښېوتل، رمې، خره، کچرې، او اسونه یې په رنګارنګ توکو بار وو. له خندا به یې غاښونه په بې رحمۍ پړکېدل او په لوړ غږ به یې ویل:

ولجه!

په دې وخت کې، هغو اروپایانو چې له دوی سره مخ کېدل، کولای شول ځان ته د غوایي د غوښو کبابونه په داسې بیه پیدا کړي چې زموږ قصابان به یې لېونې کړي وو. غوایان او غواګانې په دېرش فرانکه اخیستل کېدل، خوسي په شل، پسان په لس. دا هم ریښتیا ده چې دوډۍ اسانه نه پیدا کېدې، هګۍ، چرګان او سابه له

بازارونـو ورک شـوي وو، او دوکانـداران په ډېر احتیاط راښـکاره کېدل.

خـو ناوریـن مـخ پـه ختمېـدو و. پـه ښـار کـې، د ژان کارل پـه وینـا «د ټوپکـو پـه کـړس خنـدا» غلي کېـده. د قبایلـو بیعتونـه همداسـې راروان وو. خلـک پوهېدل چې حبیب‌اللـه د ښـار شـمال تـه په سـل کیلومتری‌ کـې پراته کوچني ښـار، جبـل السراج کـې، چـې د کابل برېښـنا تامینـوي، کلابند شـوی و. پلویانو یې یوازې پرېښـوده، نیول کېـدل یـې د ورځـو، یـا هم د څو سـاعتونو خـبره وه.

او ریښـتیا هـم، په یوروښـانه ورېښـمین مازیگري کې، ناڅاپه د سـفارت په باغچه کـې یـوه همهمـه خپـره شـوه. نوکـران سره راټـول شـول، لاسـونه یـې سره ښـورول. د برنـډې مخـې تـه ولاړ، د برتانیـې د سـفارت د موټر شـاوخوا منگل سـاتونکي لاسـونه پړکـوي، پـه منظـم ډول یـو ځـای سره تاوېـږي او خپلـې اوږدې څنـې سره غورځوي.

- څه خبره ده؟

- د سقاو زوی ونیول شو. راولي یې. سگاو!

هغـوی دغـه زیـږه سـېلابونه پـه یـو کرکجن غـږ سره تکـراروي او پـه کرکـه یې له خولـې  وباسي.

زمـوږ لـه جلالـه ډک جـنرال پـه منـډه راځـي، یو لاس یـې په هـوا کـې دی، په بل لاس کـې یـې ټوپـک نیولـی، د موټـر چوکۍ ته پـه یو ټوپ ځـان وراچوي، سـاتونکي پـر پایـدان ولاړ دي، مـوږ د موټـر دننـه سره را ټول شـو او حرکـت مو وکړ.

سرک لـه مـوږ سره یـو ځـای روان دی. مـوږ د خلکـو د هغـو ډلـو یـوازې څټونـه گـورو چـې په ځغاسـته، له چغـو او ډزو سره روان دي. د لومړي ځل له پاره زه د ښـځو شـکلونه گـورم چـې پـه خرامانۍ پـر هماغه لـور روانـې دي چې مـوږ ورځو.

هغـوی، لکـه پـه ترکسـتان کـې، د تـورو وزغنـو پـه مکعـب ډولـه تور غـلاف کې نـه دي نغښـتې چـې د سـکرو د بوجیـو غونډې یې ښـکاره کـوي. دوی په نرمـو، نریو ځادرونـو کـې ځانونـه تاو کړي چـې مخونه یې پټوي خـو د سر، ولیو او تنې شـکلونه یـې په واضـح ډول ښـکاره کوي.

ناڅاپـه پـه یوه څلـورلارې کې هر څـه درېږي. لاره بنـده. ناهیلي. دا «بچه سـقاو»

نــه و چــې راوســتل کېــده، یــوازې څو ســوه کوهســتاني بندیــان وو. هغوی پــه خاورو ککــړ، جامــې څیرې، ســتړي خــو له بې تفاوتــه څېرو سره تېرېــږي. که دغه یــو ټکی نه وای، چــې دوی بــې وســلې وو (او دا ورتــه یــوه فاجعــه ښــکارېده)، د دوی او د بریالیو لښــکرو ترمنځ هېــڅ توپیر نه شــوای کېــدای. دا ســړي به وبخښــل شي، ژمنــه به ترې واخیســتل شي چــې بیــا بــه بغــاوت نه کــوي او خپلــو کورونــه ته بــه ولېــږل شي. دا په افغانســتان کــې د رحم یــو نادر اقــدام دی. دلتــه عموماً بندیــان قتلېږي.

***

څــو ورځــې وروســته، د اکتوبــر د میاشــتې پــه پــای کــې ، د څــو ځــوابي حملو تر ماتېــدو وروســته، د ســقاو زوی، د هغه «کوچني ورور» حمیدالله چــې ټپونه یې لا پوره روغ نــه وو، وفــادار ملګری یې، ســید حســین او شــاوخوا لس تنه وزیــران او مخور بې قید و شرطه تســلیم شــول.

ما له یو ځوان افغان څخه پوښتنه وکړه:

- نــو لویــه خدایــه، د دې پــر ځای چــې راشي، په خپلــه خپله غاړه تر چــړې لاندې کــړي، ولې یې ځان نــه واژه؟

زلمکی، چې لا هم ماشوم و، نېغ شو، سترګو یې غبرګې لمبې وکړې:

- ولــې؟ نــو ځــان وژنه خــو زړه‌ورتیــا نه غــواړي. یوه شــېبه کې کار خــلاص شي. چې څوک اوږدو شــکنجو ته غاړه کښــېږدي، دې ته شــجاعت وایي. د ســقاو زوی نه غــواړي چــې د افغانانــو پــه نظر کــې بې عزتــه شي. غل بــه وي، خو زړه‌ور ســړی دی.

زه خبره یــم چــې په قبایلو کــې پر امان‌اللــه اعتراض کېــده، اوس هــم کېږي، چې ولــې یې پــه یــو الوتکــه کــې تېښــتې تــه زړه ښــه کــړ. الوتکــه خــو د اروپایانو یــوه بله شــیطاني وه. ریښــتینی افغان له ســختو کړاوونو نه تښــتي، خپل قســمت ته غاړه ږدي، کــه هرڅومــره وحشــتناک هــم وي. زمــا ځوان افغــان را ته د ماشــومانه شــوق پــه انداز کــې وویل:

- د اوسپنو پنجره تیارېږي. سختې شکنجې به وي!

واقعیــت د یــو متمــدن پاچــا، د متمــدن کېدونکــي ملــت لــه شــان سره مناســب

راوخوت. خو د خوارکي غله-پاچا خاتمه بیا هم بده وه. ولې په هغه شپه ، د اکتوبر په یوولسمه، مړ نه شو چې په اور اخیستې ماڼۍ کې، د انفجارونو او د لمبو د ګېډیو په منځ کې یې لا هم په خندا او سرزورۍ خپل یوازینی روغ توپ چلاوه!

کله چې له کوهستانه بندي راغی، جامې څیرې، خوار شوی، رډې سترګې چې په تور ګونځې ګونځې مخ کې یې تر حد ډېرې لویې ښکارېدې، دا باغي ټوپکوال، رومانتیک داړه مار، د «ټوکانو» پاچا په دام کې نښتي لېوه ته ورته و چې قتلان ته جوړ و.

د لوی زړه خاوند نادرخان خپله ټوله هڅه وکړه چې و یې ژغوري. هغه ټول ګنهګاران بخښلي وو. ضرور به یې دا په یاد وو چې داړه مار د هغه خپلوان نه وو وژلي.

رسماً ادعا وشوه چې د مخورو یوې شورا، چې د محاکمې له پاره دایره شوې وه، د پاچا عفوه تایید نه کړه. یو بل بیان کې بیا راغلي دي چې د جنوب او د ختیځ قومي مشرانو، وزیرو، منګلو، اپریدیو، احمدزیو، په قاطعیت سره پرېکړه وکړه چې عدالت پلی کړي. آیا هغوی وغوښتل چې د ارګ په یوه انګړ کې ایسار شوی ښکار ور ته تسلیم کړل شي او که د پاچا د حکم خلاف په خپله ورغلل او را و یې ایستل؟ دا واقعیت به د تل له پاره پټ پاتې شي ځکه چې هېڅ یو اروپایي په راز کې شریک نه و او د اعدام په مهال حاضر نه و.

د نومبر پر لومړۍ، ماښام، حبیب‌الله او ملګري یې ناڅاپه له زندانه راوایستل شول. په دوی کې د دربار وزیر شېرجان، دوه تنه مارشالان عبدالوکیل او عبدالغیاث، د کابل پخوانی والي او د هغه ورور، محمد صدیق د بهرنیو چارو د وزیر ورور، دوه یا درې کوهستاني مشران، بېچاره خدای وهلي چې لویو کارونو ته په ناپوهۍ کې راغلي وو ، شامل وو. د سقاو د زوی یو وراره او دوه هغه کسان چې پر دغه سخت زړي سړي، چې په وفادارۍ پوهېده، تر هر چا ګران وو، کشر ورور یې، حمیدالله، او وفادار ملګری یې سید حسین چې تر ورور هم ورته نېږدې و او د ځان په څېر یې ګاڼه هم په کې وو.

د محکومیت حکم ورته ولوستل شو او که په بې رحمه ډول ورته وویل

شول چې نور مړه کېږئ؟ په هر صورت، پوهېدل چې د نجات لار یې نه شته نو هر یو پر مخ هغه ډاډمن نقاب غوړولی و چې مسلمانان یې په وروستۍ شېبه کې لري. د ارګ په شمال لوېدیځ کې یوې کندې ته بوتلل شول چې لا هم په کې د هغو قربانیانو د وینو پرنډ شوې ټوټې ښکارېدې چې څو میاشتې مخکې د غاصب له خوا وژل شوي وو. په خپله د سوربخن دېوال خواته کتار ودرېدل. مخامخ ورته د قبایلو تر ټولو زړه‌ور عسکر ولاړ وو چې خاص د دې مېلې له پاره غوره شوي وو. د زر ګلي ګلان یې پر غوړونو د پاسه ځړولي وو، د مخ لاندې برخه یې د پګړۍ په شمله کې نغښتې وه، خپلې غټې سترګې یې چې د بې رحمۍ ځلا یې درلوده په هنر سره توري کړې وې او د قربانیانو له بې اختیاره لړزې یې خوند اخیست. لومړی یې په ډډ غږ چغې کړې، ښکنځلې یې وکړې خو قربانیانو ورته به بې اعتنا موسکا او د تحقیر په حرکاتو ځواب ورکړ. بیا غلي شول. یوه دقیقه چوپ وو. هغه عجیبه، بوږنونکې چوپتیا چې د نړۍ په ټولو هېوادونو کې، د هر اعدام پر مهال، د هغه وحشتناک قتل اعلان کوي چې د انسانانو په لاس کېږي. هغو کسو، چې شېبه وروسته به له تیارو ډکېدل، د اسمان په سره څنډه کې د وحشي مرغاویو هغه سیل وکوت چې د کوهستان پرلور روان و. د یو سپي غږ اورېدل کېده چې په خوارۍ کوڼجېده. ناڅاپه ډزې شوې. شدیدې، بې نظمه. یوه شېبه غلې شوې، بیا پیل شوې. پرله پسې باړونه چې د کرکې او بریا له کړیکو سره ګډېدل. په دې توګه اروپایانو د مسخره ناورین د پای خبر واورېد. غالباً چې په ماښام کې به ایماندار نادرخان هم، مخ پر لوېدیځ، د ماښام د لمانځه په سجده پروت و، غږ به یې اورېدلی وي او متمدن زړه به یې رپېدلی وي. کله چې اعداموونکو د بې احساسه جسدونو د سوري سوري کولو خوشالۍ پای ته ورسولې، پر مړو یې برید وکړ، مثله یې کړل او خپلې ګوتې یې په تودو وینو کې سرې کړې.

پر سبا یې مثله شوي جسدونه، یو د بل تر څنګه، پر یو ستر دار، چې د بالاحصار تر غونډۍ لاندې، د خندنۍ ورشو په مخ کې درول شوی و، و ځړول شول. ټول کابل د پرون د بادار مخې ته تېر شو. یو وار بیا د ښار ښځې، ډارېدلې او هوسناکې، د ګوډېو تر نرمو ښادرونو لاندې، راغلې او د ریتاړو او خوسا شوو

غوښـو ننـداره يـې وکـړه چې څـو واره يې هـم وبوږنولـې او هم يـې د خيالونـو دنيا ته يـوړې. او ډېـر ژر دا ځړېـدلي جسـدونه هېر شـول.

***

وخـت راورسـېد چې لـه دې هېـواده راوتلې واى، خو ومې نه شـو ليـداى. د بېرته راتـګ لار مـې ونيولـه. د هنـد سرحـد لاهم ترلې و او شـايد پـه نېږدې وختونـو کې نه واى خـلاص شـوى. هغـه الوتکه چـې زه يې راوسـتې وم، را تـه يې انتظار کـړى و، په تلـو کـې وه. ژمـى رانېـږدې کېـده. د لـړو او واورو پـه دې فصـل کـې بلـې الوتکې ته انتظـار د طالعـو جنګـول وو. اونۍ، کله مياشـتې تېـرې شي خو يوه الوتکـه هم پر لوړ دېوالـه نـه شي اووښـتاى. د دې دېـوال پـه اړه افغانـان وايـي چې «مرغان هـم ترې پلې اوړي» پـه داسـې حـال کـې چـې کاروانونه چې پـه تنګـو درو کې لاروبـاسي په پينځه ويشـت، دېرشـو ورځو کې رسـېږي.

مـوږ هـم يـو څـه په حـال خـبر وو. د تلو پـه ورځ، په روڼ سـهار کې، چـې غرونه پـه کـې د وريځـو له څـادر پرته ځلېدل، يـو د پام وړ ګـروپ لـه URSS-۳۸ څخه راتاو و. پـه دې ډلـه کـې افغـان لوړپـوړي چارواکـي وو چـې د خپلـو خپلوانـو د بدرګې له پـاره راغـلي وو چـې تـر هندوکـش اخـوا د رسـمي ماموريـت له پاره اسـتول کېـدل. د شـوروي اتحـاد شـارژدافېر او ورسره يـو څـو مامورين ووچـې الوتکې يې بکسـونه او د بېلابېلـو سـفارتونو ليکونـه وړل. زمـا د سـفارت ملګـري وو چـې پرېښـودلو يې زما زړه سره مـروړه. عسـکر هـم وو چـې د کوهسـتان خـوا تـه روان وو او د باروړونکـو او اوښـانو يـو کاروان هـم و. يوه ډېره تاثيرناکـه صحنه وه. الوتکې تـه د ختلو پر مهال مې پيلـوټ، ايوانـوف، نه پوښـتنه وکړه:

- ماتريوشا چېرته ده؟

ماتريـو شـا هغه برکتـي ګوډۍ وه چې يوه روسـۍ بزګـره يې تمثيلولـه او د لومړي پـرواز پـر مهـال يـې راتـه ښـه بخـت راوړى و. زمـوږ بـې وفايې ته ګـوره چـې له هغه وختـه مـې بيـا نه وه پـه ياد شـوې. ايوانوف لاسـونه اسـمان ته پورتـه کړه:

- په سفارت کې مې هېره شوې.

هغـه ما ته په ناډاډمنو، اندېښـمنو سـترګو ګـوري، زه هغه ته په هماغومره تشـویش ورګـورم. الوتکه هم په پـوره توان سره خپـل برېتونه رپوي.

- ورک يې کړه، پسې ورځم!

د شـارژدافېر پـه غـوږ کـې يې يـو څه وويـل، موټر ته يـې ورټوپ کـړ. هغه محترم ناظريـن چې پـه ډېـر متانـت يـې انتظـار وېسـت، هېڅکله پـوه نه شـول چې پـه دغه اوږده پاکـټ کـې، چې څو شـېبې وروسـته ايوانوف غلی شـان له ځانـه سره راوړ، څه وو.

خو داسـې ښـکاري چې ماتريوشـا را نه مروره وه. سـفر مـو د ژوند، ژونـد له نارو او د دسـمالونو له ښـورولو سره پيل کړ. خو چې لوړو سـيمو ته ورسـېدو، اړ شـو چې بېرتـه راوګـرزو. د هندوکـښ پـر سر د واورو توپان لېونی شـوی و. يو سـاعت لا نه وو تېـر چې بېرتـه، ځوړند سر، په تـش هوايي ډګر کې کښېناسـتو.

چا په ټوکو ټوکو کې ويل: ځينې الوتکې تر نهو وارو هم له لارې راګرزېدلې دي.

***

خـو پر سـبا يـې بريا! موږ په ډېره اسـانۍ، بې سـاري راڼه اسـمان ته پورته شـو. تر توپـان پورتـه، د ورزونـو په يـوه څنډه پراخـې فضا ته ورننوتـو او تر لاندې مـو ورېځې، تيـږې او واورې سره رغړېدلـې، او پـه يـوه فـوق العـاده خوځنده، سـپينه ګـډوډۍ کې يـوه پـه بله کـې ورکېدلې. دوه سـاعته نـه هېرېدونکې، جادويـي، ډاروونکـې تحير. پر دېـوال واووښـتو. د افغانسـتان لوړپوړي شـخصيت، سـيد عبدالله چې پـه لوړې سر کـې يـې ارتفـاع دومـره پـر زړه اغيز کـړی و چې مـا، په وېره او بې وسـۍ، لـه ځان سره ويـل چـې اوس به بې سـده شي، سـترګې و غړولې.

د سـترګو لـه غړولـو سره سـم يـې د الوتکـې کړکـۍ پرانيسـته او د مېړتانـه په څېر کلـو، د جرګـې پـه دايـره کـې پـر را ټولو شـوو کېږديـو او پر سـپينو- تورو کښـتونو يې موټـې موټـې هغـه پاڼـې وشـيندلې چې دغـو خلکو ته يـې، چې لـه مرکزه دومـره لرې وو، د نادرخـان د نېکمرغـه جلـوس زېـرى ورکاوه.

***

په ترمز کې له موږ څخه بېل شو او د مزارشریف او ورپسې د هرات پر لور وخوځېد. موږ باید د هوایي ځواک په کوچني کور کې څلېرویشت ساعته اجباري توقف وکړو او بیا د قیصار پر غرونو واوړو. هلته یې زموږ ښه تود هرکلی وکړ، ځکه چې زموږ د مرګ اوازې ورته راغلې وې. دوی، تر موږ لاښه، د ټوپکو له هغو باړونو خبر وو چې کابل کې د کنېناستلو پر مهال یې زموږ هرکلی کړی و او هغه خطرونه ورته مالوم وو چې موږ ورسره مخ شوي وو.

پییر ایوانوف چې لا یې هم سترګې سرې وې، څېره یې د یخ له نېښونو او د سفر له سختیو تکه سپینه اووښتې وه، راته مبارکي وویله. په خندا یې وویل:

د مسلکي هوابازانو له پاره هم پر هندوکش اووښتل کمال دی. او تاسې په دې ټول وخت کې ارامه پاتې شوئ. زما درته پام و. ډېره ارامه وئ. لږ نارینه به ستا په شان ارام وي.

هغه وخت چې لا تنکی پېغله وم، هم د چا له ستاینې سره مې رنګ دومره په خوند نه وو سور شوی.



حبیب‌الله او وزیران یې اعدام شوی



تر بالاحصار لاندې دښته کې ننداري ته ایښودل شوي جسدونه



د کابل مېرمنې د اعدام شويو د جسدونو ليدو ته ځي

# اوه لسم فصل

## د افغانستان راتلونکی

ضروري یووالی به پایېدونکی وي؟ - د انگستان او روسیې تر منځه – یوه ښکلې اقتصادي راتلونکې – په افغانستان کې د فرانسې اخلاقي او فکري نقش

---

د ترمز په خاورینه کلیوالي سیمه کې، د آمو پر غاړه، چې سترې د خپلو طلایي رنگه څنډو ترمنځه بهېده، روانه یم او سترگې مې پر هغه لوړ دېوال کې خښې کړې دي چې زما او هغو دښتو ترمنځه ولاړ و چې د کابل پر لور ورو ورو ورکوزېږي. د افغانستان پر راتلونکې باندې فکر کوم. له هغه مهال راوروسته مې ډېر ځله فکر دې خوا ته تللی. دا ښکلی هېواد چې له ویاړه ډکه ماضي لري، ځمکه یې تر یو حده حاصلخېزه ده، شتمنیو ته یې لا لاس نه دی ورورل شوی، جنتي آب و هوا لري، انسانان یې نا اېل شوي خو له ټېټوالي لېرې، د قربانیو او سخاوتمندانه حرکتونو له وړتیا سره، که خدای غوښتي وي، د سولې یوه دوران ته ورداخلېږي چې سوکالي به ورته راوړي.

هو، دا چاره اسانه نه ده. پایتخت، گڼ ښارونه او د هېواد تر ټولو ابادې او له ذکاوته ډکې سیمې ړنگې شوې دي، دولتي خزانه تشه ده او پرته له شکه چې څه موده یې د ډکولو له پاره د مالیاتو راټولولو فکر هم نه شي کېدای. د اوس له پاره قبایل ارام دي. مزارشریف، د روسي ترکستان له پولې سره نېږدې، چې ډېر مقاومت یې کړی و او حتی د نادرخان په مقابل کې یې د حبیب‌الله له ملگرو یو رقیب

هـم وړانـدی کړی و، خپل بیعت استولی دی. هـرات چې لا هـم د خپلواکۍ خیالونه لـري او د دیموکراتیـک ناسـیونالیزم باد پـه کې لګېـږي، د الوتکې په واسـطه یو پلاوی اسـتولی چـې د سـولې پـه اړه خـبرې اترې وکـړي او داخـبرې یې نتیجې ته ورسـولې، هـزاره ګان، چـې تـر ډېـره امان‌اللـه ته وفـادار پاتـې وو، هغوی هـم بالاخره نـوی پاچا منلـی دی. خـو دغـه یو والـی به، چـې په خـوارۍ رامنځ تـه شـوی، پایېدونکی وي؟

پـه قبایلـو کـې لا هم یـوه ګونګه شـان نـا ارامي شـته. دا قبایـل تل د هغه دښـمن پرورانـدې یوځـای کېدلـو تـه چمتـو دي چې د هېـواد خپلواکي ګواښـي خـو لا هم د یـو مرکـزي دولـت منلو تـه حاضر نـه دي. خوځنده، نامنونکـي، په خپلو کـې د قوم او مذهـب پـه نامـه وېشـل شـوي، دا قبایل ډېر پـه اسـانه، اکثره پرتـه له دې چـې په خپله هـم ورتـه متوجـه شي، له شـمال او ختیځ څخه د راغلـې، یوې ماهرانـه پروپاګنډې تر اثـر لاندې راځي چې په قسـم قسـم خپله څېـره بدلوي. آیـا دا قبایل به دا ځـل دا خبره درک کـړي چـې کـه هېـواد یې غـواړي چې پرمـخ ولاړ شي او سـوکاله شي، یـو والی ورته لومړنـی شرط دی؟

***

له ډېرې مودې راهیسې هېڅکله افغانستان تر دې په ښه وضعیت کې نه دی واقع شوی. اوس دا هېواد د خلکو د اکثریت له خوا یو ټاکل شوی پاچا لري، یو پاچا چې پر ټولو ګران دی، او ټول ورته درناوی لري. په کور دننه او په هند کې، هم د ترقۍ او پرمختګ پلویانو منلی دی او هم اسلامي منورو مشرانو. حکومت چې تقریباً دستي جوړ شو، هغه وزیران په کې شامل دي چې د امان‌الله په وخت کې یې پر ځان خطر و مانه او هېواد یې د مدنیت پر لور روان کړ. نادرخان په خپلو لومړنیو څرګندونو کې وویل چې هغه به د هغه پاچا لار تعقیب کړي چې نوم به یې په زرینو تورو د افغانستان په تاریخ کې ثبت وي. هغه دا وړتیا لري چې پرمخ ولاړ شي خو ورو ورو، د خپل سلف په نسبت په ډېر احتیاط، پرته له دې چې ډېرو تودو مسایلو سره – لکه د ښځو ازادي - تماس ونیس؛ او، څرنګه چې په وارو وارو یې ویلي، پرته له دې چې له عقایدو سره په ټکر کې راشي او یا په شدت له سنتي لارې فاصله ونیسي.

***

پرته له شکه چې له بهرنیو قدرتونو، او په خاص ډول انګلستان او روسیې، سره په اړیکو کې به یې هم همدا احتیاط د لارې مشال وي.

مورږ ولیدل چې امان‌الله په بې صبرۍ د انګرېزانو تحت الحمایه‌ګي پرېښوده خو پر هغې برسېره یې دا جرأت هم وکړ چې د برتانیې ستره امپراتوري وننګوي. د ترکیې او د هند ملاتړ یې وکړ، د فارین آفېس (د برتانیې د بهرنیو چارو وزارت) د دیپلوماتانو پر وړاندې یې د بې احترامۍ لهجه وکاروله، او ځان یې داسې ښکاره کړ چې ګواکې د شوراګانو له روسیې سره، چې د هند د راپاځولو کوښښ یې کاوه، همدردي لري. انګلستان دغو کړنو ته په نرمۍ او درناوي ځواب ورکړ. د بوکسرانو په وینا، ګوزارونه یې جذب کړل. خو څو کاله وروسته د افغانستان د خاورو منګی ټوټې ټوټې پر ځمکه پرېووت...

نادرخان ډېر وخت په اروپا کې ژوند کړی، د خبرو او د کړنو زور ښه ورمالوم دی، هغه پوهېږي چې سړي او دولتونه څنګه وارزوي، نو نه به هغه اشتباه تکرار کړي او نه به د هغې ضد اشتباه وکړي.

زه چې د دسمبر د میاشتې په پیل کې مسکو کې وم، اوازه خپره شوه چې نادرخان د انګرېزانو په مرسته قدرت ته رسېدلی دی. د پیسو، د وسلو او د مهماتو مرسته. نورو بیا ویل چې انګرېزان به هېڅکله د هغه جنرال ملاتړ و نه کړي چې د هغوي پروړاندې د مخامخ جګړې مشري یې کړې وه. وایي چې پیسې، وسلې او مهمات د هند هغو شتمنو سوداګرو برابر کړي وو چې دې خبرې یې غیرت راپارولی و چې د اسلام پر یو ځواکمن تخت یو غل کېنیناست. اوازې بیا هم ښه په کش کې وې. یو ډول ناهیلي هم ورسره مله شوه: نادرخان خپل ډېر ګران ورور، شاه‌ولي‌خان، چې حبیب‌الله یې مات کړی و، د سفیر په توګه واستاوه. عامو خلکو ویل:

- مورږ ته یې خپل تر ټولو ناپېژندل شوی ورور رالېږلی چې هېڅکله له افغانستانه نه دی وتلی.

دومره بې دلیله او نه توجیه کېدونکو حملو باید د روسي مشرانو دریځ سخت کړی وای، خو له دې حملو سره سره، یا شاید د همدې حملو له امله، هغوی خپل

زړونه حساس وسائل: افغانستان د اسیا هغه هېواد و چې د شوروي استازو ته یې تر ټولو ښه هرکلی ویلی و او تر ټولو ډېر درناوی یې ورته کړی و او د دوستۍ څرگندونه یې ورته کړې وه. آیا شوروي مشران به دا موقف او دا پایگاه چې ځارگر یې له هغه ځای منځنۍ اسیا او هند ځارلای شي له لاسه ورکړي؟ نادرخان به د انگرېزانو سیاست ولوبوي؟

پاچا په دې ښه پوهېږي چې د شوروي خپلاختیارو جمهوریتونو سره د افغانستان اوږده پوله څومره ماتېدونکې ده. موږ له خپلې الوتکې هغه گڼ کاروانونه و لیدل چې د دواړو قلمروونو تر منځ یې تگ را تگ کاوه. په دوی کې به هغه شورش پاروونکي عناصر څنگه پېژندل کېږي چې په هغو سیمو کې چې د یو قوم یوه برخه افغانه ده او یوه برخه یې د شوروي د جمهوریتونو تابعیت لري، د ولسونو له خوا د خپل سرنوشت د ټاکلو د داعیې په نامه خلک یو پټ خوزښت او حتی یو ښکاره پاڅون ته هڅوي؟

په تېره بیا څرنگه او په کومه بیه کېدای شي چې د هندوکش په شمالي څنډو کې، چې له مرکزي حکومت او اردو څخه د پینځه یا شپږزرو مترو لوړو واورینو څوکو بېل کړي دي، بغاوتونه و ځپل شي؟ د دې کار له پاره به سختې تاوانې لشکرکشۍ په کار وي، هغه هم د هېواد د مالي وضعیت په دغه حالت کې! په تېر وخت کې، د ځار په زمانه کې ،مسکو، هر کله چې د افغانستان له امیر څخه یې سیاسي او تجارتي امتیاز ترلاسه کول غوښتل، له دې ډول گواښونو مخ نه اړاوه. شوروي مشران به هم د داسې وسیلې په کارولو کې دوه‌زړي نه شي چې هم یې سیاسي اهداف تأمینوي او هم یې انقلابي ارمان پوره کوي.

نادرخان له دې وضعیته بې خبره نه دی او ډېر ژر به د هغوی د تشویش د رفع کولو هڅه وکړي، لا که سر له اوسه یې دا کار نه وي پیل کړی. د شوروي مشرانو اندېښنې له دې امله هم جدي دي چې روسیې، چې یو وخت کې یې په منځنۍ اسیا کې مخکښ دریځ درلود، شاید د لنډ وخت له پاره، ځینې ماتې ومنلې. د امان‌الله سقوط خامخا د هغوی د دیپلوماسۍ، چې په ډېر مهارت او ډېره حوصله یې پلې کړې وه، ناکامي بلل کېږي.

په لندن کې، لکه په مسکو کې، رسمي دریځ دا دی چې د افغانستان ارامي، نېکمرغي او سوکالي غواړي. په اوسني وخت کې انګلستان په مصر او هند کې له ډېرو ستونزو سره مخ دی او روسیه خپلو داخلي نا ارامیو او د صنعتي کولو د پینځه کلن پلان اندېښنو بوخته کړې نو د افغانستان د نېکمرغۍ د مختلولو هڅه نه کوي. لازمه ده چې دواړو لوریو ته دا پلمه په لاس ور نه کړل شي چې، په پټه یا ښکاره، له رسمي دوکترین څخه پر شا شي.

***

کله چې پاچا په کور دننه نظم جوړ کړي، یا یې له سره ورغوي نو ایله به یې کارونه پیل شي. په دې هېواد کې چې اوس راویښېږي، هر څه باید وده وکړي، یا اصلاً رامنځ ته شي. موږ پوهېږو چې تر ځمکې لاندې معدنیات یې غني دي. په کندهار او بدخشان کې د سرو زرو کانونه، د جلال اباد او کابل تر منځه د یاقوتو کانونه، د سکرو، د اوسپنې، د ګوګړو، د سربو ذخیرې. خو دغه ټولې شتمنۍ نه یوازې دا چې استحصالول غواړي، خو تر هغې د مخه باید په علمي توګه او میتودیک ډول وپلټل شي.

د ځمکو ډېره برخه چې لا هم شاړې دي، یوازې د کوچي قومونو د رمو د څرولو له پاره کارول کېږي خو هغه ځمکې چې کرل کېږي، که څه هم د بزګرانو د خورا ابتدایي لاروچارو په مرسته وي، که ښې اوبه ورته ورسېږي، ډېرې حاصلخېزې دي: ټولې غلې دانې، لکه غنم، اوربشې،جودر، جوار او په خاص ډول وریجې چې د هېواد د خلکو د خوراک لویه برخه جوړوي په اسانه وده کوي. سابه او خصوصاً مېوې، چې وچې شوې یې په پراخه پیمانه صادرېږي، ښې پرېمانه دي. قیمتي لرګي، د ځنګلونو بوټي او د رنګ مواد هند، پارس او حتی امریکا ته صادرېږي. د جلال اباد په ګرمو درو کې نارنجان، لېمو، ګني، پومبه، تمباکو زرغونېږي. که اسلام نه وای منع کړي، انګور ډېر ښه شراب ورکوي خو له ممنوعیت سره سره یې اوس جوړېدل پیل شوي او هند ته صادرېږي. د پسانو ورۍ د کالیو د جوړولو او د غالیو د اوبدلو له پاره، چې د ترکمنستان غالیو ته ډېرې ورته دي، کارول کېږي. د ورېښمو د چینجیو روزنه په هېواد کې دننه د ښکلو رنګونو، ډېرو کلکو، ورېښمینو

ټوکرانـو تولیـد تـه لار جـوړوي چې ما د افغـان جنګیالو پـر اوږو په ډېر شـوق ولېدل.

صنعـت لا د ماشـومتوب پـه حالـت کـې دی خـو بایـد وده وکړي، خصوصـاً که هېواد غـواړي چـې د تمـدن لاره خپله کړي. سـرکونه بایـد تکمیل شي او ډېـر شي، د اوسـپنو لارې بایـد جـوړې شي، او سره لـه دې چـې اسـلام د پیسـو کاروبار ته ښـه نه ګـوري، کېـدای شي چې د کرنې د تشـویق او د سـوداګرۍ د اسـانولو له پـاره یو ملي، د کرېډیـټ بانـک هـم جوړ شي.

نادرخـان د دغـو اقتصـادي پروګرامونـو له پاره، چـې د هېواد خلکو تـه ډېر ضرور دي، د لوېدیـزو هېوادونـو مرسـته غواړي. امان‌الله هم د سـوله ییزې همـکارۍ په فکر کـې و او لـه هغـو هېوادونو یـې، چې په افغانسـتان کې یې سـیاسي منافع نـه درلودل-فرانسـه، ایټالیه، جرمني، وغوښـتل چې خپل اسـتازي ورته راواسـتوي او د ده اسـتازي و مني.

د ایټالیـې فعالیـت چـې تـل پـه جـوش کې و، پـه وروسـتیو کـې ورو شـوی و. د ایټالیـې د یـو انجنیـر غمجـن سرنوشـت (د یوې شـخړې پـه جریـان کې یې یـو افغان پولیـس وژلـی و نـو پـه عـام محضر کې پـه کابل کـې اعـدام شـو) د دواړو حکومتونو اړیکـې ترینګلي کړې. جرمني د افغانسـتان د اردو له پاره روزونکي را اسـتولي وو او د «افغان-جرمـن تجـارتي شرکـت» لـه لارې یې هڅه کوله چـې د صادراتـو او خصوصاً وارداتـو پـه برخـه کـې کار وکـړي خـو څرنګـه چې بـې حـده زیاته ګټـه یې غوښـته د حکومتـي مقاماتـو لـه بدبینۍ او شـک سره مواجه شـو.

د فرانسـې نقش تر ډېره اخلاقي او فکري و او دی. فرانسـې د افغانسـتان استقلال، لـه اعلانېدلو سره سـم، پـه ۱۹۱۹ کې په رسـمیت وپېژاند. پرې یې باور وکړ. فرانسـې یـو کار پیـل کـړ چـې بایـد دوام ورکـړي. ما و نه شـو کړای چې فرانسـوي ښـوونځی، امانیـه وګـورم، چـې پخواني پاچـا خپل نوم ورکـړی و او د حبیب‌الله له راتلو سره سـم وتـړل شـو. اوس ویـل کېـدل چـې بېرته پرانسـتل شـوی دی. خو مـا د دې ښـوونځي ګـڼ شـمېر پخـواني شـاګردان و لیـدل چـې په شـوق او د مننـې په اظهـار یې یـاداوه. شـاګردانو تـه پـه فـارسي او فرانسـوي درس ویل کېده او وروسـته له هغې چـې زموږ د یـو اسـتاد لـه خـوا به د تعلیم پـه اړه او د هغه ځـای د ماشـومانو د زده کړې د شـوق په

ارتبـاط خـبرې وشـوې، بیا به یـې د یو زاړه ملا تر لښـتې لانـدې د قرآن آیتونه لوسـتل. ښـاغلی ژیرار چې د دې ښـوونځي د مدیر مرسـتیال و، له دې یې سر ټکاوه چې زموږ درسي پروګرام او میتود هلته په مشـکله تطبیقېدای شـو. له هغو سـتونزو سره چې دې غـبرګ درسي نظـام را منـځ تـه کولـې پـه ځـو محـدودو کلونـو کې لاسـته راغلې پایلـې د سـتاینې وړ وې او زمـوږ د اسـتادانو د زیـار حـق یـې ادا کاوه. ما چې هر کله دغـه زلمکیـان اورېـدلي چـې زمـوږ ژبه یې دومره ښـه، پـه خـوږه لهجه ویله، یـو ډول احساسـاتو به رابانـدې غلبه کوله.

د کرنـې ښـوونځی چـې ښـاغلي ژیـرار د شـاه امان‌اللـه تـر حمایت لانـدې جوړ کـړی و، او پاچـا بـه اکـثره ورتـه راتـه او ورته یې لـه زړه توجـه کوله، هم بېرته پرانسـتل شـوی و. دا، د کابـل پـه ځـو کیلومـترۍ کـې، د دارالامـان په دښـته کې یوه شـانداره، برجـوره پخوانـۍ کلا ده. شـاوخوا تـه یـې یـوه باغچـه او یو د تـرکارۍ پالېـز دی چې ښـاغلي ژیـرار په کـې، په خـورا بریالیتوب، زموږ د هېواد ګڼ شـمېر بوټـي روزلي دي. دلتـه همـدا راز د ازمایښـتي کرنـې لـه پـاره د پینځلسـو هکتارو شـاوخوا یـوه ځمکه ده چـې پټـي په کـې جوړ شـوي او دپټیو شـاوخوا، د دې هېواد لـه رواج سره سـم، د اوبو ویالـې دي. پـه دې پټیـو کې قسـم قسـم غلـې، هغه بوټـي چې للـون غـوازي (جوار، چغنـدر، کچالـو،...) او واښـه پـه ډېـرو مدرنو طریقـو کرل کېـدل. دا بوټـي د بېلابېلو سـیمو لـه ځمکـې او آب و هـوا سره په مطابقت کـې وو. د دې ښـوونځي وظیفه دا ده چـې ځـوان، د کرنـې انجنیـران وروزي، چـې بیـا ولاړ شي او د افغانسـتان په قبایلو کې (د کرنـې د لاروچـارو) ښـه تبلیـغ وکړي او ښـه مثال وړانـدې کړي.

ځینـې نـور ځوانـان، چـې د امان‌اللـه مـشر زوی هـم پـه کـې و، په دې وروسـتیو کلونـو کـې راغلـل زمـوږ په لیسـو کې یـې زده کړې وکړې، په «سـن سـیر» (د فرانسـې حـربي ښـوونځي) کـې او پـه پولیتخنیـک کـې یـې سـتاژونه وکـړل، ډېـرو افسرانو او هوابازانـو زمـوږ پـه تخصصي تعلیمـي مرکزونو کـې اوږدې میاشـتې تېرې کـړې دي، ځـوان ډاکټـران زموږ د طـب پوهنځیو او لابراتوارونـو ته راغلي. که د پوهنـې د وزیر او پـه خپلـه د پاچـا خبرو ته وګـورو نو لاډېـر ځوانان به فرانسـې ته د یـوې فکري چرګۍ پـه توګـه را شي. مـوږ ولیدل چـې څرنګه یو سـاختماني انجنیر، چې پـه عین حال کې لرغونپـوه هـم دی، د دارالامـان د نـوي ښـار پـلان جـوړ کړ او په خـورا اسـتادۍ یې د

هغه تطبيق پيل کړ.

خو د دوارو هېوادونو ستر ګډ کار چې په خورا بريالۍ او ګټوره توګه سر ته ورسېد هغه د لرغونپېژندنې په برخه کې همکاري وه چې دا اته کاله کېږي چې روانه ده. په ۱۹۲۲ کې پروفيسر الفرد فوشې د افغانستان له حکومت سره يو تړون لاسليک کړ چې له مخې يې افغان حکومت د فرانسې ماموريت ته د دېرشو کالو لپاره د افغانستان په خاوره کې د کيندنو انحصاري حق ورکوي. ميندل شوي هنري اثار نيم په نيمه د دوارو هېوادونو تر منځ وېشل کېږي، يوازې هغه اثار چې يوازې يوه نمونه لري، د کابل موزيم ته ځانګړي کېږي.

د زرو زحمتونو په بيه، او سره له دې چې بودجه يې له بده مرغه ډېره لږه ده (خو د فرانسې پوهان له کمې بودجې سره عادت دي) او د کار ځواک يې محدود دی د «فوشې-ګودار» او «هاکن-برتو» ماموريتونو د ستاينې وړ توکي پيدا کړل چې دا ښکاره کوي چې څرنګه هنرونه او مدنيتونه، لمړي مذهبونه، په دغې بټۍ کې چې د افغانستان غرونه دي، سره يو ځای شول، سره مله شول او سره ګډ شول.

ښاغلي رونې ګودار، د اسيا بې ساري بيانوونکي، په خپل وروستي کتاب «د بودا پر پلونو» کې، چې په حقيقت کې د ماجراوو يو ښکلی ناول دی، تل پاتې ځايونه، پنا شوي ښارونه او هنري اثار چې د معجزې په بڼه لا هم پاتې دي، را ژوندي کوي.

دلته په ډېره کې کيندل شوي، د باميانو ستر بوداګان چې په سيمه کې د يوناني هنر بې ساري پاتې شوني دي، لوړې ديوالي نقاشۍ، د پارسي ميناتوريو له اتلانو او د ساساني لړۍ د ډېره ورو پاچاهانو (چې تاجونه يې په لمر او سپوږمۍ ښکلل شوي)، د ګندهارا بوداګانو او هندي راهبانو سره يو ځای کېږي. دلته پخوانۍ کاپيسا، د اوسني افغانستان يوه ټوټه چې د کابل شمال ته پرته ده، د هندوکش پر مهمو درو او پر هغې تجارتي لويې لار چې هند او باختر سره وصلوي حاکمه ده. دلته هغه عجايب دي چې برتو د اوسني جلال باد ګرمو درو کې، په هډه کې وموندل. دا اثار چې د ګيمې موزيم کې په ۱۹۲۸ کې ننداري ته کښېښودل شول، د برتو په وينا «په غير مترقبه، او ډېر زړه راښکونکي ډول د يو نوي هنر څرګندونه کوي چې تر اوسه موندل شويو يوناني-باختري اثارو يې څرک هم نه ښکاره کاوه.

د هغې کوچنۍ مجسمې ډېرې ځانګړې څېرې را ښکاره کوي. د پخوانيو پارسيانو خولۍ لرونکي سرونه، د ګول د خلکو په څېره د «اندو-سيتيانو» روښانه انځورونه چې اوږده ځوړند برېتونه په کې ښکاري، منګولي څېرې، له پيتو پوزو او راوتليو غومبرو سره.

او د نه منلو خبره خو دا ده چې دا ټولې څېرې داسې دي لکه د کوم «ګوتيک» تېرو توږونکي له مغزو چې راوتلي وي: د ملنګانو سرونه؛ کاريکاتور شوي شيطانان؛ بېرور پاچايان او روحانيون؛ د راهبانو سرونه؛ روحاني، ساده پرېښتې چې د رمس موسکاوې در په زړه کوي؛ نورې پرېښتې چې لاسونه يې په څومره نزاکت او ساده ګۍ سره په ژوره مذهبي تلوسه داسې يوځای نيولی چې ته به وايې چې زموږ د وطن دي.

دا ټول اثار د افغانستان په دغو درو کې د دې ګواهي لي چې دلته يوناني-باختري مړاوی شوی هنر بېرته راژوندی شوی، نوې سا په کې پوکل شوې، د يو ډېر پاخه نوښت نخښې په کې ښکاري.

د لرغونپېژندنې په برخه کې د افغانستان او فرانسې همکارۍ، نه يوازې دا چې د دواړو هېوادونو موزيمونه يې شتمن کړي دي، د نړۍ پر هنري شتمنيو يې هم ډېر ناپېژندل شوي غمي ورزيات کړي دي. هغه کيندنې چې ډېر ژر به په باميانو کې د هاکن د ماموريت له خوا پيل شي، په ډاډ سره ويلای شو چې په زړه پورې نوې خوښۍ او نوې حيرانتياوې به را په برخه کړي.

په تکرار سره وايو چې فرانسه په دغه اخلاقي او فکري ډګر کې يو ستر نقش لري او دا نقش د فرانسې له شان سره سم دی.

فرانسه بايد دا کار وکړي، دا پرې د امان‌الله پور هم دی چې د دواړو هېوادونو تر منځ د باور او دوستانه اړيکو له پاره يې زحمتونه وګالل او د نوي پاچا حق هم دی چې د مينې او دوستۍ دومره ګرم پيغام يې راورساوه او د هغه ډېرو افغان دوستانو حق هم دی چې په هره ممکنه موقع کې دومره زړه ګرموونکې مينه څرګندوي. او بالاخره فرانسه بايد دا کار وکړي، د هغه مدنيت جوړونکي ماموريت په نامه چې په ټوله نړۍ کې يې په حقه، او په عزت، خپل بللی دی.